د افغانستان اسلامي جمهوريت

د پوهنې وزارت

دتخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت

د ښوونيز نصاب د پراختيا رياست

د کتابونو د تألیف لوی مديريت

# اسلامي ثقافت

## (داسلام ټولنيز نظام)

ځوارلسم: ټولګی

دويم:سمستر



را ټولوونکی: نصرت الله (رحيمي)

کال: ۱۳۹۲

# کتاب پیژندنه

**د کتاب نوم:** د اسلام ټولنیز نظام

**څانګه:** عمومي

راټولوونکی او ترتیب کوونکی: نصرت الله (رحیمي)

**دځار کمېټه**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رئیس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار
- عبد القادر فضلي د کتابونو د تألیف سرپرست عمومي مدیر

**د تصحیح کمېټه:**

- رفیع الله ( صافی)
- روح الله ( هوتک)
- احسان الحق ( فقیري)
- قاضي عبد الودود (محمدي)

د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسؤل:

**کمپوزر:** رفیع الله ( رحیمي)


د چاپ کال:

تیراژ:

ویب پاڼه:

برېښنالیک: Nasrat.rahimi۹۹@yahoo.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی


بسم الله الرحمن الرحيم
١٤٠٣

# سریزه

**الْحَمْدُ لِلهِ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ ، الطَّيِّبِينَ الطَّاهِرِينَ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بعَقِيدَ تِهِمْ وَأَعْمَالِهِمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمَ الدِّين.امابعد!**

الله تعالی د انسانانو د ژوند تیرولو لپاره د ژوند په هر برخه کې ځانګړي نظامونه غوره کړي دي تر څو انسانان د دغو نظامونه تر سیوری لاندې ژوند تیر کړي. د اسلام مبارک د دین د نظامونه څخه یو هم د اسلام ټولنیز نظام دی او د دغه نظام بنسټیزه ډېره دا مفکوره ده چې د نړۍ ټول انسانان له یوه نسله څخه دي، لکه په دې آیت شریف الله تعالی فرمایلي دي:((**يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً ...**)) [1] ژباړه: ای خلکو! د خپل هغه رب څخه وډار شئ (عصیان ترې مه کوئ) چې تاسو یې د یو نفس (آدام علیه السلام) څخه پیدا کړي یاست او د همدغه نفس (آدم علیه السلام) څخه د ده جوړه (بي بي حوا رضي الله عنها) هم پیدا کړې ده، او د دوی دواړو څخه یې ډېر نارینه او (ډېرې) ښځېنه خواره واره کړي دي.

الله تعالی تر ټولو د مخه یوه انساني جوړه (حضرت آدم علیه السلام او بي بي حوا رضي الله عنها) پیدا کړه او بیا یې له داوړه څخه بشري توکم خپور کړ په پیل کې تر یو وخته د دواړو اولادونو یو امت او په یوه دین او د یوې ژبې ښبنتنان ووخو څومره چې د دوی شمیر زیاتیده پر ځمکه کې خپریدل د دې خپریدلو پایله دا وه چې په بیلا بیلو نسلونو، قومونو، او قبیلو وویشل شول، د هغوی ژبې لباس او د ژوند لارې چارې سره جلا شوې ځای اوبو او هوا د دوی رنګونو او قامت ته هم بدلونه ور وبښلو دغه ټول اختلافات ؤ چې واقعیت په نړۍ کې اوس هم شتون لري له همدې امله یې د اسلام مبارک دین یې دیو واقعیت په توګه مني، د اسلام مبارک دین د دغه واقعیت ړنګول نه غواړي بلکې له دې څخه ګټه پورته کوي او هغه دا چې د انسان خپل مینځي تعارف او پیژندګلوي په همدې صورت کیدای شي. مګر د اختلافاتو پر بنسټ په انسانانو کې چې ورروسته د قوم رنګ، ژبې، او وطن پرستي تعصبونه را منځ ته شول هغه ټول ناسم او ناروا وګڼل، اسلام بشریت ته دا په ډاګه اعلانوي چې تاسې ټول د یو مور او پلار اولاد یاست ، نو له همدې امله تاسې یو پر بل کوم فضلیت نه لري او ټول سره ورونه او په انساني حیثیت کې سره برابر یاست مګر که فضلیت لري هم هغه به د تقوا پر بنسټ وي نه د قوم او قبیلې په پر بنسټ.

---

[1] (النساء: ۱)

له نیکه مرغه په دې وروستیو وختونو کې د پوهنې وزارت د عالي مقاماتو د ځانګړې پاملرنې پربنسټ
چې د پوهنې د سطحې لوړتیا په اړه یې کړې او کوي یې او د پوهنې په ټولو چارو کې د ستاینې وړ پر
مختګ شوی چې د هغو په لړۍ کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره یو ډېر ښه جامع او له محتوٰی
ډک درسي نصاب جوړ شوی او د هغو د مفرداتو مطابق یې درسي کتابونه هم تالیف او تهیه کړي دي
او د اسلام د نظامونو د ارزښت په پربنسټ په همدې نوي درسي نصاب کې د زده کوونکو لپاره په
څلورم سمستر کې (د اسلام ټولنیز نظام) په نوم مضمون هم شامل شوی او په پام کې ده چې درسي
کتابونه یې هم تالیف او تهیه شي .
البته د دې کتاب ټول څپرکي په همغو موضوعاتو مشتمل دي چې په همدې نوي درسي نصاب کې
ورته ټاکل شوي دي، الله تعالی دې زما ټولې هغه هڅې چې د دی کتاب په لیکلو کې مې سرته رسولې
او د ټولو ملګرو چې هر ډول همکاري یې را سره کړې ده په خپل دربار کې قبول او په دغو مسائلو
دعمل کولو توفیق را په برخه کړي، او هیله مندیم چې د ګرانو زده کوونکو او نورو مسلمانانو د
استفادې وړ وګرځي.که په نوموړي کتاب کې کومه سهوه، خطاء، کمي، زیاتی یا نمګړتیا موجوده وي
له لوستونکو څخه په ډېر احترام غوښتنه کوم چې د خپلو خطاګانو ته مې ځیر او را ته په ګوته یې
کړي. وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله و صحبه اجمعین.

نصرت الله (رحیمي)
د چک د کثیر الرشتوي انسټیټوټ
د اسلامي ثقافت دځانګې استاد

## لړ ليك

سرليك ........................................................................صفحه

**د ټولنيز نظام مفهوم............................................................................ ۱**
**په اسلام کې د ټولنيز نظام اصول او بنسټونه..................................................... ۲**
**د اسلام د ټولنيز نظام ځانګړتياوې:............................................................. ۹**
**د اسلام د ټولنيز نظام موخې: .................................................................. ۱۸**
**د لومړي څپرکي لنډيز........................................................................... ۲۳**
**د اسلام له نظره د اسلامي ټولنې جوړښت.......................................................... ۲۵**
**د اسلام په ټولنيز نظام کې د فرد (وګړي) جوړښت: ............................................... ۲۵**
**د اسلام په ټولنيز نظام کې د کورنۍ جوړښت........................................................ ۲۷**
**انتخاب (ټاکنه) او د هغې شرطونه او آداب ........................................................ ۳۰**
**نکاح: ........................................................................................... ۳۳**
**د نکاح محرمات.................................................................................. ۳۹**
**د نکاح اثرات او پايلې: ......................................................................... ۴۴**
**د دويم څپرکي لنډيز............................................................................. ۵۹**
**دکورنيو د انحلال (له منځه تللو) سببونه .......................................................... ۶۴**
**د دريم څپرکي لنډيز............................................................................. ۹۰**
**ټولنيزې اړيکې او آداب........................................................................... ۹۳**
**۳ـ د فرد اړيکه د ټولنې سره ..................................................................... ۱۰۰**
**د ټولنې په اصلاح کې د فرد مسؤليت .............................................................. ۱۰۳**
**د څلورم څپرکي لنډيز............................................................................ ۱۱۰**
**فکري بې لارۍ: ................................................................................. ۱۱۳**
**فحشا او لوڅوالى ................................................................................ ۱۱۸**
**موسيقي او نڅا .................................................................................. ۱۲۱**
**د پنځم څپرکي لنډيز............................................................................. ۱۲۲**
**مأخذونه ........................................................................................ ۱۲۴**

د کتاب ټولیزه موخه:

په اسلامي ټولنه کې د ټولنیزو اړیکو پېژندنه

# لومړی څپرکی
# د ټولنیز نظام مفهوم

**ټولیزه موخه:**
دټولنیز نظام د مفهوم پېژندنه

**ښوونیزې موخې**: د دې څپرکي په پای کې به زده کوونکي وکولای شي چې:
- د اسلام د ټولنیز نظام مفهوم وپېژني.
- د اسلام د ټولنیز نظام تعریف وکولای شي.
- د اسلام د ټولنیز نظام اصول او بنسټونه وپېژني.
- د اسلام د ټولنیز نظام موخې وپېژني.

## سریزه

هر مسلمان پر دې باور لري چې الله تعالی زمونږ پیدا کوونکی او څښتن دی، د بشر د لارښوونې لپاره یې وخت پر وخت پیغمبران را استولي، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تر ټولو وروستی پیغمبر دی، چې د اسلام کامل دین یې راوړی څو خلکو ته سمه عقیده، غوره اخلاق، او د ژوندانه د هرې برخې لارې چارې وښیي او حلال او حرام ورته بیان کړي.

اسلام د ژوندانه ټولو برخو ته ورشامل دی، لکه څرنګه چې یې باورونه، خویونه، او عبادات بیان کړي، همدا ډول د کورني ژوند، سیاست اقتصاد امنیت، تعلیم او د ژوند د ټولو برخو لپاره ځانګړی نظام لري.
په هر مسلمان لازمه ده چې د اسلام ټولې برخې وپېژني، باور پرې ولري او عمل ورباندې وکړي.

## دټولنیز نظام تعریف

د اسلام اجتماعي(ټولنیز) نظام مرکب له دووکلمو څخه دی: نظام او اجتماع (ټولنیز) چې هر یو په لاندې ډول دی.

**نظام په لغت کې**: د نظم له کلمې نه اخیستل شوې کلمه ده، چې لاندې معناګانې لري:

**۱ـ د جمعې، تألیف، او ترتیب په معنا دی**: عرب وایي: ( **نَظَمْتُ الجواهِرَ فی السِلکِ** ) (ترتیب او جمع مې کړل، دجواهرو دانې په تارکې). نو په همدې بنسټ هر شی چې جمع،ترتیب، او تألیف شي د نظم کلمه ورته استعمالیږي.

**۲ـ د طریقې، روش او عادت په معنا دی: ( مَازَالَ علی نِظَامٍ واحدٍ )** یعنې: اوس هم په پخواني عادت او طریقه باندې دي.

**۳ـ د هدایت او استقامت په معنا دی: (لَیْسَ لأَمْرِهِمْ نِظَامٌ )** یعنې: په خپلو چارو او امورو کې هدایت او استقامت نه لري.

**نظام په اصطلاح کې:** نظام د هغو قوانینو مجموعه ده چې ټول فکري، عقیدتي، سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، تعلیمي، تربیوي امور او داسې نور ترتیب او برابروي.

**داجتماع تعریف:** اجتماع یوه عربي کلمه ده چې د جمع څخه اخیستل شوې ده په معنا دیو ځای والی، ګډوالی، د جدا والي او نفاق ضد ده، او په پښتو کې د ټولنیزې کلمې په معنی ده.

**د اسلام د ټولنیز نظام تعریف:** عبارت دی د یو شمېر قواعدو او مقرراتو څخه چې د مسلمانانو ټولنیزې اړیکې د اسلامي شریعت په چوکات کې تنظیموي.

## په اسلام کې د ټولنیز نظام اصول او بنسټونه

څرنګه چې د یوې ټولنې لپاره منظم صحیح نظام ضروري ګڼل کیږي نو اړینه ده چې نظام به اصول، قواعد او قوانین ولري چې د انسانانو لپاره قانع کوونکي وي.

د اسلام په مبارک دین کې د ټولنیز نظام اصل او بنسټ اسلامي عقیده ده او یوازې عقیدتي چارې دي چې تر څو انسان د خپل ژوند مرکزیت او بنسټ وپیژني، چې د هغو لپاره پیدا شوي دي، همدارنګه عقیده د انسان افکارو، سلوکو او ټولو تصرفاتو ته متوجه ده او په ټولو چاروکې دا شان عقیده لازمه ده، له دغه عقیدې څخه خالي کیدل ممکن نه دي، لکه څرنګه چې انسان په طبیعي ډول یو ټولنیز موجود دي، نو ښکاره خبره ده چې د اسلامي عقیدې درلودل واجب دي، بل دا چې د اسلامي ټولنې د بنسټ او نظام لپاره اسلامي عقیده لازمه ده، ترڅو وګړي یې ددغې عقیدې په رڼا کې ټولې چارې مخته یوسي.

او په دې باندې دا مرتب کیږي، هر هغه څوک چې له ځان سره دغه عقیده لري خپل دین یې ګڼي او په غوښتنه یې د ټولنې د بقا (پایښت) غرضونه سرته رسوي او له ښېګڼو یې خوند اخلي، که نوموړی کس د هر جنس، نوع، رنګ، ژبې، اقلیم، او کسب خاوند هم وي، حقیقت دا دی چې په دغه اساس باندې د اسلام پرمختګ لازمي دی، څو بشري ټولنه را منځته شي، په بشري تاریخ کې عقیده لویه او یوازېنې پیښه وه، د اسلام څخه مخکې د ټولنیز نظام اصل او بنسټ جنس، قبیله، قوم او جغرافیوي

مرزونه پيژندلي ؤ.چې په دې سره ټول انساني كرامتونه تر پښو لاندې شوي ؤ. چې تيرى، بغاوت او د انسان آبرو او عزت تويېدل ترينه وزېږېدل، كله چې د اسلام مبارك دين دغه نوى اساس (بنسټ) د ټولنې د نظام د بنا كولو لپاره راوړلو، نو همدارنګه په بشري ژوند كې يې لوى بدلون راوست، اسلام دغه اساس دانسان دكرامت، او په خپلو ځايونو كې د امورو ايښودلو لپاره راوړلو، نو له انسان سره نه ښايي، چې خپله ټولنه د جنس، قبيلې او اقليم پر اساس جوړه كړي، خو اسلام دغه باطله مفكوره رد كړې ده، لكه په دې آيت شريف كي:((**يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً** ...)). [1]

ژباړه: اى خلكو! د خپل هغه رب څخه وډار شئ (عصيان ترې مه كوئ) چې تاسو يې د يو نفس (آدم عليه السلام) څخه پيدا كړي ياست او د همدغه نفس (آدم عليه السلام) څخه د ده جوړه (بي بي حوا رضي الله عنها) هم پيدا كړې ده، او د دوى دواړو څخه يې ډېر نارينه او (ډېرې) ښځينه خواره واره كړي دي.

همدارنګه په حديث شريف كې راځي: « **أَنْتُمْ بَنُو آدَمَ وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ** » [2].

يعني: تاسې د آدم زامن ياست او آدم د خاورې څخه پيدا شوي دى. د بشري ټولنې لپاره اقليم اساس نيول معنا نه لري، ځكه الله عزوجل ځمكه د خلكو لپاره پيدا كړې، نو همدغه ځمكه د دوى اقليم او وطن اود ټولو خلكو ګډ كور دى الله تعالى فرمايي:(( **وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ**)) [3].

ژباړه: او ځمكه غوړولې ټيټه كړې ده (الله) د خلكو لپاره. همدارنګه جنس، قبيله، يو هم د بشري ټولنې لپاره اساس نه شي كيداى.

## د ټولنيز نظام لپاره د اسلامي عقيدې د بنسټ ګرځولو پايلې:

**١ـ ايماني تړاو:** اسلام د اسلامي عقيدې پر بنسټ باندې ټول مسلمانان ديني ورونه ګڼي الله تعالى د ورور ګلوئ په اړه داسې فرمايلي دي:(( **إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ**)). [4]

---

١ (النساء: ١)
٢ (سنن أبى داود - (ج٤ /ص ٤٩٢).
٣ (الرحمن: ١٠)
٤ (الحجرات: ١٠) .

ژباړه: بې شکه ټول مؤمنان (ديني) وروڼه دي نو تاسو د خپلو دوو وروڼو ترمنځ صلحه وکړئ، او د الله جل جلاله څخه وډار شئ شايد چې رحم (مهرباني) درباندې وکړی شي (له جانبه د الله).

يعنې: يقيناً ټول مؤمنان ديني وروڼه دي، په عارضي جګړو سره يې ديني ورور ولي له منځه نه ځي، حال دا چې دواړو خواوو له جګړو څخه لاس اخستی دی او ستاسو منځګړيتوب (جرګې) ته راجع شوي دي، نو داسې يې وګڼئ چې تاسو د دوه وروڼو تر منځ فيصله کوئ نه د دوه وو د ښمنانو تر منځ يا په بل عبارت: تاسو په نظر کې ولرئ چې د دواړو لورو عارضي دښمني ختمه کړئ او پخوانی وروروله يې ترمنځ بيرته رامنځته کړي.

په دې باندې علاوه، تاسو اميد وکړئ چې دغه صورت کې به په تاسو باندې د الله جل جلاله د پلوه مهرباني او رحمت وکړی شي او د ډېرې ښې فيصلې توان به درکړي شي.

**اسلامي ورور ولي څه ته وايي؟**

((**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ**...)) دا جمله په ډېرو احاديثو کې ياده شوې ده، چې د هغو له جملې څخه لاندې احاديث را اخلو، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرماي: « **الْمُؤْمِنُ مِرْآةُ الْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنُ أَخُو الْمُؤْمِنِ يَكُفُّ عَلَيْهِ ضَيْعَتَهُ وَيَحُوطُهُ مِنْ وَرَائِهِ** ». [1]

ژباړه: (په اخلاص) يو مؤمن د بل مؤمن آينه ده (چې ټګي ور سره نه کوي) او يو مؤمن د بل مؤمن ورور دی چې ضائع کېدونکی شی ورباندې را بندوي (ضائع ته يې نه پرېږدي) او چار چاپېر يې احاطه کوي (په غياب کې يې حفاظت کوي).

همدارنګه په بل حديث شريف کې راغلي دي:« **عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:** « ... **الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يَخْذُلُهُ وَلاَ يَحْقِرُهُ. التَّقْوَى هَا هُنَا** ». **وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ** « **بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ** ». [2]

ژباړه: ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: مسلمان د مسلمان ورور دی، نه پخپله ورباندې ظلم کوي، او نه يې د مظلوميت پر مهال بې ملاتړه پرېږدي، او نه هغه سپکوي. د حديث شريف راوي ابوهريره رضى الله عنه وايي چې په دې وخت کې پيغمبر صلى الله

---

١ (سنن أبی داود - (ج٤ / ص٤٣٢)
٢ (صحيح مسلم - (ج٨ / ص١٠).

عليه وسلم خپلې سينې ته اشاره وکړه او درې ځلې يې وفرمايل: تقوی په دې ځای کې ده د يو چا د بدوالي لپاره همدا کافی ده چې خپل مسلمان ورور سپک کړي، او د هر مسلمان وينه، مال او آبرو پر بل مسلمان باندې حرام دي.

وروروګلوي، مرسته او همکاري يو بل ته درناوی د نورور خلکو پر نفس، مال او آبرو له ظلم او تيري څخه ځان ساتل، له مظلوم څخه دفاع او له الله تعالی څخه وېره د يوې سالمې ټولنې له اساساتو څخه دي، او له دې پرته په ټولنه کې د نظم راوستل اصلاً ممکن نه دي. ځکه خو پيغمبر صلی الله عليه وسلم په خپلو ښايسته عبارتونوکې پورتني پراخه مفاهم او مطالب بيان کړي دي، چې لاندې ګټې ترې ثابتيږي:

**۱ـ اسلامي وروروګلوي:**

يو مسلمان د بل مسلما ن ورور دی البته نارينه د نورو وروڼه او ښځينه د نورو خويندې ګڼل کيږي، هر کله چې ټول سره وروڼه او خويندې شول نو لازمه ده هغه حقوق او وجايب چې، وروڼه او خويندې يې يو دبل په وړاندې لري د خپل توان په اندازه رعايت کړي.

**۲ـ د ظلم حراموالی:**

ظلم د حق پايمالولو ته وايي، هر ډول تيری او ناحقه لاس وهنې ته ويل کيږي، ظلم که هر رنګ او هره بهانه وي حرام دی.

**۳ـ له مظلوم او ناچاره څخه دفاع کول:**

هر مسلمان انسان ته لازمه ده چې، خپل مسلمان ورور د ناچارۍ او مظلوميت په حال کې يواځې پرې نږدي بلکې ملاتړ او دفاع ترې وکړي.

**۴ـ د مسلمان ورور له سپکاوي او بې عزتي څخه منع:**

د مسلمان ورور سپکاوي او ذليلول حرام دي، هيڅوک حق نه لري چې د خپل مسلمان ورور عيب د سپکاوي په خاطر په مجلس کې بيان کړي او يا مسخرې پرې وکړي.

**۵ ـ د مسلمان درناوی:**

مسلمان بايد د نورو مسلمانانو درناوی وکړي، تر څو هغوی يې هم درناوی او عزت وکړي.

**۶ـ د مسلمان تقوا د زړه تقوا ده:**

ځکه که په باطن کې له الله تعالی څخه ويره نه وي او نيت يې بل څه وي، د انسان ټولې کړنې په ريا او نفاق بدليږي.

**۷ـ د نورو په نفس،مال او آبرو باندې تیری کول حرام دي:**
په اسلامي ټولنه کې د انسانانو نفس، مال، آبرو، او عفت خوندي وي هر ډول تیری وربانديې حرام او ناروا دی.
اسلام غیر مسلم ته د همکارۍ بلنه ورکوي لکه چې الله فرمايي:((...**وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلاَّ تَعْدِلُواْ اِعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ**...)).[۱]
ژباړه: او په تاسو باندې دې د یوه قوم سره دښمني د دې باعث نه شي چې تاسو عدل ونه کړئ، (ای مؤمنانو!) تاسو عدل وکړئ، دا عدل پرهېزګارۍ ته ډېر نژدې دی(سړی متقي جوړوي).
یعنې: د خپلو دښمنانو په باره کې هم انصاف څخه تېرنه شئ چې د هغوی سره کینه دربانديې د دې باعث شي چې عدالت د پښو لاندې کړئ.[۲]
**۲ـ تعصب له منځه وړل:** مراد له تعصب څخه هغه ناوړه اخلاق دي چې د کوم مقصد لپاره تر سره کيږي د بېلګې په توګه یو شخص په یو قوم پورې منسوب وي او له دغه قوم څخه په حق او باطل کې مرسته او همکاري کوي، عصبیت په دې مفهوم سره په عربو کې مخکې له اسلام څخه زیات تیت وو، خو د اسلام مبارک دین په راتګ سره دغه عصبیت له منځه لاړ او مردود وګڼل شو او امر یې وکړ چې دا ډول فکر باید څوک ونه لري بلکې مسلمانان یو بل سره دیني وروڼه دي.
**تعصب په لغت کې**:دفاع کولو ته وايي. او په اصطلاح کې په نا مناسب او نا معقول ډول دفاع ته تعصب وايي.
په اسلام کې تعصب هغه که د قوم د پاره وي، د سمت د پاره وي د ډلې دپاره وي حرام دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې هکله فرمايلي: « **لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَىٰ عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَىٰ عَصَبِيَّةٍ** ».[۳]
یعنې: هغه څوک له مونږ څخه نه دی چه خلک قومیت ته رابولي اوهغه څوک له مونږ څخه نه دی چه په دغه منظورجګړه کوي اوهغه څوک له مونږ څخه نه دی چه په همدې مفکوره مړ شي.
همدارنګه مسلم شریف دیوه حدیث شریف روایت نقل کړی دی چې: (څوک چې د تعصب غوښتنې تر بېرغ لاندې یا د تعصب د مدد د پاره مړ شي مرګ یې د جاهلیت دی)[٤].

۱ (المائدة: ۸).
۲ عزیز التفاسیر ج ۳ ص ۴۹۰.
۳ (سنن أبی داود - (ج٤ / ص٤٩٤) .
٤ (رواه مسلم).

مطلب دا چې په ناحقه د خپلې ډلې، خپل قوم او خپل سمت په طرف کې دريدل تعصب دی.
او دا ځکه ډير ناوړه عمل دی چې که يو کس ظالم او غير حق هم وي د خپلې ډلې، خپل قوم او خپل سمت په خاطر د هغه مرسته کوي، د ظالم مرسته کوي او پر حق باندې ور خيژي.

### ۳ـ تقوا (ويره له الله تعالى څخه) د خلکو ترمنځ د غوره والي معيار دی:

د عصبيت له منځه تللو سره د هغې نتايج هم له منځه ځي، چې د هغې له کتار څخه له يو بل څخه په په قومونو، نسبونو او ورستو هڅوکو باندې فخر کول دي. يوې معينې قبيلې ته د يو فرد نسبت کول، فخر، غوره توب او دمنزلت او چتوالي ته بلونکی نه جوړيږي، ځکه د انسان د غوره والي او ميعنې قبيلې ته د هغه د منسوبيدلو تر منځ اړيکې شته، بلکه غوره لار دا ده، چې د انسان غوره توب د هغه څه په اندازه وي، چې دی يې له ځان سره لري. دا ټول تقوا ثابتوي، نو له همدغه ځايه په اسلام کې له يو بل څخه د غوره کيدو اساس تقوا ده، خو قبيلو ته منسوب کيدل يوازې د پيژندګلوي په خاطر دی، لکه ديو انسان منسوب کيدل معينې قبيلې، معين کسب، معين کور او معين نوم باندې نومولو ته، د منسوبيدلو او نومولو څخه موخه پيژندګلوي ده او منسوب کيدل يو قوم او قبيلې ته د يو د بل په پيژندګلوي کې مرسته کوي. لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايلي دي: (( **يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ**)).(١)

ژباړه: ای خلکو ! مونږ تاسو د يوه نارينه «آدم عليه السلام» او د يوې ښځې « حواء رضي الله عنها» څخه پيدا کړي ياست، او تاسو مو ډيرې څانګې او قبيلې د دې دپاره ګرځولي ياست تر څو تاسو يو تر بله وپيژنئ. يقيناً د الله جل جلاله په نزد ستاسو ډير معزز ستاسو زيات تقوا لرونکي دي (نو تاسو په نسب فخر مه کوئ بلکې تقوی خپله کړئ)، بې شکه الله جل جلاله په هر شي پوه (او) خبردار دی.
يعنې: ای پيغمبره ! ټول خلک (د الله جل جلاله د پلوه)مخاطب کړه او ورته ووايه چې:
**الف:** ای خلکو! تاسو د پيدايښت په لحاظ ځينې په ځينو نورو باندې هيڅ فضيليت نه لرئ، او دا ځکه چې مونږ تاسو ټول ديوه نارينه (آدم عليه السلام) او يوې ښځې (حواء رضي الله عنها) څخه پيدا کړي ياست، ستاسو ټولو اصل يو دی، نو يو قوم بل قوم ته سپک نظر مه کوئ او په نسبونو باندې فخر مه کوئ:

---
١ (الحجرات: ١٣).

**ب:** مونږ د دې لپاره تاسو ډلې او قبیلې نه یې ګرځولي چې ستاسو د افتخار سبب وګرځي بلکې د دې دپاره مو په دغو نومونو باندې ویشلي یاست، تر څو تاسو سره یو تر بله وپېژنئ او په راکړه او ورکړه کې درته په درد وخوري.

لنډه دا چې د الله جل جلاله په نزد یوه قبیله او یو قوم په بلې قبیلې او بل قوم باندې هیڅ فضیلت نه لري، بلکې د الله په نزد هغه څوک ډېر معزز دي چې د خپل رب الله جل جلاله څخه ډېر ویرېږي، نور نو د هرقوم څخه چې وي، وي به، په همدې بنیاد که تاسو بالفرض فخر کوئ نو په تقوی سره فخر وکړئ نه په نسبونو سره. یقیناً الله جل جلاله په تاسو او ستاسو په اعمالو باندې پوره علم لري او ستاسو په ټولو حالاتو باندې باخبره دی.

**د ځینو کلمو معنا:**

**شعوب**: د خلکو هغه ډېره لویه ډله چې په یوه پلار را غونډ یږي.

**قبائل**: دیوه پلار اولاده چې شعب څخه ښکته وي په «**قَبیلة**» سره نومول کیږي چې جمعه یې « **قبائل**» ده.

**تعارف:** یو تر بل د پېژندلو معنی ورکوي. دغه ډول پېژندل «نسب» د ډېرو مطالبو سبب جوړیږي، که چیرې د انسانانو تر منځ دا پېژندنه نه واي، په معاملاتو او راکړه ورکړه کې به یې ستونزې درلودې او بل که چیرې په نسب سره پېژندلو شتون نه درلودی نو په دوی کې به د زړه سوي او صله رحمی لمن هم ټوله شوې وي.

همدارنګه له ابو ذر غفاري رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ:« اِنَّکَ لَسْتَ بِخَيْرٍ مِنْ أَحْمَرَ وَلاَ أَسْوَدَ إِلاَّ أَنْ تَفْضُلَهُ بِتَقْوَى** ».(۱)

ژباړه: له ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل: چې ته نه یې بهتره پر سره رنګ لرونکي (انسان) باندې او نه پر تور رنګ لرونکي (انسان) باندې، مګر دا چې ته بهتري پیدا کړې (پر بل انسان باندې) په تقوا سره.

---

۱ (مشکوة المصابیح ج۲ ص ۴۴۳.)

د انسانانو د بهترۍ او فضیلت د پیژندنې لپاره، یوازې تقوا ده او دا داسې لوړ معیار دی چې رسیدو ته یې هر مؤمن انسان هیله لري، له یو بل سره سیالي کوي، له دې فضیلت څخه هیڅ مانع کوونکی موجود نه دی، لکه فقر، رنګ، نارینه توب، ښځینه توب، د نسبت بې کارتوب، کمزورتیا او داسې نور.
همدرانګه که تقوا ترینه پورته شي، انسان د نسب شرافت، د مال ډیروالی، د سلطنت پراختیا، د اولاد ډیروالی، د ژبې فصاحت، د پیروانو ډیروالی او د صورت ښایست نه شي اوچتوالی او رسول کریم صلی الله علیه وسلم دغه امورو ته په خپل لنډ او بلیغ قول سره اشاره کوي: (څوك چې عمل یې ورو کړي نسب یې نه شي ګړندی کولای). د نسب یادونه کې نورو هغه شیانو ته اشاره ده، چې د شخص په جوړولو او د هغه د فضیلت د پیژندلو په اندازه پورې تړاو، لري.

## د اسلام د ټولنیز نظام ځانګړتیاوې:

لکه څرنګه چې په اسلام کې د ټولنیز نظام اساس(بنسټ) اوهر هغه څه چې وربانديې مرتبیږي بیان شول، اوس د دغه نظام ځانګړتیاوې او څرګندې ښې بیانوو، او واقعیت دا دی چې نوموړی نظام له اساس څخه مشتق او یا وربانديې ولاړ دی (چې هغه اسلامي عقیده ده). د اسلام ټولنیز نظام مهمې ځانګړتیاوې په لاندې توګه ډول دي.

**لومړی: اخلاقو مراعات کول:**

د اخلاقو مقام په اسلام کې ډېر اوچت دی، د اسلام مبارك دین نسب ټولو نظامونو ته په اخلاقو کې لوړ مقام او منزلت لري، له هغې جملې څخه د اسلام ټولنیز نظام دی، چې په لاندې ډول یې ذکر کوو:
د اسلام اخلاقي نظام هڅه کوي چې ټولنه له ناوړه اخلاقو څخه وژغوري د بېلګې په توګه ځینې په لاندې ډول دي:

۱ـ زنا په اسلام کې حرامه ده او سزا یې دُرې، جلا وطني اویا رجم دی، او د اسلام مبارك دین د هغې د اسبابو د نژدیوالی څخه منع کړې ده، الله تعالی په دې هکله داسې فرمایي: ((**وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا**)).[1]

ژباړه: او زنا ته مه نژدې کیږئ بې شکه چې دا ډیر بې حیا کار او بده لاره ده.
یعنې: ای انسانانو تاسو د زنا څخه خپل ځانونه په کلکه وساتئ او د هغو د اسبابو څخه خپل ځانونه په څنګ کړئ کوم چې تاسو زنا ته ورنژدې کوي او دا ځکه چې:

[1] (الإسراء: ۳۲).

**الف:** زنا ډېره بې شرمه او بې حيا ګناه ده او په جنايت کې ډېره زياته ده او مفاسد يې هم زيات دي.
**ب:** دا ډېره بده لاره ده چې په دې لارې باندې تللو سره د دنيا نظام ګډوډېږي، حتی چې دا کار هيڅوک د خپل ځان دپاره نه خوښوي چې د ده د اقاربو او خپلوانو سره ترسره شي، نو بايد د نورو لپاره يې هم خوښ نه کړي.

**۲**ـ د يو چا په اړه بهتان چې کبيره ګناه ګڼل کيږي او يا غيبت د اسلام مبارک دين خپل پيروان له دغه ناوړه اخلاقو څخه منع کوي، لکه چې الله تعالی فرمايي: ((... **وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ**...)).[1]

يعنې: او تاسو پټ عيبونه مه لټوئ او ځينې د ځينو نورو په غياب کې عيبونه مه ذکر کوئ، ايا ستاسو يو کس خوښوي چې د خپل ورور غوښه په داسې حال کې وخوري چې هغه مړ وي؟ نو (ښکاره ده چې) تاسو دا (خوراک) نه خوښوئ.

**۳**ـ يو چا ته رد بد (ښکنځلې) ويل د اسلام مبارک دين کې منع دي او سزا تعزير دی.
پيغمبر صلی الله عليه وسلم په دې اړه فرمايلي دي: « **سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ** ».[2]

ژباړه: مسلمان ته بد رد (ښکنځلې) ويل ګناه ده او وژل يې کفر دی. همدا ډول پيغمبر صلی الله عليه وسلم په بل حديث شريف کې فرمايلي دي: « **لَعْنُ الْمُؤْمِنِ كَقَتْلِهِ** ».[3] په مؤمنانو باندې لعنت(بد رد) ويل د مؤمنانو د وژلو په ډول دي.

**۴**ـ قمار په اسلام کې د ټولو انواعو سره حرام دی، اسلامي ټولنه يې نه قبلوي، په دروغو شاهدي ورکول په اسلام کې له کبيره ګناهونو څخه شمېرل کيږي.

**۵**ـ نمامت(چُغلي) يو بد او ناروا کار دی او مسلمانان له دې کار څخه ويرول شوي دي، هر څوک چې دوه مسلمانان په جنګ اچوي او يا د دوی تر منځ خبري وړي او راوړي(چغلې) کوي هغه د شيطان ملګری دی او ډېر بد انسان دی پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (آيا په تاسو کې بدترين سړی در وښيم؟ صحابه ؤ وويل: ولې نه ای د خدای رسوله ! پيغمبر صلی الله عليه وسلم وويل(په تاسو کې بد ترين سړی هغه څوک دی چې چُغلي وړي راوړي د دوو ملګرو تر منځ بې اتفاقي کوي، د درواغو او تکليف کوشش کوي).

---

۱ (الحجرات ۱۲).
۲ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ: صحيح البخاري -(ج۱ / ص۲۷) صحيح مسلم -(ج۱ /ص ۵۷)
۳ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ: (صحيح البخاري -(ج۶ / ص۲۴۵۱) صحيح مسلم -(ج۱ / ص۷۳)

او همدارنګه په بل حدیث شریف کې راځي: **عَنْ حُذَيْفَةَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: « لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ »**[1].

ژباړه: له حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اورېدلي دي چې فرمایل به یې: چغل خور (نمام او شیطان شخص) به جنت ته داخل نه شي.

۶ـ تجسس په اسلام کې منع دی، الله تعالی په دې هکله داسې فرمایلي دي:((...**وَلَاتَجَسَّسُوا**...)) [2].

یعنې: او مه لټوئ تاسي پټ عیبونه د مسلمانانو.

همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې هکله داسې فرمایلي دي:« **وَلا تَحَسَّسُوا وَلا تَجَسَّسُوا وَلا تَبَاغَضُوا وَلا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا**».[3]

یعنې: ای مؤمنانو! او تاسو د خپل ځان د پوهولو د پاره (د خلکو عیبونه) مه پلټئ او د بل چا دپاره یې هم پلټنه مه کوئ، او هم تاسو یو تر بله بغض مه کوئ او یو بل ته شا مه وراړوئ (چې ناسته ولاړه سره پرېږدئ) او ای د الله جل جلاله بنده ګانو! تاسو ټول سره ورونه وګرځئ (چې یو په بل در دېږئ).

ټول هغه څه چې د ټولنې د وګړو تر منځ دښمني را منځته کوي منکرات دي، اسلام یې په ټولنیز نظام کې نه مني. معاملات باید په پاکۍ، ښه نیت او امانت سره سرته ورسول شي، په هغې کې فریب (دوکه)، بې لارې کیدل او د وګړو ترمنځ په هره معامله کې درواغ، خیانت، بې رحمي جایز نه دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې هکله فرمایلي دي: **عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ ، أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : « رَحِمَ اللَّهُ رَجُلا سَمْحًا إِذَا بَاعَ ، وَإِذَا اشْتَرَى ، وَإِذَا اقْتَضَى**».[4]

ژباړه: له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله جل جلاله دې پر هغه سړي رحم وکړي چې د خرڅولو، اخیستلو او د قرض غوښتلو پرمهال له نرمۍ څخه کار اخلي.

په اسلامي ټولنه کې ناوړه اخلاق پریښودل هیڅکله هم جایز نه دي، ځکه د اسلامي ټولنې نظم له منځه وړي، او که پاتې شي نور هم خپرېږي، له همدې کبله اسلام هغه څوک بد ګڼي چې دغه ناوړه اخلاق څرګندوي.

---

۱ (صحیح البخاري - (ج٥ / ص٢٢٥٠) (صحیح ابن حبان - (ج١٣ /ص ٧٨).
٢ (الحجرات: ١٢).
٣ (صحیح البخاري - (ج٦ / ص٢٤٧٤).
٤ (صحیح البخاري - (ج٢ /ص ٧٣٠).

د اسلام په ټولنیز نظام کې د اخلاقو د مراعات له نښو څخه د ټولنې د افرادو تر منځ مینه، تراحم او اُخوت دي، اسلام هغې ته بلنه کوي، ګڼ شمېر شرعي دلایل د مسلمانانو څخه په ټينګه غوښتنه کوي چې باید هر مسلمان د شفقت او رحم او اخوت په لباس پوښل شوی وي دلته ځینې یې د بېلګې په توګه په لاندې ډول دي:

د مینه کوونکي مؤمن په اړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:** « **الْمُؤْمِنُ مُؤْلَفٌ, وَلَا خَيْرَ فِيمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ**».[۱]

ژباړه: له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: مؤمن دمینې او الفت ځای دی او په هغه کې له سره خیر نشته چې نه مینه اونه الفت کوي او نه له هغه سره مینه او الفت کیږي.

همدارنګه په بل حدیث شریف کې راځي:« **مَنْ لاَ يَرْحَمِ النَّاسَ لاَ يَرْحَمْهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ**».[۲]

ژباړه: څوک چې خلکو باندې رحم نه کوي داسې تن باندې الله تعالی رحم نه کوي. همدارنګه په بل حدیث شریف کې راغلي دي:«... **ارْحَمُوا مَنْ فِي الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ**». [۳]

ژباړه: تاسې په هغه چا رحم وکړئ چې ځمکې کې دي نو په تاسې به رحم وکړي هغه ذات چې په اسمان کې دی.

د رحمت له معنا څخه جوته کیږي چې د زړه ناپاکي د انسان د بدبختۍ نښه ده، په حدیث شریف کې راځي: « **لاَ تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلاَّ مِنْ شَقِيٍّ** ».[٤] ژباړه: رحمت نه خارجیږي مګر له بدبخت څخه.

په اسلامي ټولنه کې په ماشومانو باندې رحم او شفقت د انسان د زړه د پاکوالي له نښو څخه ګڼل کیږي: « له ابي هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حسن بن علي په داسې وخت کې ښکول (ماچ) کړ چې تر څنګ یې اقرع بن حاس ناست وو، اقرع وویل زه لس زامن لرم یو مې هم نه دی ښکول (ماچ) کړی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « **من لا یرحم لا یرحم**» .

ژباړه: څوک چې رحم ونه کړې رحم ورباندې نه کیږي. په قرآن کریم کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د صحابه وو توصیف په داسې الفاظو شوی: ((**مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ** ...)). [۱]

---

١ (مسند أحمد - (ج١٥ /ص ١٠٦), سنن البيهقي الكبرى - (ج١٠ / ص٢٣٦).
٢ (صحيح مسلم - (ج٧ /ص ٧٧).
٣ شعب الإيمان - البيهقي - (٧ / ٤٧٦) في السماء الناشر : دار الكتب العلمية - بيروت الطبعة الأولى ، ١٤١٠).
٤ (سنن أبى داود - (ج٤ /ص ٤٤١).

ژباړه: محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله تعالی پیغمبر دی، او هغه کسان کوم چې د ده (رسول الله صلی الله علیه وسلم) سره (ملګري) دي (هغوی) په کفارو باندې سخت دي (او) په خپلو منځو کې (یو تربله) مهربانان دي.

د مسلمانانو تر منځ رحم د هغوی له اصلي صفاتو څخه ګڼل کیږي، او اسلامي ټولنه لکه یو جسد داسې ده، یعني کله چې دجسد یوه عضوه په درد وي نو ټول جسد ورسره نا آرامه وي، نو همدارنګه که دټولنې یو غړي په څه درد، مصیبت باندې اخته وي نوداسې ده لکه ټوله ټولنه چې په درد اخته وي.

د رحمت له جملې څخه په خیر باندې مرسته او همکاري کول دي او مرسته د نیکو اخلاقو له جملې څخه ده، څکه اسلام مرستې کولو ته بلنه کړې ده، الله تعالی فرمایلي دي: ((...**وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ** ...))[2].

ژباړه:او تاسو یو تر بله په نیکۍ او پرهیزګارۍ باندې مرسته وکړئ، او په ګناه او ظلم باندې یو تر بله کومک مه کوئ.

همدا شان مرسته دکورنی،ګاونډي، ملګرو او په سفرکې ملګري او یوازې کس ته هم شامليږي، همدارنګه یتیم، بې وزلو او اړتیا لرونکي ته په اسلامي ټولنه کې شامليږي الله تعالی فرمایلي دي: ((**وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ** ...)) [3].

ژباړه: او د الله جل جلاله بندګي وکړئ او هیڅ شی ورسره مه شریکوئ، او د مور او پلار سره نیکي وکړئ او هم د خپلوۍ د خاوند سره (نیکي وکړئ) او هم د یتیمانو سره او هم د مسکینانو سره او هم دګاونډي سره چې د خپلوۍ خاوند هم وي او هم د اجنبي ګاونډي سره او هم د داسې انډیوال سره چې په څنګ کې مو قرار لري او هم د لارې د بچي (مسافر) سره او هم د هغه چا سره چې ستاسو ښي لاسونه یې مالکان شوي وي (چې غلامان او وینځې دي).

یعني: ای مؤمنانو! تاسو ته توصیه کیږي چې ټول شریعت عملي کړئ او هر چا ته خپل حق ورکړئ.

د پورتني آیات شریف څخه لس ډوله حقونه ثابتیږي چې په لاندې ډول دي:

۱ـ خاص د الله تعالی بندګي وکړئ، واحد او لا شریک یې وګڼئ تر څو الله جل جلاله ستاسو ته توفیق درکړي چې د اسلام ټول احکام په عمل کې پیاده کړئ.

---

۱ (الفتح: ۲۹).
۲ (المائدة: ۲).
۳ (النساء: ۳٦) .

۲ـ د مور او پلار سره د زړه له کومې ښېګڼې کوئ ځکه ستاسو په روزنه کې دوی دواړو ډېر زيات روحي او بدني زيارونه ويستلي دي او ستاسو نېکيو ته سترګې په لار دي، نو د دوی اُميدونه د خاورو سره مه برابروئ.
۳ـ د ټولو خپلوانو حقوق په خپله– خپله درجه کې وساتئ او سترګې پرې مه پټوئ د ژوند څخه خوند واخلئ.
۴ـ د يتيمانو سره هم احسانات وکړئ چې دوی بې وزله دي او پلرونه يې وفات شوي يا شهيدان شوی دي، غم خور نه لري او د چا څخه خپل حق د مټ په زور نه شي اخستلی.
۵ـ د مسکينانو سره احسانات هم د نظره مه غورځوې او ورسره مرسته وکړئ.
۶ ـ په تاسو باندې د ګاونډيانو سره نيکي کول هم واجبي حقونه دي، خصوصاً هغه ګاونډيان چې هغوی اقارب او خپلوان هم وي ستاسو.
۷ـ همدارنګه د پرديو ګاونډيانو حقوق هم ورکړئ.
۸ ـ بلکې ټول خلک درباندې حقوق لري چې په عارضي توګه او د لږ وخت د پاره ستاسو ترڅنګ ناسته ولاړه کوي (لکه چې ستاسو سره څوک په يوه کرايي موټر کې تر څنګ وي او داسې نور).
۹ـ بايد د نا اشنا (مسافر) حقوق هم ورکړئ، که هغه نه پيژنئ الله تعالی خو پېژنئ چې په تاسو باندې يې د هغه مراعات واجب کړی دی.
۱۰ـ بلآخره غلامانو ته هم په سپک نظرمه ګورئ هغوی هم انسانان دی شرعي حقونه لري.[۱]

## دويم: د عدالت تأمين:

عدالت په لغت کې: د برابرئ او مساوات په معنی دی .
عدالت په اصطلاح کې: د حق څښتن ته خپل حق ورکول دی. عدالت په ټولنه کي لومړيتوب لري او بې له عدالت څخه هيڅ ټولنه برقراره نه شي کيدلي، الله تعالی مسلمانانو ته په عدل او انصاف باندې امر کړی دی چې عدل وکړئ په ټولو حالاتو کې، (عدل په خبرو، ليکنه، ترازو کې، او په حکم کولو کې او نور ټولو چارو کې عدل کول).
۱ـ عدل په خبرو کي الله فرمايي: ((... **وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ** ...))[۲].
ژباړه: او که مو ويل نو عدل وکوئ او که څه هم خاونددخپلوئ وي.

۱ (عزيز التفاسير ج ۳ ص ۱۵۱).
۲ (الأنعام:۱۵۲).

۲ـ عدل په ليکنه کې الله تعالى فرمايي: ((...**وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ**...))[1].
ژباړه: او ودى ليکي په منځ ستاسي کې يو کاتب په عدل (انصاف سره واقعاً نه لږ او نه ډير).
۳ـ عدل په ترازو او عدل په حکم کولو کي الله پاک فرمايلي دي: ((**وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ**)) [2].

ژباړه: اوکله چه حکم کوئ تاسي (اى قاضيانو! اى حاکمانو!) په منځ دخلکو کې نو(امرکوي الله جل جلاله چ) حکم وکړئ په انصاف سره !).
يعنې: کله چې تاسو د خلکو په منځو کې حکم کوئ که څه هم هغوی مسلمانان نه وي هم په انصاف او عدالت سره حکم وکړئ يو طرفه هم مخ مه اړوي.
پيغمبرصلى الله عليه وسلم په ټولنه کي د عدل په اړه داسې فرمايي: « **إِنَّمَا هَلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَايْمُ اللَّهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا** ». [3]

ژباړه: هغه څوک چې له تاسي وړاندې تير شوي، ځکه هلاک شوي وو، کله چې په دوی کې شريف به غلا وکوله پريښود به يې او که په دوی کې به کمزوري غلا وکوله حد به يې ورباندې قايم کړ، په الله سوګند که د محمد لور فاطمې غلا کړې وای خامخا به مې ورته لاس پرې کړی وای.
د عدالت په اړه کريم زيدان ليکي: سياسي نظامونه به باقي پاتې کيږي په داسي حال کي چې عدالت په کې مراعات شوی وي، که څه هم هغه نظام کفري وي او سياسي نظامونه به له منځه ځي په داسي حال کي چې عدالت نه وي پکي مراعات شوی. که څه هم اسلامي وي. د دغو ټولو له کبله د اسلام په لومړي سر کې اسلامي ټولنه د عدل په معناګانو او په هغه باندې التزام ولاړه وه، هلته ظلم نه وه، هلته واقعي عدل وو، چې په وړاندې يې شريف او بې کار يو شان وو، هلته داسې قانون وو، چې خليفه او د هغه لاندې خلك ورته تابع وو، او دا ورباندې مرتب شول چې کمزوری په ټولنه کې ترهغه ځواکمن وو کله چې په حقه وو، ځکه د ټولنې او قانون، ځواك له هغه سره وو، او ځواکمن ته ترهغه وخت پورې ځواك ګټه نشوه رسولای، کله چې به په باطل باندې وو، ځکه د ټولنې ځواك او قانون يې پر ضد وو.

---

۱ (البقرة: ۲۸۲).
۲ (النساء: ۵۸).
۳ (سنن أبى داود - ( ج٤ / ص۲۳۰).

له همدې کبله زموږ لومړی خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه فرمایلي دي: په عدل کې جلال شخص او غریب یو برابردی ما ته (**القوي منکم ضعیف حتی اخذ الحق منه و الضیف منکم القوي حتی اخذ الحق له**). او همدارنګه د اسلام دویم خلیفه حضرت عمر رضی الله عنه په عدالت کولو سره مشهور ؤ. دا چې عدالت په اسلام کې لوړ مقام لري، رسول الله صلی الله علیه وسلم د عادل پاچا له پاره د قیامت په ورځ کې د عرش د رحمت د سیوري لاندې د ځای لرلو زیری ورکړی دی. څرنګه چې عدل د پورتنیو فضیلتونو له مخې زیات اجرونه او ثوابونه لري نو لازمه د ه چې د خپل ژوند لپاره یې اصل وګرځوو، او همیشه پرې عمل وکړو، چې الله تعالی، اود هغه رسول صلی الله علیه وسلم د رضا سبب وګرځي.

**دریم: نېکمرغه کورنۍ جوړول**: کورنی د ټولنې بنسټ ده، ځکه د کورنۍ له مجموعې څخه ټولنه جوړیږي، ټولنه د انسان د بدن مثال لري او کورنۍ د بدن د غړي مثال لري، که کورنۍ اصلاح شي ټولنه اصلاح کیږي او که کورنۍ فاسده شوه، نو ټولنه هم فاسدیږي، له همدې کبله ټولنیز اسلامي نظام کورنۍ ته زیاته پاملرنه کړې چې ډېر ایاتونه او حدیثونه پکې راغلي دي.

**الف: نکاح**:د اسلامي نظام د اساساتو څخه یو هم واده دی چې هدف یې د کورنۍ جوړښت او د بشري نسل د منځ ته راوړلو لپاره یوه طبیعي لاره ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « **يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ** » (۱).

یعنې: ای ځوانانو! څوک چه تاسو کې د نکاح طاقت لري نو هغه دې نکاح وکړي ځکه سترګې ښکته کوي او فرج له زنا څخه ژغوري او څوک چه د دې طاقت نه لري نو هغه دې روژه نیسي ځکه روژه شهوت لږ وي.

**څلورم:امر بالمعروف نهی عن المنکر**: د اسلام ټولنیز نظام له ځانګړتیاوو څخه یو هم امر په نیکو کارونو او منعه له بدو کارونو څخه ده: الله جل جلاله هر فرد د اسلامي ټولنې مکلف په امر په معروف او نهی له بدی نه کړیده او د هرمسلمان فرد وظیفه یې ګرځولې ده چې دا په یوه اسلامې ټولنه کې د فلاح او کامیابي سبب ګرځي د امر په معروف او نهی له منکره د نشتوالي په خاطر په اسلامي ټولنه کې فساد خپریږي با لاخره چې بیا له دې نه دوتلو لاره آسانه نه ده. الله پاک فرمایلي دي: ((**وَلْتَكُن مِّنكُمْ**

---

۱( صحیح مسلم - ( ج۴ /ص ۱۲۸).

**أُمَّةٌ يَّدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ))**[1]. ژباړه: (اى مؤمنانو!) او ستاسو د جملې څخه دې يو داسې ټولگى شتون ولري چې نيكى ته خلك بولي او په (شرعي) معروف كار باندې امر كوي او د (غير شرعي) نا اشنا كار څخه خلك منعه كوي او دغه ټولگى همدوى كاميابان دي.

او همدارنگه نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: « **مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ** ».[2]

يعنې: څوك چې ستاسو نه كوم غير مشروع كار ويني، نو بايد هغه په خپل لاس سره اصلاح او منع كړي، او كه يې چيرې قدرت نه درلود، نو په ژبه سره د هغه مخنيوى وكړي او كه يې دا توان هم نه درلود نو بايد په زړه كې يې بد وگڼي، چې دا حالت د ايمان ډېره كمزورې مرحله ده.

حضرت رسول اكرم صلى الله عليه وسلم په پورتني حديث كې مؤمنان په درېو برخو ويشلى دي:

١ـ هغه كسان چې كولاى شي ناوړه كارونه په خپل لاس او د مټ په زور منع كړي، داسې مكلف دي چې دناوړه كار له انجام نه هرومرو مخنيوي وكړي، كه څه چې د زور او قوت په استعمال سره هم وي.

٢ـ هغه كسان دي چې له دوى سره دومره زور او قوت نه وي چې عملاً د ناوړه عمل له انجام نه مخنيوي وكړي، نو دوى لره ښايي چې د وعظ، نصيحت او تبليغ نه كار واخلي. داسې كسان د اجر او ثواب په دويمه درجه كې ځاى لري.

٣ـ هغه ډله ده چې د مټ زور او نه د وعظ او تبليغ قدرت لري داسې كسان وظيفه لري چې لږ تر لږه ناوړه كار په زړه كې بد وگڼي، او له بد كارو خلكو سره خپلې اړيكې لرې وساتي، او له دوى سره هيڅ ډول اړيكې ټينگې نه كړي او د كراهيت په سترگه ورته وگوري چې، دا د ايمان ډېره د كمزورۍ مرتبه ده.

امربالمعروف او نهى عن المنكر د پورتني مبارك آيت شريف او ذكر شوي حديث شريف له مخې د جمهورو علماؤ په نزد واجب دى، ځينې علماء كرام وايي چې دا كار فرض كفائي دى، او حتى كله فرض عين هم گرځي، او دا په هغه حالت كې چې ناوړه عمل په يوه داسې ځاى كې وي چې پرته له يوه شخص نه بل څوك پرې خبر نه وي.

---

١ (آل‌عمران: ١٠٤).
٢ (صحيح مسلم - (ج١ /ص ٥٠).

## پنځم: د اسلام ټولنيز نظام زيات اساسات او قواعد الزامي دي:

هر مسلمان مکلف دی چې اوامر په ځان عملي کړي لکه لمونځ، روژه، زکات اوله ممنوعاتو څخه ځان وساتي لکه دروغ، خيانت، غدر، غلا، حرام مال خوړل او داسې نور او هيڅوک نه شي کولای چې له هغو نه صرف نظر وکړي لکه څرنګه چې الله پاک فرمايلي دي:((**وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا**)) [1].

ژباړه: او هيڅ مؤمن او هيڅ مؤمنې ته مناسبه (اوجائزه) نه ده (البته) کله چې الله جل جلاله او د ده پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) يو کار فيصله وکړي، چې دوی لره دې په خپل کار کې (د هغه په خلاف) غوره کول وي (په دوی باندې فقط اِطاعت واجب دی)، او هر څوک چې د الله جل جلاله او د ده (الله جل جلاله) د پيغمبرصلى الله عليه وسلم (د امر څخه) عصيان (نافرماني) وکړي، نو يقيناً هغه لاره ورکه کړه په څرګند ورکولو سره.

يعنې: د کاملو مؤمنانو د صفاتو څخه دا هم يو صفت دی چې دوی په هغه کار کې د خپلې خوښې څخه تېرېږي په کوم کې چې د شريعت فيصله صادره شوې وي، نو د همدې کبله هيڅ مؤمن او هيڅ مؤمنې ته مناسب نه دي چې خپلې خوښې پسې وګرځې، البته په هغه کار کې کوم چې د الله تعالى او رسول الله په فيصلې صورت نيولی وي.

دوی په دغسې کار کې سمدستي د خپلو کارونو د خوښولو څخه تېرېږي او د نومووړې فيصلې پيروي کوي، او دا ځکه چې د خلاف په صورت کې دوی عاصيان او خلافکاران ګرځي. او هر څوک چې د الله تعالى او رسول الله څخه عصيان او نافرماني وکړي نو يقيناً هغه بې لارې شو او سمه لاره يې ورکه کړه، چې بې لارې کېدل يې پوره څرګند دي او هيڅ شک پکې نشته.

## د اسلام د ټولنيز نظام موخې:

د اسلام ټولنيز نظام د مشخصو روښانو موخو درلودنکی دی چې هيڅ يو بل نظام د دغو موخو درلودونکی نه دی او عمومي موخې يې په لاندې ډول دي.

۱ـ د وګړو اصلاح او د هغو مسلح کيدل په ايمان، عقيده او وحدانيت د الله متعال ( جل جلاله).

[1] (الأحزاب: ٣٦).

۲ـ د يوې اسلامي ټولنې را منځ ته کيدل د عقيدې، اخوت، عدالت، برابرئ، امن، اطمينان، حقوقوپه مراعات او واجباتو په لحاظ سره.
۳ـ له اسلامي ټولنې څخه د فساد او منکراتو، بې حيايئ، بې اخلاقئ لرې کول.
۴ـ د ټولنې د وګړو د حقوقو ساتنه، د اسلام ټولنيز نظام په همدې موخه ولاړ دی چې د ټولنې د وګړو خپل ټول حقوق او امتيازات لاس ته راوړي، تر څو په ټولنه کې په آرامئ سره ژوند وکړي.
۵ ـ د کورنئ اصلاح يو بل ته د احترام او حقوقو په اساس.
۶ ـ په اسلامي ټولنه کې ښځو ته خپل حقوق او ميراث ورکول.
۷ ـ په اسلامې ټولنه کې عدالت تأمينول.
۸ ـ د اسلامي ټولنې د وګړو تر منځ مساوات.
۹ ـ د اسلامي ټولنې له منځه د تعصب، حسد، کينې او بدبينئ لرې کول.
۱۰ ـ د ټولنې تر منځ د امنيت تأمين، آرامي او اطمينان را وستل.
۱۱ـ له هوا او هوس نه (خواهشاتو او جني شيطانانو) څخه د اسلامي ټولنې آزادي او د اسلامي ټولنې د وګړو سوق کول د الله تعالی اود هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم اطاعت ته .
۱۲ـ په اسلامي ټولنه کې اتفاق او اتحاد منځ ته راوړل.
۱۳ـ په اسلامي ټولنه کې نفاق او بدبختي له منځه وړل.
۱۴ـ په اسلامي ټولنه کې د ظلم او ستم له منځ وړل.
د اسلام ټولنيز نظام موخې يوازې تر ذکر شويو موخو پورې نه دې تړلې، بلکه نورو پراخو او ګڼ شمير عام المنفعه او ټولنيزوکارونو ته شامليږي، ځکه د ټولنيز نظام موخې د خير کارونه دي او دغه پراخه دايره ده، لکه د جوماتونو جوړول، د مدرسې جوړل، د روغتونو تاسيس، دپل جوړول، د ونو کښنول او کښت کرل او داسې ګټور کتاب چاپول، چې د اسلام خدمت پرې کيږي، مرسته کول، د منکر، فساد او ظلم منع کول، د دښمني مخه نيول او داسې نور ټول دخير له کارونو څخه شمېرل کيږي.
او په دې کې شک نشته چې د ټولنې د وګړو تر منځ مرسته اوهمکاري خپريدل دي د جفا، او بغض عوامل له منځه وړي، او زړونه په مينه او شفقت باندې آبادوي، دا ټول هغه څه دي چې په دغه پاکه ټولنه کې پاک ژوند را منځ ته کوي ځکه دغه اسلامي ټولنه په مينه او رحمت باندې ولاړه ده او په بغض او کينه باندې نه وي ولاړه.

او هغه څوک چې د اسلامي ټولنې د وګړو اویا د خپل مسلمان ورور مرسته کوي الله پاک د هغه په حاجت کې وي، په دې اړه د حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي: « **مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ** ».[1]

ژباړه: څوک چې د مسلمان ورور حاجت پوره کوي الله تعالی به دده اړتیاوې پوره کړي.

د اسلام مبارک دین خپل پیروان د عام المنفعه، هر د خیر کار او نورو ته د خیر رسولو ته هڅوي او هغه یې غوره خلک بللي چې نورو ته خیر رسوي. په په دې اړه حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي:« **خَيْرُ النَّاسِ أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ**» [2].

یعنې: په انسانانو کې غوره هغه څوک دی چې نوور خلکو ته زیات خیر او ګټه رسوي.

یعنې: شاید د ځینو خلکو په نزد ښه او غوره کس هغه وي چې دښه نسب، ډېر ثروت او قدرت څښتن وي، خو حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم له نورو خلکو سره نیکي کول، خلکو ته مادي او معنوي ګټې رسول د غوره والي معیار ګڼلی دی، دا ځکه چې د اسلام مقدس دین د خیر او ښېګڼې دین دی.

## ښېګڼه څه ته وایي؟

حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم انسانان دې ته هڅوي چې له نورو سره نیکي وکړي، هغوی ته خیر ورسوي خوښي وروښي او د هغوي څخه غمونه او تکلیفونه لرې کړې، د بېلګې په توګه یو څوک وړی وي ډوډۍ ورکړي، که څوک پوروړی وي د پور په ادا کولو کې ورسره مرسته وکړي، له ناروغ سره د علاج په برخه کې همکاري وکړي، له هغو سره چې کار نه لري د کار په پیدا کولو او د کار زمینه ورته برابرولو کې مرسته وکړي، ناپوهانو ته د زده کړې لاره هواره کړي، یعنې مدرسې، مکتبونه، اوپوهنتون ورته جوړ کړي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم د داسې خصلتونو څښتنانو ته د الله جل جلاله د کومک او محبت زیری ورکړی دی.

د عام المنفعه ځایونو جوړل چې یو ټولنیز د خیر کار دی، او داسلام مبارک دین خپل پیروان د خیر او عام المنفعه(ټولګټو) کارونوته هڅوي چې د بېلګې په توګه ځینې په لاندې ډول سره ذکر کوو:

---

١ (صحيح مسلم - (ج٨ /ص ١٨).
٢ (صحيح كنوز السنة النبوية - (ج١ /ص ٩٨).

**۱ـ د جوماتونو جوړل**: الله تعالی د هغه چا په هکله چې جوماتونه آبادوي او جوړوي داسې فرمايلي دي: ((**إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللهَ فَعَسَىٰ أُولَٰئِكَ أَن يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ**))[۱].

ژباړه: يقيناً د الله جل جلاله جوماتونه هغه څوک اباد وي چې په الله جل جلاله او په وروستنی ورځ باندې يې ايمان راوړی وي او (د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د هداياتو مطابق) لمونځ دروي او زکات ورکوي او (بالآخره) نه ډارېږي مګر د الله جل جلاله څخه، نو اميد دی (اميد دې وکړي) چې دغه کسان به د لارې موندونکو څخه وګرځي (او څوک چې دغه صفات نه لري نو هغوی د جوماتونو د آبادولو لياقت نه لري).

همدارنګه په حديث شريف کې راغلي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: « **مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلَّهِ بَنَى اللَّهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ مِثْلَهُ** »[۲].

ژباړه: هر څوک چې (د الله جل جلاله د پاره) جومات جوړ کړي نو الله جل جلاله به ورته په جنت کې بالمثل ابادي جوړه کړي.

همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې:«**إِذَا رَأَيْتُمْ الرَّجُلَ يتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ فَاشْهَدُوا لَهُ بالإِيمَانِ**»[۳].

ژباړه: کله چې تاسو يو سړی وليد چې د جومات سره عادت وي (د جومات خدمت کوي) نو تاسو هغه ته په ايمان سره شهادت ورکړئ چې دا مؤمن دی)

د هغه چا په اړه چې مسجد ته ځي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: « **مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنْ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ** »[٤].

ژباړه: هر څوک چې د سبا د پلوه جومات ته لاړ شي او يا د بېګاه د طرفه، الله جل جلاله به ده ته د جنت مېلمستيا تياره کړي هر سبا او هر بېګاه.

---

۱ ((التوبة: ۱۸).
۲ (صحيح مسلم - (ج۲ / ص۶۸).
۳ (سنن الترمذي - (ج۵ /ص ۱۲).
٤ (صحيح البخاري - (ج۱ / ص۲۳۵).

**۲ـ د ونو کېنول او کښت کرل:** چې دا هم یو عام المنفعه او د خیر کار دی حضرت انس رضی الله عنه په دې هکله داسې روایت کوي: **عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلاَّ كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ »**[۱].

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوك چې ونې کینوي او یا کښت وکړي او بیا له دغې ونې او کښت څخه مرغه یا انسان او یا څاروی ګټه واخلي په ریښتیا چې دغه ټول ورته صدقه ګرځي او ثواب یې ورکول کیږي.

د زیات شمیر ژوو ژوند د کرهنې او زراعت پورې تړلی دی، او بې له شکه هر ډول کرهڼه او زراعت د انسان په پایښت او د هغه د ژوند د چاپیریال په ښکلا کې اغیزې لري. هوا صافوي، د سیلابونو او زلزلو په وړاندې ځمکه له خرابوالي څخه ساتي. زمونږ د ژوند فضا پاکه او زرغونوي، ضرر رسونکي ګازونه لکه کاربن دای اکساید جذبوي او اکسیجن تولیدوي.

هر ډول میوې دانې چې زموږ د لومړنیو ضروریاتو څخه دي د کرکیلې له لارې په لاس راځي کرکیلې ته پاملرنې او له ځمکو څخه لازمو ګټو پورته کولو په نړۍ کې بې شمیره تمدنونه زیږولي دي. او نن هم چې کومو هیوادنو کرهنې او مالدارۍ ته شا کړې د لوږې له خطر او د ژوند د چاپیریال د ککړتیا او د سیلابونو او د ځمکو د ښویدلو له ګواښ سره مخامخ دي څرنګه چې کرهنه او د فضا شینوالی د تمدن له اړینو بېلګو څخه دي نو له دې امله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ښودنو کې ځانګړی مقام لري.

## د ونو او کښتونو ګټې:

**۱ـ د چاپېریال ساتنه:** د ژوند لپاره غوره چاپیریال هماغه دی چې خورا سمسور وي ښکلې اوبه او پاکه هوا ولري او د ټولو ساکښو د ژوند کولو لپاره چې یو د بل د ژوند اړتیاوو پوره کونکي دي برابر وي، دغه ډول چاپېریال هغه وخت جوړیدای شي چې په ونو او کښتونو سمسور وي او سمسورتیا ته یې ځانګړې پاملرنه وشي.

---

۱ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ: صحیح البخاري - (ج۲ / ص۸۱۷ ـ صحیح مسلم - ( ج۵ /ص ۲۸).

**۲ـ د ونو کښینولو ارزښت:**د نیالګیو کښېنولو او کرهڼې ته پاملرنه د موجوده معاصرې زمانې غوښتنه نه ده بلکې اسلام لا پخوا په فکري او عملي لحاظ دغه مهم او اړین کار ته ځانګړې پاملرنه کړې او د اسلام له پیل څخه یې ورباندې ټینګار کړی دی.

**۳ـ د کرهڼې اهمیت:** کرهڼه د ژوند د تامین او د لوږې او بې کارۍ سره د مبارزې تر ټولو مهمه لار او د تمدن غوره بېلګه ده ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته ځانګړې دستورونه ورکړي تر څو د ونو او کښتونو د له منځه وړلو څخه ځان وژغوري او د ساتلو هڅه یې وکړي.

**۴ـ نورو ته د خیر رسول:** مسلمانان باید داسې کارونه وکړي چې خیر یې یوازې بندګانو ته نه بلکه ټولو ساکښو ته ورسیږي او له دې لارې د ثواب مستحق وګرځي.

**۵ـ د غذایي توکو برابرول ثواب لري:** څرنګه چې یو انسان ته د غذا برابرول ثواب لري همدارنګه د الوتونکي او یا ژوي له پاره یې برابرول هم ثواب لري.

**۶ـ د ونو کښېنول تل پاتې صدقه ده:** د ونو کښېنول او کرهڼه داسې یوه صدقه ده چې تر څو ونه او یا کښت موجود وي، کرونکي لپاره به یې ثواب وي.

## د لومړي څپرکي لنډیز

**د اسلام د ټولنیز نظام تعریف:** د هغو قوانینو مجموعه ده، چې د مسلمانانو ټولنیزې چارې د اسلامي شریعت په چوکات کې تنظیموي.

**په اسلام کې د ټولنیز نظام اصول او بنسټونه:**

د اسلام مبارک دین کې د ټولنیز نظام اصل او بنسټ اسلامي عقیده ده او یوازې عقیدتي چارې دي چې تر څو انسان د خپل ژوند مرکزیت او بنسټ وپیژني، چې د هغو لپاره پیدا شوی دی.

**د ټولنیز نظام لپاره د اسلامي عقیدې د بنسټ ګرځولو پایلې.**

۱- **ایماني تړاو:**( د اسلامي عقیدې پر بنسټ ټول مسلمانان دیني ورونه ګڼي)

**۲ـ تعصبات له منځه وړل:** مراد له تعصب څخه هغه ناوړه اخلاق دي چې د کوم مقصد لپاره تر سره کیږي.

**تعصب په لغت کې:**دفاع کولو ته وایي. او په اصطلاح کې په نا مناسب او نا معقول شکل دفاع ته تعصب وایي .

**۳ـ تقوا (ویره له الله تعالی څخه):** د خلکو ترمنځ د غوره والی معیار دی.

**د اسلام د ټولنيز نظام ځانګړتياوې:**

۱ـ داخلاقو مراعات كول.

۲ـ د عدالت تأمينو.

۳ـ نېكمرغه كورنۍ جوړول.

۴ـ امر بالمعروف او نهی عن المنكر.

**د اسلام د ټولنيز نظام موخې:**

د اسلام ټولنيز نظام د واضح او روښانو موخو درلودونكى دى چې ځينې يې په لاندې ډول دي.

۱ـ د ټولنې د وګړو اصلاح او تربيه د اسلامي شريعت په چوكاټ كې.

۲ـ د ټولنيزو چارو تنظيم د اسلامي شريعت په رڼا كې.

۳ـ د اسلامي ټولنې څخه د ناوړه اخلاق او عادتونو لرې كول.

۴ـ په اسلامي ټولنه كې عدالت تأمينول، او هر چاته خپل حقوق وركول.

۵ ـ د كورنيود ستونزو حل او د غړيو اصلاح، يو بل ته درناوى.

۶ ـ د ټولنې وګړو تر منځ امنيت تأمين، آرامي او اطمينان را وستل.

۷ـ په اسلامي ټولنه كې اتفاق او اتحاد منځته ته راوړل.

۸ ـ په اسلامي ټولنه كې نفاق او بدبختي له منځه وړل.

۹ـ په اسلامي ټولنه كې ظلم او ستم له منځه وړل.

**پوښتنې:**

۱ـ نظام په لغت او اصطلاح كې تعريف كړئ.

۲ـ د اسلام د ټولنيز نظام تعريف كړئ.

۳ـ د اسلام د ټولنيز نظام اصل (بنسټ) ذكر كړئ.

۴ـ د ټولنيز نظام لپاره د اسلامي عقيدې اساس ګرځولو پايلې ذكر كړئ.

۵ ـ د اسلام د ټولنيز نظام ځانګړتياوې ذكر كړئ.

۶ـ د اسلام د ټولنيز نظام د موخو څخه يې پنځه موخې ذكر كړئ.

۷ـ د عام المنفه (ټول ګټو) خدمتونو څخه د جوماتونو د جوړولو د فضيلت په اړه يو نبوي حديث ذكر كړئ.

# دویم څپرکی
# د اسلام له نظره د اسلامي ټولنې جوړښت

**ټولیزه موخه:**
**داسلامي ټولنې د جوړښت پېژندنه**

**ښوونیزې موخې**: د دې څپرکي په پای کې به زده کوونکي وکولای شي چې:
- د اسلامي ټولنې جوړښت وپېژني.
- د فردجوړښت د اسلام له نظره وپېژني .
- دکورنۍ جوړښت د اسلام له نظره وپېژني.
- د واده د مقدماتو سره به آشنا شي.
- دنکاح تعریف، ارکان، شروط، او آداب به زده کړي.
- د نکاح محرمات  وپېژني.
- د نکاح پایلې او اغېزې وپېژني.

**سریزه:**

د اسلامي ټولنې جوړښت په الهي قواعدو، احکامو او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سنتو کې دی، چې له یوه فرد څخه شروع او په یوه ټولنه باندې بدلیږي، نو لازمه ده چې د یوه فرد (وګړي) په اړه چې تهداب او اساس دیوې ټولنې جوړوونکی دی، تر بحث لاندې ونیسو:

## د اسلام په ټولنیز نظام کې د فرد (وګړي) جوړښت:

هر فرد د اسلامي ټولنې تهداب او اساس ګڼل کیږي، او په همدې خاطر اسلام د یوه فرد اصلاح ته زیاته توجه کړې ده، ځکه د فرد په اصلاح باندې د ټولنې او نظام اصلاح راځي، مخکې له دې چې نبي کریم صلی علیه وسلم یوه ټولنه را منځ ته کړي دیوه فرد په جوړولو او د هغه په اصلاح باندې یې زیات کوښښ کولو، تر څو وکولای شي ټولنه د صالحو مؤمنانو څخه جوړه کړي.

هغه څه چې په یوه ټولنه کې دیوه فرد په جوړولو کې اغیزمن دي عبارت دی له ایمان، عقیده، اخلاقو او آدابو څخه، ځکه نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي دیوه فرد په تربیه کې ایمان، عقیدې، ښه اخلاق او اسلامي آداب ډېره برخه اخلي، په اسلامي ټولنه کې یو ځوان باید د اسلامي عقیده نه

بدلیدونکی قوي ایمان درلودونکی وي لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: **وَعَنْ أَبِي عَمْرٍو، رَضِيَ الله عَنْهُ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ الله قُلْ لِي فِي الإِسْلَامِ قَوْلًا لا أَسْأَل عَنْهُ أَحَداً غَيْرَكَ. قَالَ قُلْ: « آمَنْتُ بِاللهِ. ثُمَّ اسْتَقِمْ»**[1].

ژباړه: له ابن عَمْرٍو، رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل ای د الله تعالی جل جلاله رسوله ووایه ماته په اسلام کې داسې قول چې بیا یې له بل چا څخه پوښتنه ونه کړم غیر له ستا، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ووایه چې ایمان مې راوړی په الله جل جلاله باندې او بیا په هغه کلك او ټینګ ودرېږه.

دا چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دیوه وګړي د جوړښت په خاطر له هر څه نه مخکې د هغه د عقیدې او ایمان په برابرولو باندې زیات زیار ایستلی، تر څو چې یو مؤمن فرد له راسخې عقیدې او قوي ایمان سره ټولنې ته وړاندې شي، نو هر کله چې یو فرد په اسلامي عقیده وروزل شي، نو هغه کولای شي چې د کورنۍ او بالاخره د ټولنې مسؤلیت بې له شک څخه په غاړه باندې واخلي، او د ټولنې اصلاح خپل مسؤلیت ګڼي، او د خپلې وسې او توان په اندازه فاسد، ضرر او ناوړه اخلاق ترینه لرې کړي، او دد غه غوښتنې د سرته رسولو لپاره له نورو سره مرسته کوي.

همدارنګه اخلاق او اسلامي آداب د فرد په جوړښت کې اغیزناک دي، د اسلام مبارك دین اخلاقو او اسلامي آدابو ته جدي توجه کړي او نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل اصحاب او یاران په همدې اسلامي اخلاقو او آدابو تربیه کړي دي.

یو مسلمان فرد باید په اسلامي اخلاقو او آدابو پوښل شوی وي لکه: صدق، امانت، وفاء، اخلاص، حیاء، سخاوت، صبر، تواضع او په نورو صفات، تر څو یوه آرامه ټولنه تأسیس کړي، او ټول وګړي د ټولنې د صمیمیت، اخوت او ورولی په فضاء کې له حسد، کینې او نورو ناوړه اخلاقو څخه، لرې یو د بل په خوا کې په پوره اطمینان او آرامي سره د خپل ژوند چارې په مخ یوسي.

یوه ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم له خپلو اصحابو څخه یوه ته د ډوډۍ خوړولو آداب بیان کړل: په دې اړه **عمر بن ابي سلمة** رضي الله عنه روایت کوي: **« عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « سَمِّ اللَّهَ وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ »**[2]

---

۱ (رواه مسلم، رياض الصالحين (تحقيق الدكتور الفحل) - (ج۱ / ۸۴).
۲مسند أحمد - (ج۲۶ /ص ۲۵۴).

له حضرت عمر ابن ابي سلمه رضي الله عنه څخه روایت دی، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وویل: بسم الله ووایه، او په ښي لاس سره خوراک کوه او د خپل طرفه څخه خوراک کوه(ټول لوښي کې لاس مه ګرځوه).
نو باید په دې باندې پوه شو چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د فرد په جوړولو څومره اندازه کوښښ کړی دی، او د اسلام مبارک دین د فرد جوړولوته څومره زیاته توجه کړې ده، تر څو ټولنه د فرد روش او طریقه زده کړي او خپله ټولنه له نیکو صالحو مؤمنانو څخه تشکیل کړي، تر څو په یوه آرامه فضا کې ژوند وکړي.

## د اسلام په ټولنیز نظام کې د کورنۍ جوړښت

### کورنۍ څه ته وایي؟

ښځې، بچو او نسبي خپلوانو ته کورنۍ ویل کیږي.
د کورنۍ بنیاد ښځه او خاوند بړدي، اولاد ترې پیدا کیږي چې بیا په ټولنه کې د ژوند پړاو پیلوي

### د کورنۍ جوړولو بنسټ:

کورنۍ د دوو عمده موخو په بنیاد جوړیږي.
**لومړي: واده کول انساني فطرت ته لبیک ویل دي**: د اسلامي شریعت د څرګندو ارزښتونو څخه یو دا دی چې د ځان ګوښه کولو له اصل سره یې مبارزه کړې، انساني فطرت او بشري غریزو ته یې مثبت ځواب ویلی، په حدیث کې چې طبراني او بیهقي روایت کړی رسول الله صلی الله فرمایي:(څوک چې مال ولري د واده عمر ته رسیدلی وي او واده ونه کړي زما له ډلې څخه نه دي.) په بل حدیث کې راغلی، هغه دری تنه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادت څخه خبر شول او خپل عبادت ورته هیڅ ښکاره شو، نو د ځان سره یې وویل: مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نه شو رسېدای، ده ته ټول وړاندیني او وروستني ګناهونه ښښل شوي، د دوی دری واړو څخه یو د ځان سره هوډ وکړ چې ټوله شپه به په لمانځه سبا کوم، دویم وویل: ټول کال به روژه نیسم، دریم وویل: زه به ځان د ښځو څخه ګوښه کوم او هیڅ واده به نه کوم، کله چې رسول الله صلی د دوی په تصمیم خبر شو ویې فرمایل: قسم په الله چې زه ستاسې په پرتله د پاک پروردګار نه ډېر ویریږم، ولی سره د دې لمونځ کوم او هم ویدیږم ، روژه هم نیسم او کله یې نه نیسم او د ښځو سره نکاح هم کوم، پس هر څوک چې زما د عمل خلاف عمل کوي زما له ډلې څخه نه دي.

د پورتنیو احادیثو څخه څرګندیږي چې واده کول په اسلام کې ځانګړی ارزښت لري، ترڅو مسلمان انسان د اولادونو د روزنې هغه امانت او لوی مسؤولیت چې د ده په غاړه دی پخپلو اوږو واخلي.

**دویم: په واده باندې ټولنیزې ښیګڼې تر لاسه کیږي:**

دا خو یو واضح حقیقت دی چې په شرعي ډول سره نکاح کول عامې ټولنیزې ښیګڼې لري چې مهیمې یې په لاندې ډول ذکر کوو:

**۱ـ د انساني نسل ساتنه، او زیاتوالی:** په واده کولو سره انساني نسلونه ورځ په ورځ زیاتیږي چې دا لړۍ به د قیامت تر ورځې پورې دوام کوي، الله پاك دا ټولنیز او انساني مصلحت په داسې ټکو کې ستایي او فرمایي:((**وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً** ...)).[۱]

ژباړه: تاسو ته ستاسو له جنس څخه جوړه درکړه، بیا یې د دې جوړې څخه زامن او لمسی درکړل. همدارنګه الله متعال په بل ځای کې فرمایي: ((**يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً** ...)).[۲]

ژباړه: ای خلکو! د خپل هغه رب څخه وډار شئ (عصیان ترې مه کوئ) چې تاسو یې د یو نفس (آدام علیه السلام) څخه پیدا کړي یاست او د همدغه نفس (آدم علیه السلام) څخه د ده جوړه (بي بي حوا رضي الله عنها) هم پیدا کړې ده، او د دوی دواړو څخه یې ډېر نارینه او (ډېرې) ښځېنه خواره واره کړي دي.

**۲ـ د نسب ساتل:** په مشروع واده سره پیدا شوي اولادونه په فخرخپلو پلرونو ته ځانونه منسوبوي، دا ویاړ اولادونو ته د ذهني آرامی، په ځان باوري او انساني کرامت سبب ګرځي. که چیرې په ټولنه کې په مشروع طریقه سره ودونه نه وي، نو ټولنه به د داسې وګړو څخه جوړه شوې وه چې هیچا به انساني کرامت ته در ناوی نه درلوده اونه به یې خپل نسب پیژانده.

**۳ـ دناوړه اخلاقو څخه د اسلامي ټولنې خوندي والی:** په شرعي واده سره ټولنه او د ټولنې وګړي د اخلاقي فساد څخه ژغورل کیږي، هر کله چې د انسان شهواني غریزه په حلاله لاره پوره کیږي، نو انسان د اخلاقي بې لاریو څخه ژغوري، او په نیکو اخلاقو سمبالیږي، د همدې اخلاقي ښېګڼو او د ټولنیزو حکمتونو له کبله نبي کریم صلی الله علیه وسلم داسې توصیه ځوانانو ته کړي، او فرمایي: « ای ځوانانو! هر څوك چې له تاسو څخه د نکاح کولو قدرت لري باید چې نکاح وکړي، ځکه چې دا د

۱ (النحل: ۷۲).
۲ (النساء: ۱)

ستر ګو د ټيټولو(شهوت څخه د ستر ګو مړولو) او د شرمګاه د ساتلو لپاره غوره لاره ده، او څوک چې د نکاح طاقت نه لري، په دوی لازمه ده چې روژه ونيسي، تر څو په ده کې د شهوت لمبه سړه کړي».

**۴ـ د ناروغيو څخه د ټولنې روغوالی:** په شرعي طريقه سره واده کول ټولنه د ساري وژونکو ناروغيو لکه ايډز، سوزاك او نورو له شره ژغوري، دا ډول ناروغي د نامشروع اړيکو څخه پيدا کيږي، او په نکاح سره د دې مخنيوي کيږي.

## د واده پيلامې

واده د کورنۍ د جوړښت او د بشري جنس د بقا لپاره طبيعي لاره ده، او اسلام هغې ته تشويقول کړي او هغه يې له خپلو سنتو څخه ګڼلي دي.

له پخوا څخه د خلکو دا عادت وو چې له واده څخه د مخه به د هلك د کورنۍ لخوا د نجلۍ کورنۍ ته يو څوك د خواستګارۍ لپاره ور استول کيدل، همدغه عادت د شريعت له خوا هم د تائيد وړ وګرځيد چې په عربي کې ورته خِطبه ويل کيږي.

## د خِطبې تعريف

خِطبه په لغت کې: خِطبه د خاء په کسرى (زير) د نکاح غوښتنې ته وايي.

او په اصطلاح کې: له يوې ټاکلې ښځې سره د واده کولو رغبت ښکاره کولو ته خِطبه ويل کيږي، که د هغه يادونه ښځې ته وکړي او يا د هغې ولي ته.

**د خِطبې حکم:** خِطبه د نکاح لپاره يوه وسيله ده چې فقهاء کرامو رحمهم الله مستحب ګڼلې ده.

په يوې ښځې مرکه کول چې شرعي ايجاب او قبول پکې نه وي د وعدې په معنا ده او رښتنى عقد نه دی، ځکه د نکاح عقد د ايجاب او قبول له لارې تر سره کيږي.[1]

## د خِطبې شرطونه

په يوه ښځې هغه وخت خطبه کول جائز دي چې لاندې دوه شرطونه ولري:

۱ـ بايد ښځه په موقت او يا ابدي توګه حرامه نه وي.

۲ـ ښځه بايد دبل چا مخطوبه نه وي که په يوه ښځه باندې يو چا خطبه وکړه (نکاح غوښتنه يې ورڅخه وکړه) بايد بل هيڅوك خطبه پرې ونه کړي، ځکه دا کار په شريعت کې ناروا دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې هکله داسې فرمايلي دي:

**«وَلاَ يَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ حَتَّى يَتْرُكَ الْخَاطِبُ قَبْلَهُ أَوْ يَأْذَنَ لَهُ الْخَاطِبُ »**.[2]

---

[1] (اسلامي ښوونه او روزنه).

۲ (صحيح البخاري - ( ج۵ / ص۱۹۷۵).

يعنې:هيڅوک نشي غوښتلی تاسي له جملې څخه هغه ښځه چې ستاسو ورور غوښتي وي تر هغه پوره چې يا يې پرېښي نه وي او ياپې تاسي ته د غوښتلو اجازه نه وي کړي
معنا دا ده چې که چيرې يو مسلمان ورور مو چېرې د نکاح پيغام لېږلی وي نو تاسو دا هڅه مه کوئ چې د هغه له خولې يې ووهئ او په خپله د نکاح پيغام ورولېږئ بلکې صبر وکړئ تر څو د هغه حال معلوم شي يا هغه په خپله اجازه درکړي.او له بلې خوا په نوموړې کار سره د کورنيو تر منځ کينه دښمني شخړې او جنګونه را منځته کيږي، او بايد د دا ډول کار څخه منع وشي.

## انتخاب (ټاکنه) او د هغې شرطونه او آداب

د اسلامي شريعت له مخې په دې کې شک نشته چې کامياب واده د سړي له خوا د ښې ښځې په انتخاب او همدا شان د ښځې له خوا د مناسب سړي په خوښولو پورې اړه لري .

## د نارينه له خوا د ښځې غوره کول

### ۱ـ دينداري

سړي ته پکار ده چې ديندراه او د ښو اخلاقو څښتنه ښځه غوره کړي، ځکه په دينداره ښځه کې د خاوند د اطاعت صفت موجود وي او د هغه د نيکمرغي او هوساينې لپاره کار کوي، د خپل پت او عزت په ساتلو د مېړه پت او عزت ساتي، د خپلې تقوا، ريښتينولي او اخلاص څخه يې هر وخت خوښ او ډاډمن وي، که ښځې د ځان لپاره د سړي د غوره کولو په هکله ديندارې صفت په نظر کې ونيسي نو د روښانه را تلونکي په لور يې ګام اېښی دي.

په يوه حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: « **تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ** » [1].

يعنې: تاسي د نکاح لپاره ښځه په څلورو شرطونو انتخاب کړئ ۱ـ د مال لرلو په خاطر ۲ـ د نسب يعنې کورنی په خاطر ۳ـ د ښايست په خاطر ۴ـ د ديندارۍ په خاطر او که چيرته تاسي د ښځي ديندراۍ ته ترجيح ورنکړه نو لاس مو په خاورو شه.

يعنې: غوره نکاح هغه ده چې د ديندارې ښځې سره ترسره شي .

اوبل دا چې پيغله او د روغ صحت واله ښځه په نکاح شي، ځکه په هغې کې د مينې دوه اړ خيزې اړيکې ټنګيږي او د ګډ تفاهم او د بچيانو د تولد لپاره مناسبه وړتيا لري.که د يو چا حالت دا غوښتنه

۱ (صحيح مسلم - (ج۴ /ص ۱۷۵).

وکړي چې کونډه یا پخه ښځه باید په نکاح واخلي، لکه چې سړی په عمر پوخ وي، یا د خپلو اولادونو لپاره په کور کې سرپرست لټول وغواړي یا نورې ګټې په نظر کې ونیسي، نو د پخې ښځې سره نکاح کول ورته غوره دي.

**۳ـ د نسب ښه والی:**

سړی ته مستحب ده چې ښځه له عزتمنې کورنۍ څخه ځان ته غوره کړي هغه چې د کورنۍ غړي یې په نیکو اخلاقو او ښو خویونو پیژندل شوي وي، تر څو د دوی اولادونه ورڅخه دغه ځینې صفتونه او یا ټول خپل کړي، دا طبیعي او علمي خبره ده چې د پلرونو او میندو ډیر صفتونه اولادونو ته په میراث نقلیږي، په دې خبره ډیر احادیث دلالت کوي، له عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:«**تَخَيَّرُوا لِنُطَفِكُمْ فإِنَّ النِّساءَ يَلِدْنَ أشْباهَ إخْوَانِهِنَّ وأخَوَاتِهِنَّ**»[(۱)].

یعنې: تاسو د خپلو نطفو لپاره ښه ځایونه غوره کړئ، ځکه ښځې خپلو وروڼو او خویندو ته ورته زیږوي.

**۴ـ مینه ناکې او اولاد راوړونکې**: سړي ته پکار ده چې مینه ناکه او اولاد راوړونکې ښځه خوښه کړي، ځکه همداسې ښځه له خپل سړي سره مینه او ښه چلند کوي، له دواړو خواوو څخه د میني کول د زوجیت د ژوندانه د پایښت، خوشحالۍ او د ښو اولادونو لپاره ډیر اغیزمن دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:« **تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّى مُكَاثِرٌ بِكُمُ الأُمَمَ** ». [(۲)]

ژباړه: تاسو له مینه ناکو او اولاد راوړونکو ښځو سره ودونه وکړئ، زه د ستاسو په ډیر والي په نورو امتونو ویاړم.

**۵ـ په نسب کې لرې والی**: غوره نکاح هغه ده چې له لرې نسب سره تر سره شوې وي، له نژدې خپلوانو څخه نه وي، ځکه په نسب کې لرې ښځه قوي او صحتمند اولادونه زیږوي، د نږدې خپلوانو سره واده کول اولاد نسل په نسل کمزوری کوي.

علمي تحقیقاتو دا منلې چې نږدې خپلوانو سره واده کول په ماشومانو کې د ارثي ناروغیو د څرګندیدو لامل ګرځي .

۱ (جامع الأحاديث - (ج۱۱ /ص ۲۳۴).
۲ (سنن أبى داود - (ج۲ / ص۱۷۵).

## د ښځې لخوا د زوج (مېړه) غوره کول

لکه سړي ته لازم دي چې نیکه ښځه خوښه کړي، همدارنګه په خپله ښځې ته اود ښځې اولیاوو ته هم لازم دي چې د سړي په هکله ښه انتخاب وکړي او خپلې پېغلې ته مناسب د ژوند ملګری غوره کړي، هغه چې لاندې صفتونه ولري:

**۱ـ تقوا او دینداري:** د ښځې اولیاو ته لازمه ده چې د خپلې لور او خور لپاره د ښو اخلاقو، او مېړانې څښتن غوره کړي، دا د صالح زوج له مهمو صفتونو څخه شمېرل کیږي، نو که سړی پرهیزګاره وي د الله جل جلاله ویره یې په ښځه له ظلم کولو څخه را ګرځوي، د ښه ژوندانه او د ښځې د حقوقو د تأمین خواته یې را کاږي.

**۲ـ د عمر نژدیوالی**: غوره ده له نجلۍ سره د سړي عمر نژدې وي او دا ښه کار نه دي چې داسې چاته نجلۍ په نکاح ورکړل شي چې په عمر کې یې ډېر توپیروي په داسې ډول چې د هغه عمر د هغې د پلار او نیکه سره برابر وي، ځکه کامیاب واده هغه دی چې د مینې او محبت په اساس ولاړ وي او د عمر نژدې والی یو له هغو اسبابو څخه دی چې د ښځې او خاوند تر مینځ د مینې او محبت اړیکې په ځای کوي.

دا په دې معنا نه ده چې د ډېر عمر لرونکی سړی سره د نجلۍ نکاح جواز نه لري، بلکې عرف او مصلحت ته په کتو سره مناسب داده چې د عمر نژدې والی په نظر کې ونیول شي تر څو ازدواج نیکبخت او دوامداره شي.

**ددینداري ښځې سره نکاح کول لاندې ګټې لري:**

۱ـ دینداره ښځه با اخلاقه وي.

۲ـ د خاوند (مېړه) د حقوقو ساتنه یې کوي.

۳ـ اولاد ته سالمه روزنه ورکوي.

۴ـ د خاوند امر منونکې او امانت داره وي (د مېړه د مال او د خپل نفس ساتنه کوي).

## دټاکنې اثرات او پایلې

ټاکنه د خلکو تر منځ په پېژندل شوې طریقه د واده لپاره د ښځې غوښتل او ټاکل دي، چې دا د خپل ملګري ټاکل له پیل د واده څخه دي او دا په هغه وخت کې چې شرعاً له هغې سره واده کول روا وي، او غرض ترینه دا دی، چې ښځه او مېړه په سمه توګه وپیژني او دواړو تر منځ نکاح په خلاصوسترګو او خوښه تر سره شي، چې د یو بل اخلاق او سلوک وپیژني او په راتلونکي کې کومه

ستونزه نه وي، چې دواړه په نکاح کولو او منع کولو باندې پوه شي، نو هر کله چې ټاکنه او پېژندنه صورت ونیسی بیا اقدام په واده کولو کیږي، او دا یوه ښه وسیله د پیژندنې ده تر څو په راتلونکي کې په پوره اطمنان او مینه او محبت سره ژوند تیر کړي، د یوې ښځې ټاکل او غوښتل چې شرعي ایجاب او قبول پکې نه وي د وعدې په معنا ده او هر یو له عاقدینو کولای شي چې ورڅخه وګرځي ځکه دا د ژوندانه تړون دی باید په پوره اهتمام او فکر سره ترسره شي.

## نکاح:

نکاح د کورنۍ د جوړښت او د بشري جنس د بقا لپاره طبیعي لاره ده، اسلام خپل پیروان هغې ته تشویق کړي دي او هغه یې له خپلو سنتو څخه ګڼلي دي مقصد لاس ته راوړلو لپاره اسلامي شریعت د نر او ښځې د یو ځای ژوند کولو روا لاره نکاح ګرځولې ده.

### د نکاح تعریف

نکاح په لغت کې: ضم (یو ځای کولو) ته وایي.

نکاح په اصطلاح کې: هغه عقد ته ویل کیږي چې سړي او ښځې ته له یو بل څخه جنسي ګټه اخیستل روا کوي.

### د نکاح حکم:

نکاح یو مشروع عمل دی، مشروعیت یې په کتاب الله، نبوي سنتو، او اجماع سره ثابت دي

**الف ـ د قران کریم څخه دلایل:** الله پاک فرمایلي دي:((... **فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ...**)).[1]

یعنې:کومې ښځې چې ستاسې خوښیږي د هغو دوه دوه، درېیو درېیو، څلورو څلورو سره نکاح وکړئ.

**ب ـ دنبوي سنت څخه دلیل:** نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « **يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ** » [2].

---

۱ (النساء: ۳).
۲( صحیح مسلم - ( ج۴ /ص ۱۲۸).

ژباړه: ای د ځوانانو ډلې! څوک چې په تاسې کې د نکاح کولو توان لري نو هغه دې واده وکړي ځکه چې نکاح د سترګو ښکته کوونکې ده، او د شرم ځای ساتونکې ده، او که څوک يې توان نه لري نو هغه دې روژې ونيسي ځکه روژه د هغه لپاره د شهوت ماتوونکې ده.

**ج ـ د امت اجماع:** امت مسلمه ټولو په دې اجماع کړې ده چې نکاح يو مشروع کار دي.

## د نکاح حکم د نکاح کوونکي له حالت سره بدليږي:

**۱ـ سنت مؤکد نکاح**: د اعتدال په حالت کې نکاح سنت مؤکد ده، د اعتدال حال دا دی چې د جماع، مهر نفقې وس ولري او په زنا کې د لويدو ويره ونه لري.

**۲ـ واجب نکاح**: د هغه چا لپاره نکاح کول واجب دي چې د ډېرې اشتها سره د مهر او نفقې وس هم ولري او د نکاح د نه کولو په صورت کې په زنا کې د لويدو ويره ولري.

له واجب څخه مراد لازم والی دی نو عملي فرضو او واجبو دواړو ته شامليږي.

**۳ـ تحريمي مکروه نکاح**: د هغه چا لپاره چې ويره ولري که نکاح وکړم نو د نفقې د نشتوالي په وجه به ورڅخه ظلم او ځورونه وشي، يعنې د زوجيت مادي او معنوي حقوق به مراعات نه شي کړای، نو د ده لپاره نکاح کول مکروه دي، ځکه نکاح د ثواب حاصلول او د پاک لمنی لپاره روا شوې ده نه د ظلم او ځورونې په خاطر.

## دنکاح ارکان

### د رکن تعريف:

رکن په لغت کې: د يوه شي پياوړي او قوي لورې ته وايي.

په اصطلاح کې: د يوه شي هغه مهمه برخه ده چې په ماهيت کې يې داخل وي او له ده څخه پرته د هغه شي امکان نه شي کيدای لکه په لمانځه کې قيام، رکوع او سجده.

د نکاح عقد په دوو ارکانو ولاړ دي:

۱ـ ايجاب

۲ـ قبول

**ايجاب:** ايجاب له وجوب څخه اخيستل شوې کلمه ده چې لازمولو ته وايې او په اصطلاح کې هغه الفاظ دي چې له عاقدينو څخه يو يې د لومړي ځل لپاره د خپلې ارادې دڅرګندولو لپاره صادر وي.

**قبول**: د منلو په معنا دي او په اصطلاح کې هغه لفظ او خبره ده چې له ايجاب څخه وروسته د عاقدينو، له دويم اړخ څخه صادره شي.

لکه اول لوری چې وایي: ما خپله لور په نکاح در کړه او دویم لوری وایي ما په نکاح کړه، یا ما قبوله کړه. ایجاب او قبول باید د تیرې زمانې په صیغې سره وي مثلاً یو لوری وایې ما فلانی په نکاح درکړې – بل وایې ما قبوله کړې.

## د نکاح د تړلو د صحت لپاره مهم شرطونه په لاندې ډول دی:

۱ـ ایجاب او قبول به په یوه مجلس کې تر سره کیږي یعنې د عقد په مجلس کې وي.

۲ـ ایجاب او قبول به په لوړ غږ سره کوي چې یو بل یې واوري، تر څو رضایت ښکاره شي.

۳ـ د ایجاب او قبول الفاظ به دائمي وي او په مؤقت وخت پورې به تړلي نه وي، لکه میاشت، کال، او داسې نور، تر څو د مُتعې (موقتې) نکاح ور څخه ووزي، متعې(موقتې) نکاح په څلورو مذهبو حرامه او باطله ده.

۴ـ عقد کوونکي به دواړه د عقل خاوندان وي د لیوني او غیر ممیز ماشوم نکاح صحیح نده.

۵ ـ عقد کوونکي به بالغ او آزاد وي، دا دواړه د نکاح د نفاذ له شرایطو څخه دي.

۶ـ شاهدان: د نکاح د صحت د شرطونو له جملې څخه دي، د شاهدانو له حضور څخه پرته نکاح نه تړل کیږي، په نکاح کې به دوه نارینه شاهدان او یا یو نارینه او دوې ښځینه شاهدانو په موجودیت سره او د شاهدانو په مخ کې تړل کیږي.

البته شاهدان به عاقل، بالغ، مسلمان، آزاد به وي که چېرې په دغو شاهدانو کې یو له دغو شرطونو څخه نه وي نو د نکاح تړل صحیح نه دي، بلکې شاهدان باید داسې څوک وي چې ذکر شوي شرطونه ولري.

۷ـ د ښځې رضایت: په نکاح کې د ښځې رضایت او خوښه شرط ده که پیغله وي او که کونډه، ولې چا ته دا حق نشته چې هغه په نکاح کولو مجبوره کړي.

۸ ـ زوج او زوجه به معلوم وي: که چېرې زوجه او زوجه معلوم نه وي نو دا نکاح صحي نه ده، د بېلګې په توګه یو سړی دوه لورګانې لري یو چا ته واویې چې ما یوه لور په نکاح درکړه، دا صحي نه ده ځکه معلومه نه شوه چې کومه یوه لور یې مراد ده.

## د نکاح ډولونه

نکاح لاندې ډولونه لري:

۱ـ صحیح نکاح

۲ـ باطله نکاح

۳ـ فاسده نکاح
۴ـ موقوفه نکاح
۱ـ **صحیح نکاح**: هغه نکاح ده چې ارکان او ټول شرطونه يې بشپړوي.
۲ـ **باطله نکاح**: هغه ده چې د نکاح په ارکانو اود انعقاد په شرطونو کې نقصان را منځ ته شي.
۳ـ **فاسده نکاح**: هغه ده چې دصحت شرطونه يې څخه يو شرط کم وي د بېلګې په توکه د شاهدانو حاضر نه وي او یاښځه د نکاح محل نه وي (نکاح ورسره حرامه وي) او داسې نور.
۴ـ **موقوفه نکاح**: هغه ده چې د انعقاد او صحت شرطونه يې بشپړ وي خو د نفاذ شرطونه يې يو کم وي، د بېلګې په توګه دنکاح عقد د چا تر اجازې پورې موقوف وي، نو که اجازه يې ورکړه نو عقد صحيح او نافذ دی.

## د نکاح آداب

نکاح ډېر آداب لري او ځينې يې په لاندې ډول بيانوو:
۱ـ **ښه نيت لرل:** په ټولو ادبونو کې مهم ادب دا دی چې په نکاح کې ښه نيت وکړي، ځکه د صالح عمل د پاره نيت شرط دی او د ښه نيت په لرلو سره ثواب تر لاسه کيږي او بيا خو نکاح کول سنت ده.
۲ـ **په مينه او محبت سره نکاح کول**: د نکاح او واده يو لوی حکمت لطف او آرام ژوند تر لاسه کول دي او د غه حکمت په هغه وخت کې څرګند وي کله چې انسان هم د دغه ګټو په لور متوجه وي.
۳ـ **په نکاح کې بايد اعلان وشي**: نکاح بايد په ښکاره ډول سره وي او اعلان پکې وشي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:« **أَعْلِنُوا النِّكَاحَ وَلَوْ بِالدُّفِّ** ».
يعنې: د نکاح اعلان وکړئ که څه هم په دريه وهلو سره وي.
يعنې نکاح په پټه مه کوئ او په زنا او نکاح کې همدا فرق دی چې زنا په پټه سره کيږي او نکاح په ښکاره کيږي.
۴ـ **نکاح بايد په مسجد کې وتړل شي**: او تر لمانځه وروسته وي او په خاصه توګه د جُمعې د لمانځه يا د جُمعې په ورځ وي، په داسې کولو سره به د وخت او ځای دواړو(د جُمعې ورځې او د مسجد) برکتونه تر لاسه شي.

۵ـ **نکاح باید یو عالم وتړي**: یا نیک او صالح سړي باندې وتړي، لومړي دې خُطبه ووایي او بیا دې ایجاب او قبول وکړي، په دې کې د دې خبرې خیال وساتئ چې نکاح کوونکی به په دغه وخت کې پوره جمله وایي یوازې د قبول لفظ ویل کافي نه دی.
۶ـ د نکاح تړلو څخه وروسته دې خپلوان او ملګري مبارکي ورکړي او دغه دعا دې په مبارکې کې ورته وکړي:(**بارک الله فیکما و جمع بینکما بخیر و اخرج منکما الطیب**)
ژباړه: الله تعالی دې تاسو دواړو ته برکت درکړي په خیر او نیکی سره دې تاسو یو ځای کړي او ستاسو څخه دې نېک اولاد پیدا کړي.
۷ـ د نکاح تړلو څخه وروسته خواړه شیان یا بل شي وېشل مستحب دي.
۸ـ په نکاح کې باید مهر ډېر زیات نه وي بلکې متوسط وي، همدارنګه د نکاح په نورو مراسمو کې اصراف نه وي بلکې میانه روئ څخه کار واخیستل شی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:« **إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً** »[1].یعنې: په تحقیق سره په نکاح کې چې څومره کم مصرف وشي په هغه اندازه به برکت زیات وي.

## په افغانستان کې د دودیزو نکاح ګانو ځینې ناوړه دودونو ته کتنه

زمونږ ګران هیواد کې په زیاتره سیمو کې په نکاح کې یو لړ داسې ناوړه دودونه شتون لري، چې له یوې خوا د اسلام مبارک دین سره په ټکر کې دي او له بلې خوا یې د نکاح کول سخت ستونزمن کړي دي، او یو شمېر ځوانان یې د ګډ ژوند له نعمت څخه محروم کړي دي، لکه د کوزدې وروسته ناستې کول، پوښونه وړل، د عید کالي وړل او تر ټولو لویه خبره دا چې په هوټلونو کې په سازندو باندې مصرف کول چې دا یو ناروا کار دي او ناروا کار ته خلک را بلل ګناه ده او همدارنګه په ناروا کار باندې لګښتونه کول هم ګناه ده، نو دا ټولې کړنې د اسلام خلاف دي او باید مخنیوی یې وشي.
په ځینو سیمو کې نوروزي هم وړل کیږي چې دا له یوې خوا د مجوسیانو د عید لمانځل دي او له بلې خوا یو لړ بې ځایه لګښتونه دي چې ډېر شمېر خلک یې توان او طاقت نه لري، او یو مهم عبادت یې د سختو ستونزو سره مخامخ کړي سره له دې چې د اسلام مبارک دین نکاح ډېره آسانه کړې ده او آسانه کولو ته یې خپل پیروان هڅولي.

---

۱ (شعب الإیمان ـ البیهقي ـ (ج۵ /ص ۲۵۴).

حضرت عائشه رضي الله عنها روايت كوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: « **إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً** »[1]. يعنې: بېشكه تر ټولو زياته د بركت نكاح هغه ده چې د ستونزو او لګښت له پلوه كمه وي. له دې مبارك حديث شريف څخه جوته كيږي چې نكاح څومره ساده او كم لګښته وي دومره به دخير اوبركت نه ډكه وي، همدارنګه نبي كريم صلی الله عليه وسلم په مهر كې اساني كول د بركت سبب بللی دی او فرمايلي دي: «**خَيْرُ الصَّدَاقِ أَيْسَرُهُ**». [2] يعنې: ښه مهر هغه دی چې كم او اسانه وي.

او بل دا چې عام مصلحت هم د مهر او نورو مصارفو د كم والی غوښتنه كوي، په هغه كې هم د زوجينو او هم ټولنې ته ډيرې ښيګڼې دي، ډيرې داسې ښځې شته چې د مهر او بې ځايه مصارفو د زيات والی په سبب په كورونو كې ناستې دي او ډير داسې ځوانان شته چې له همدې امله واده نه شي كولای، او د ښځې او نر د واده په مخ كې دغه ستونزې كله كله د دې باعث ګرځي چې منكراتو او ناروا كارونو ته مخه كړي.

د نبي كريم صلی الله عليه وسلم په زمانه كې د نكاح كول دومره آسانه او ساده وه چې صحابه كرامو هم په همدې ساده او آسانه ډول نكاح كوله، آن تردې چې خپل ستر لارښوود محمد صلی الله عليه وسلم به يې هم لا ډير كله نه و راغوښتی.

اسلامي شريعت دا نه وايي: چې د نكاح او خېښۍ په وخت خپل مشران او خپلوان مه را غواړئ يا دا ناروا كار دي بلكې د خپل وس او توان سره سم خپل خپلوان را وغواړئ او د شريعت په چوكاټ كې خوشحالی هم وكړئ خو د ناروا كړنو او بې ځايه او له توان نه زيات لګښتونه مه كوئ چې دا بيا په ټوله ټولنه كې يو رواج وګرځي او ډېر ناچاره او بېوزله مسلمانان يې وس نه لري وګورئ رسول صلی الله عليه وسلم چې كله د فاطمې رضي الله عنها واده ؤ ابوبكر عمر او څو نور صحابه رضي الله عنهم را وغوښتل او نكاح وتړل شوه.[3]

نو اسلامي شريعت دا غوښتنه كوي چې بايد واده اسانه شي او ټول هغه موانع لكه د مهر او مصارفو زياتوالی له منځه ولاړ شي، تر څو ځوانانو ته د واده كولو لارې برابرې شي.

١ (شعب الإيمان - البيهقي - (ج٥ /ص ٢٥٤).
٢ (سنن البيهقي الكبرى - (ج٧ / ص٢٣٢).
٣ (نورالهدى)

## د نکاح محرمات

له محرماتو ښځو سره نکاح کول حرام دي او د نکاح د صحت لپاره دا شرط ده چې ښځه د محرماتو له جملې څخه نه وي او سړي ته روا وي چې نکاح ورسره وکړي.

**د محرماتو تعریف**

په لغت کې: منعه ګرځول شوې ته ویل کیږي

په اصطلاح کې: هغه ښځینه او نارینه ته ویل کیږي چې ورسره نکاح نه شي کیدای او اسلامي شریعت ناروا ګرځولي وي.

**محرمات په دوه ډوله دي:**

۱ـ ابدي محرمات.

۲ـ موقتي محرمات.

ابدي محرمات: ابدي محرمات هغه دي چې د تحریم سبب یې دائمي او د تل لپاره نکاح ورسره حرامه وي.

**ابدي محرمات په درې ډوله دي:**

۱ـ د نسب پر اساس محرمات.

نسبي محرمات هغه دي چې د نسبې خپلوۍ په اساس حرامې دي په دې ایات کریمه کې ذکر شوې: ((**حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ...**)).[۱]

ژباړه: حرامې کړای شوې دي په تاسو باندې میندې، او خپلې لورګانې او خپلې خویندې او د خپلو پلرونو خویندې اود خپلو میندو او دخپل ورور لورګانې (وریرې) اود خپلې خور لورګانې (خورزې).

## نسبي حرامې ښځې:

نسبي حرامې ښځې لاندې اوه ګروپونه لري:

۱ـ مورګانې حرامې دي: په دې ګروپ کې ټولې نیاګانې که د پلار د طرفه او که د مور دطرفه، لرې او که نژدې، چې د انسان اصول ورته وایي.

۲ـ لورګانې حرامې دي: چې ټولو لمسیانو ته شاملې دي که د لور د طرفه وي او که د زوي.

[۱] (النساء: ۲۳).

۳ـ د مور او پلار اولاده لکه خويندې او د هغوی اولاد.
۴ـ د پلار هر ډول خويندې(سکه وي او که ناسکه) حرامې دي. همدارنګه د نيکه خويندې او ورپسې پورته ټولې حرامې دي.
۵ـ د مور هر ډول خويندې (سکه وي او که ناسکه) حرامې دي، همدرانګه د نيا خويندې، او ورپسې پورته ټولې حرامې دي.
۶ـ هر ډول وروڼو (سکه وي او که ناساکه) لورګانې حرامې دي. د دوی لمسۍ او کړوسۍ او ورپسې پورته ټولې حرامې دي.
۷ـ د هر ډول خويندو (سکه وي او که ناسکه) لورګانې حرامې دي، د دوی لسمۍ او کړوسۍ او پسې پورته ټولې حرامې دي.

## ۲ـ د مصاهرت (سخرګنې) پر اساس محرماتې:

د مصاهرت حرمت: هغه دی چې د نکاح په سبب را مينځته شوې خپلوۍ ته مصاهرت وايې.
د مصاهرت پر اساس لاندې ښځې حرامي دي:
۱ـ د خپلې ميرمنې مور (خواښې): په مجرد عقد تړلو سره په ابدي توګه حرامه ده او نکاح ورسره نه شي کولای الله پاک فرمايي: ((...**وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ** ...))[۱].
ژباړه: ستاسې د مېرمنو ميندې په تاسو حرامې دي.
۲ـ د خپلې مېرمنې اولاد (برکتۍ): د خپلې مېرمنې لورګانې، لمسيانې کړوسيانې او تر هغو ښکته، چې دبل مېړه څخه يي وي په دويم مېړه حرامي دي په دې شرط چې خاوند له ښځې سره کوروالی کړی وي د ابدي محرماتو له ډلې څخه دي، که چيرې يې کوروالي ور سره نه وي کړې يواځې د ده په نامه شوې وي او له عقد وروسته ورڅخه په طلاق يا وفات جلا شوه، بيا ورته روا ده چې د دې ښځې لورګانې او لمسيانې په نکاح کړي. الله تعالی فرمايي: ((...**نِسَائِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُوا دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ** ...))[۲].
يعنې: پر تاسې حرامې کړای شوې ستاسې د ښځو هغه لوڼې چې ستاسې په غيږو کې پالل شوې وي البته د هغو مېرمنو لوڼې چې ستاسې ورسره مباشرت او کوروالي کړې وي او که کوروالي صورت نه وي نيولی نو بيا پر تاسی کومه ګناه نشته (که د هغو له لورګانو سره نکاح وکړئ).

---
[۱] (النساء: ۲۳).
[۲] (النساء: ۲۳).

**۳ـ** د زوی ښځه (اینګور): (د اولادنو او لمسو ښځې) همداسې ښکته، برابره خبره ده چې زوی او لمسی له خپلو ښځو سره کوروالي کړې وي او یانه، بلکې په مجرد عقد باندې پرې حرامیږي، همدا راز له طلاق څخه یې وروسته هم نه شي په نکاح کولای، یعنې یو سړی د خپلې اولادې له ښځو سره په هیڅ صورت نکاح نه شي کولای ځکه چې دا د ابدې محرماتو له ډلې څخه دي. الله تعالی فرمایلي :((...**وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ** ...)).[1]

یعنې: او (پر تاسې حرامې کړای شوې) ستاسې د هغو زامنو مېرمنې چې ستاسې له نسب څخه وي.

**۴ـ** د پلار ښځه (مېره) او د نیکه ښځه: په ابدې توګه حرامه ده، برابره خبره ده چې دخول یې ورسره کړی وی او کنه، الله پاک فرمایلي: ((**وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم** ...)).[2]

ژباړه: او تاسې هغه ښځې په نکاح مه اخلې چې ستاسو پلرونو په نکاح کړې وي.

## په زنا سره د مصاهرت حرمت

په زنا کولو سره د مصاهرت حرمت واجبیږي، که یو څوک له کومې ښځې سره زنا وکړي، نو د هغې ښځې اصول او فروع یعنې مور، نیا همداسې پورته، لور او د لور لور همداسې ښکته ورباندې حرامیږي، او په نکاح یې نه شي اخیستلای، همدا شان همدغه ښځه د زاني سړي اصولو او فروعو ته هم حرامه ده، خو د زنا کار اصول او فروع د زنا کړې شوې د اصولو او فروع سره نکاح کولی شي.

## رضاعی محرمات

د رضاع په سبب محرماتې ښځې:

رضاعي محرمات هغه دی چې د رضاع (د شودو خوړول) په سبب په تي خوړونکي باندې حرامیږي، نو هغه ښځې چې د نسب او مصاهرت په سبب په سړي ناروا کیږي، هم همغه ښځې د رضاع په سبب هم ورباندې حرامیږي، ځکه شیدې خوړونکی داسې شي لکه د شیدې ورکوونکې نسبي زوی، نو کوم محرمات چې په نسبې اولاد حرامیږي هم هغه په شیدې خوړونکي هم حرامیږي.

[1] (النساء: ۲۳).
[2] (النساء: ۲۲).

**د شیدې ورکوونکې او خوړونکي تر مینځ د حرمت د حکم توپیر:**

د شیدې ورکوونکې خواته ټول خپلوان کیږي، نو رضاعي مور او نیا همداسې پورته، رضاعي لور همداسې ښکته، رضاعي خور، عمه، خاله، رضاعي وریرې او خورزې، دا ټول په شیدې خوړونکي باندې حرامې دي.

دا حرمت شیدې خوړونکي خواته ټول نه خپلوان کیږي، بلکې ده او د ده اولادونو ته ورشامل دي خو د ده قریبانو او خپلوانو ته دا حرمت نه دی شامل، د بیلګې په توګه ساجد رضاعي مور لری، د هغه حیثیت په رضاعي کورنۍ کې داسې دي لکه چې خپل نسبي کورنۍ کې یې لري، نو د ده محارم په رضاعي کورنۍ کې د نسبي کورنۍ په څیر دي، خو ساجد دکورنۍ له خوا رضاعي کورنۍ ته یواځې د ده ښځه او اولادونه محرم ګڼل کیږي نور پاتي کورنۍ یې اجانب (غیر محرم) دي.

**د رضاع د تحریم دلایل:**

۱ـ د قرآن کریم څخه دلیل د الله تعالی دغه قول: ((...**وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ** ...))[۱].

ژباړه: او (پرتاسې حرامې کړای شوې) ستاسې هغه مېندې چې تاسې ته یې شیدې درکړې وي، او ستاسې د تي شریکې خویندې.

۲ـ د نبوي احادیثو څخه دلیل: حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم د رضاع په هکله فرمایلي دي: «... **يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ** »[۲].

ژباړه: کومې ښځې چې په نسب سره حرامې دي په رضاع سره هم حرامې ګرځي.

**د رضاع د تحریم موده:**

ټولو علماء کرامو په دې باندې اتفاق کړي دي چې رضاع په کوچنیوالې عمر کې ثابتیږي، د جهمورو علماوو په نزد د رضاع موده دوه کاله ده، او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دیرش میاشتې یعنې دوه نیم کاله ده، په دې موده کې د ننه چې کله څوک د خپلې مور پرته د بلې ښځې تی وروي نو رضاع پرې ثابتیږي که لږ او ډیرې شودې وي.

---

۱ (النساء: ۲۳).
۲ (صحیح مسلم -(ج۴ / ص۱۶۴).

## ۲ـ موقتي محرمات:

مؤقت محرماتې: هغه ښځې دي چې د موقت وخت لپاره ديو ټاکلي سبب له امله ورسره نکاح کول حرام دي او کله چې د تحريم سبب له مېنځه ولاړ شي نو حرمت يې له مېنځه ځي اوبيا ورسره واده کول جائز دي.

**موقت محرماتې ښځې په لاندې ډول دي:**

۱ـ دوه محرمې ښځې په يو ځاى په نکاح کول: يعنې يو شخص نه شي کولاى چې دوه محرمې ښځې په يو وخت کې په نکاح کړي، په دې اړه قاعده دا ده چې که له دوه ښځو څخه يوه نارينه فرض کړل شي او بله ښځه، که نکاح د دواړو تر منځ روا وي نو يو سړى کولاى شي چې دغه دواړه ښځې په نکاح کړي، او که چيرې نکاح د دواړو تر منځ روا نه وي، نو بيا تر څو چې يوه مړه شوې نه وي بله په نکاح نه شي اخيستي.

**د حرمت دلائل يې:**

الله تعالى فرمايلي دي: ((...**وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ** ...)).[1]

يعنې: او دا هم پر تاسې حرامه ده چې په يوه نکاح کې دوه خويندې يو ځاى کړئ.

همدرانګه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « **لاَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا وَلاَ عَلَى خَالَتِهَا** » [2].

يعنې: په نکاح نه اخيستل کيږي ښځې او د هغې عمه او د هغې خاله په يو ځاى کې.

۲ـ پنځمه ښځه کول: په اسلامي شريعت کې د يوه سړي ته د څلورو څخه دزياتو ښځو ته په يوه وخت کې د نکاح جواز نشته، که يو څوک پنځمه ښځه په نکاح کول وغواړي تر څو چې يوه طلاقه نه کړي او د هغې عدت تير نه شي تر هغو د پنځمې ښځې دنکاح عقد صحت نه پيدا کوي.

همدارنګه د مړينې په صورت کې چې له څلورو ښځو څخه کمه شي، بله ښځه بيا په نکاح کولاى شي.

۳ـ د بل شخص د ښځې سره او د طلاقه او مرګه وروسته په عدت کې ښځه: له هغې ښځې سره نکاح کول حرام دي چې د بل شخص په نکاح کې وي، الله تعالى په دې هکله داسې فرمايلي دي: ((**وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ** ...))[3].

---

۱ (النساء: ۲۳).
۲ (صحيح مسلم - (ج٤ / ص١٣٥).
۳ (النساء: ٢٤).

یعنې: او هغه ښځې هم پر تاسې حرامې دي چې د کوم بل چا په نکاح کې وي.
همدارنګه له هغو ښځو سره هم نکاح جواز نه لري چې هغوی د طلاق او یا د مېړه د مرګ په عدت کې وي. خو که چېرې د خاوند له طلاقه وروسته او یا د خاوند له مرګه وروسته عدت یې تیر شو، بیا بل چا ته روا ده چې نکاح ورسره وکړي.
۴ـ له هغې ښځې سره نکاح چې کوم آسماني دین معتقده نه وي:کومه ښځه چې پر اسماني دینونو ایمان ونه لري نکاح کول ورسره رواه نه دي، که کافره وي او که مشرکه. په دې اړه الله تعالی داسې فرمایلي دي:((**وَلَا تَنكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ** ...))[1]، یعنې: تاسې له مشرکو ښځو سره هېڅکله نکاح مه کوئ، تر څو یې چې ایمان نه وي راوړی، یوه مسلمانه وینځه له مشرکې نه ډېره ښه ده، که څه هم چې ستاسې هغه ډېره خوښه وي.

## د اهل کتاب د ښځو سره نکاح کول

هغه پاک لمنې ښځې چې په آسماني کتاب ایمان لري لکه یهودې اونصرانې ښځې نکاح ورسره کول جواز لري. حکمت په کې دا دي چې د مسلمانانو او اهل کتابو تر مېنځ د عقیدې نژدې والی شته او د ازدواج اهداف ترسره کېداشي.
سره له دې چې د اهلو کتاب سره نکاح جواز لري خو بیا هم که د مذهب او عقیدې د خرابیدو خطر وي نو بیا ځان ساتل ترې ضرور دي، نو همدا وجه ده چې علماوو د یهودو اونصاراوو له ښځو سره نکاح مکروه بللې ده.
البته: د مسلمانې ښځې نکاح له هر یوه اهل کتاب(یهودي او نصراني)، مشرک، کافر، سره په مطلق ډول حرامه ده.

## د نکاح اثرات او پایلې:

د نکاح د تړون پر بنسټ یو پر زوجینو(مېرمن او خاوند) باندې ځینې حقوق او وجبات ثابتیږي چې په لاندې ډول دي:

### ۱ـ د ښځې او خاوند حقوق

د نکاح د تړون پر اساس اسلامي شریعت د ښځې او د هغې د خاوند تر مینځ ځینې حقوق او واجبات ټاکلي دي، چې دهغو په پام کې نیول لازمي دي، چې په لاندې ډول دي:

---

۱ (البقرة: ۲۲۱).

## ۱ـ د ښځې حقوق په خاوند باندې:

ښځه په خپل خاوند باندې دا لاندې حقوق لري:

**۱ـ مهر:**

د مهر تعریف: د ښځې هغه مالي حق ته ویل کیږي چې د نکاح په عقد باندې په خاوند او یا له هغې سره په جماع کولو لازمیږي.

کله چې د نکاح عقد تر سره شي د ښځې په میړه باندې مهر لازمیږي، الله تعالی په دې اړه داسې فرمایلي دي: ((**وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً** ...))[۱].

یعنې: ورکوي خپلو مېرمنو ته مهرونه د دوی په خوشحالۍ سره.

**۲ـ نفقه:**

نفقه عبارت له هغو مال څخه ده چې یو سړی یې پر خپله ښځه، اولاد، خپلوانو په مصرف رسوي نفقه بلل کیږي. هر کله چې ښځه د سړي په نکاح کې راشي نو په میړه باندې دا حق لري چې د هغې نفقه برابره کړي.

په نفقه کې: خوراک، څښاک، جامې، او د اوسیدلو ځای شمېرل کیږي. الله تعالی فرمایلي دي:((**أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ** ...)) [۲].

ژباړه: طلاقې شوې ښځې (د عدت په موده کې) په هماغه ځای کې استوګنه ورکړئ چېرته چې په خپله اوسیږئ (او هم ورته) د خپلې غنا (پراخی) په اندزاه (نفقه ورکړئ) او هغوی ته ضرر مه رسوئ چې تنګي پرې ورولئ(د کور څخه وتلو ته مجبورې کړئ).

نو کله چې له طلاق څخه وروسته په عدت کې وه نو په خاوند باندې د ښځې نفقه لازمه ده، د نکاح په حالت کې په طریقه اولی سره ورباندې لازمه ده، ځکه ښځه د خپل خاوند د اړتیاوو لپاره یې خپل ژوند د هغه په واک کې ورکړی دی، نو نفقه یې هم ورباندې لازمه ده.

الله تعالی په دې هکله فرمایلي دي: ((**لِيُنفِقْ ذُوسَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللهُ لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا**))[۳].

یعنې: شتمن دې له خپلې شتمنۍ سره سمه نفقه ورکړي، او چاته چې روزي کمه ورکړه شوې وي هغه دې له هماغه مال څخه لګښت ورکړي چې الله تعالی هغه ته ورکړي دی، الله تعالی چې چاته څومره

---

۱ (النساء: ٤).
۲ (الطلاق: ٦).
۳ (الطلاق: ۷).

څه ورکړي دي له هغې نه په زياتو هغه نه مکلفوي، ليرې نه ده چې الله له تنګ لاسی نه وروسته پراخي هم ورپه برخه کړي.

**البته:** د نفقې اندازه د خاوند د مالي توان او قدرت مطابق ده څه اسراف پکې نشته.

### ٣ـ حسن معاشرت (په احسان او نيکي سره ژوند کول):

دا چې ښځه له خپل خاوند سره د الله تعالی امانت دی، د خاوند په سترګو د ده کورته راغلې ده، نو په خاوند يې لازم ده چې له خپلې مېرمنې سره ښه اخلاق او ښه سلوک وکړي، تر څو د اسلامي شريعت په چوکاټ کې په مينه، محبت او نيکمرغۍ سره خپل ګډ ژوند تير کړي، الله تعالی فرمايلي دي: ((...**وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا**)) .(١)

يعنې: له هغو(خپلو ښځو) سره په ښه چلند ژوند تير کړئ (وړو وړو خبرو باندې ترې مه خپه کيږي ځکه) که چيرې دوی نه خوښوئ نو شايد چې تاسو به يو شی نه خوښوئ او په همغه کې به در ته الله جل جلاله ډېر خير(او برکت) واچوي.

همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم په يوه حديث شريف کې فرمايلي دي:«**أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَاناً : أَحْسَنُهُمْ خُلُقا ، وَخِيَارُكُمْ : خِيَارُكُمْ لأَهلِهِ**» (٢).

يعنې: د کامل ايمان څښتن هغه دی چې اخلاق يې ښه وي او ښه ستاسو کې هغه دی چې له خپل اهل سره ښه وي.

## ٢ـ د خاوند حقوق په ښځه باندې:

خاوند په خپله ښځه باندې دا لاندې حقونه لري:

### ١ـ اطاعت او فرمانبرداري:

په ښځه فرض دي چې د خپل مېړه د ټولو روا امرونو او احکامو اطاعت وکړي، او سرغړونه ترې ونه کړي او بدون د لټې څخه د مېړه امر قبول کړي، ځکه کورنۍ د ټولنې يوه برخه ده، او د وګړو مجموعه چې په هره برخه کې وي يو مشر او سرپرست بايد ولري چې د هغه اطاعت وکړي او د هغه د امر لاندې کار وکړي، نو سړی د خپلې کورنۍ مشر او سر پرست د الله تعالی له لوري ټاکل شوی، دهمدې وجهې له امله سړی د کورنۍ تمويل کوونکی دی، دټولو د نفقې بار د ده په اوږو پروت دي،

١ (النساء: ١٩)
٢ (جامع الأصول في أحاديث الرسول - (ج٤ /ص ٥).

ځکه باید ښځه او اولادونه د هغه اطاعت وکړي. الله تعالی فرمایلي دي:((**الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ**...))[1]. یعنې: نارینه په ښځو (په تدبیر) باندې پوره ولاړ دي (امارت او ریاست د دوی دی) د هغه شي په سبب سره چې (په هغه شي باندې) الله تعالی ځینې د دوی (نارینه وو) ته په ځینو نورو (ښځو) باندې فضیلت ورکړی دی، او له دې کبله چې نارینه خپل مالونه لګوي.

په یوه حدیث شریف کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:« **إِذَا صَلَّتْ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَحَفِظَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ زَوْجَهَا قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الْجَنَّةَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتِ** » [2].

یعنې: کومه ښځه چې خپل پنځه لمونځونه په خپل وخت اداء کړي، د روژې د میاشتې فرض روژه ونیسي، خپل د شرم ځای وساتی(له زنا او ځان د زنا دواعي ؤ څخه وژغوري)او د خپل خاوند اطاعت وکړي، نو دې ته به وویل شي: له هرې دروازې د جنت چې غواړې جنت ته ورداخله شه.

همدارنګه په بل حدیث شریف کې فرمایلي دي:« **أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الْجَنَّةَ** »[3].

یعنې: هر هغه ښځه چې مړه شي او مېړه ورڅخه خوښ او خوشحاله وي جنت ته به داخلیږي.

**٢ـ د مېړه په کور کې پاتې کیدل او بې ضرورته د خاوند له اجازې پرته له کور څخه نه وتل:**

مېړه په ښځه باندې دا حق لري چې د ده له اجازې پرته له کور څخه و نه ځي، تر څو د هغه د کور کار او اولادنو تربیې ته فارغه او په فتنو کې له لویدلو څخه محفوظه وي، الله تعالی فرمایلي: ((**وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ** ...))[4].

یعنې: په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ، او د تېر جاهلي دور غوندې سېنګارمه کوئ بې ستره مه ګرځئ.

---

١ (النساء: ٣٤).
٢ (مسند أحمد - (ج٣ /ص ١٩٩).
٣ (سنن الترمذي - (ج٣ / ص ٤٦٦).
٤ (الأحزاب: ٣٣).

په دې ايت کريمه کې الله تعالى د خپل نبي محمد صلى الله عليه وسلم امت ټولو ښځو ته حکم کوي چې په خپلو کورونو کې کيني تر څو پت او ناموس يې خوندي وساتل شي او د مېړونو حقوق يې پايمال نه شي.[1]

**۳ـ د خاوند عزت، کور، مال او اولادونو ساتنه او پالنه:**

مېره په ښځه باندې دا حق لري چې د ده د کور، مال او بچو ساتنه او پالنه وکړي. الله تعالى د صالحو ښځوپه هکله فرمايي: ((**فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ** ...))[2].

يعنې: کومې ښځې چې صالحې دي هغوي د فرمان منونې خوى لري او د نارينه وو په غياب کې د الله تر ساتنې او څارنې لاندې د هغو حقوقو ساتنه کوي.

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:« ښځه د خاوند د کور او اولادونو پالونکې او مسؤوله ده».[3]

**۴ـ د خپل خاوند لپاره زينت کول:** د مېره په ښځه دا حق دى چې د ده لپاره زينت وکړي، په ښه ښايسته او ښه بڼه چې د ده د خوښۍ سبب شي ورته ښکاره شي، تر څو د سړي ورسره مينه پيدا، د نورو ښځو له کتلو څخه مستغني او په فتنو او حرامو کې له لويدلو څخه ساتلى وي، رسول کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: « **الدُّنْيَا مَتَاع، و خَيْرُ مَتَاعِهَا المرْأةُ الصَّالحةُ، إنْ نَظَرَ إلَيْها سَرَّتْهُ، وإنْ أَمَرَهَا أَطَاعَتْه، وإنْ غَابَ عَنْها حَفِظْتُه في نَفْسهَا وَمَالِهِ**».[4]

يعنې: دنيا متاع (ناچيزه شي) ده چې ګټه ورڅخه اخيستل کيږي او د دنيا ښه متاع او ښه شى صالحه او نيکه ښځه ده چې سړى ورته وګوري خوشحاله شي او چې ورته امر وکړي نو اطاعت يې کوي او چې کله ورڅخه چيرته ولاړ شي نو د خپل ځان او د ده د مال حفاظت کوي.

**۵ـ مېړه ته د څلورو ښځوحق:** مېړه حق لري چې تر څلورو ښځو پورې نکاح وکړي او ښځهورباندې د اعتراض کولو حق نه لري. نو لازمه ده چې دښځو ګڼ توب بيان کړو:

## تعدد زوجات (د ښځو ګڼ توب)

نارينه حق لري چې له يوې څخه تر څلور ښځو په نکاح واخلي، دا هغه څه دي چې قرآن کريم ورباندې نطق کړي او په سنتو ثابت شوي، ټولو علماء کرامو په دې کې مخالفت نه دى کړي،

---

۱ (نظام الاسرة).
۲ (النساء: ٣٤).
۳(صحيح مسلم).
٤ (سنن ابن ماجه).

الله تعالی فرمايي: ((... **فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا**))[1].

يعني:تاسو په نکاح کړئ له نورو کومې ښځې چې ستاسې خوښېږي د هغو دوو دوو، درېيو درېيو، څلورو څلورو سره نکاح وکړئ، خو که له تاسې سره دا اندېښنه وي چې له هغو سره به عدالت ونه شئ کړای، نو يوه ښځه وکړئ يا له هغو (وينزو) نه ازدواجي کار واخلئ چې تاسې ته په لاس درغلی دي (د هغو مالکان ياست) په دې توګه بې عدالتۍ نه په ښه شان ژغورل کيدای شئ.

مقصد له عدل څخه دلته د ښځو تر منځ په لګښتونو او همداسې نورو شيانو کې عدل کول دي چې عدل په کې ممکن وي.

د ښځو ګڼ تو ب واجب او مستحب نه دی بلکه مباح دی، او د مباح کول او پرېښودل يو شان وي، مباح کار شخصي ګټې ته تابع دی،که مصلحت يې پکې وليد وبه يې کوي، او که مصلحت يې پکې ونه ليدلو پريږدي به يې، او په دواړو حالتونو کې ملامتې ورباندې نشته.

## د ښځو دګڼ توب حکمتونه

### ۱ـ د نارينه ؤ په نسبت د ښځو د شمېر زياتوالی:

په بشري ټولنه کې د ښځو شمېر نسبت نارينه وو ته زيات دي او په ځانګړې توګه له جګړو او انقلابونو وروسته شمېرنو ثابت کړې ده چې د ښځو شمېره د نارينه ؤ په پرتله څو برابره زياته شوې ده، د بېلګې په توکه په افغاني جهاد کې تقريباً يو نيم ميلون (۱۵۰۰۰۰۰) خلك شهيدان شول خو ګومان نه کيږي چې په سلو کې به پنځه ښځې وي، که اسلام دا کار حرام ګرځولای وي، نو دښځو آينده او انجام به څه ډول وي.

### ۲ـ د نسل زيات والی:

يوه ښځينه په کال کې يو ځل د تولد جوګه کيدای شي، او يو نارينه که چيرې څلور ښځې ولري نو په کال کې به يې څلور ماشومان وي، تر څو د اسلامي امت د قوت او پياوړتيا لپاره ځوانانو اوسړيو ته خورا ضروت دي تر څو د نورو امتونو سره په قوت او افرادو کې په شمېره کې مقابله وکړي له همدې امله رسول الله صلی الله عليه وسلم اسلامي امت د هغو ښځو نکاح ته هڅوي چې زيات اولادونه راوړي او تندرسې وې.

---

۱ (النساء: ۳).

**۳ـ د جنسي غريزې د بې ځايه استعمال مخنيوى:**

اسلامي شريعت د انساني فطرت د غوښتنو سره سم د سړي لپاره دزياتو ښځو سره واده كول روا ګرځولى دى، ځكه اسلامي شريعت د جنسي غريزې د قوت او په بشر باندې د هغې له اغيزو خبر دى، كه سړى ديوې ښځه د زياتو ښځو سره له نكاح منع كړاى شي نو د زياتو ستونزو سره به مخ شي، چې دغه زيان نه يواځې تر نارينه وپورې محدود پاتې نه شي بلكې ښځې به هم ترې اغېزمنې شي، چې په پايله كې به دواړه جنسونه دبندي كمزورۍ عقلي او فكري شكست سره مخ شي[۱].

**۴ـ د ښځو مرضي او شنډتوب:**

كله كله يوه ښځه په داسې مرض باندې اخته وي چې د جوړېدو اميد ترې نه كيږي، او يا داسې شنډه وي چې اولاد نه شي راوړلاى، او يا د كور كارونه په سمه توګه نه شي سمبالولى، او مېړه اولاد ته، او دكور د كارونو سمبال ته هيله او اميد لري كه چيرې دښځو ګڼ توب روا نه وي د دغو ستونزو حل به څه وو؟.

**۵ـ د ټولنيزې خطرناكې ستونزې علاج كول:** چې بشري ټولنې د جګړو په پايلو او آن په عادي حالاتو كې ورسره مخ كيږي او دغه ستونزې د ښځو د ډيروالى او د نارينه لږ توب دى، دغه ستونزه په بله شريفه او برياليۍ توګه نه شي حل كيداى، نو ځكه شرعاً د ښځو ګڼ توب روا شوي دى، او كه داسې ونه شي ښځې به غير مشروعو اړيكو ته لار پرانيزي، او په دې كې شك نشته چې شريفه ښځه دا خوښوي، چې د مېړه دوهمه ښځه شي، خو دا نه خوښوي چې د بل سړي معشوقه شي، نو پر دغه اساس د ګڼ توب په مبدأ باندې نيوكه كوونكي قول په خپل ځان او په خپل دليل كې بې معنا او د اسلامي شريعت خلاف دى.[۲]

## ۳ـ د ښځې او خاوند تر منځ ګډ حقوق

**۱ حسن معاشرت:** داوړه به يو له بل سره په نيكي كې ژوند كوي ښه او خوښ ژوند به تيروي.

الله تعالى فرمايي:((...**وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ** ...)) [۳].

يعنې: له هغو سره په ښه چلند ژوند تير كړئ.

او فرمايي: ((...**وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ** ...))[٤].

---

١ (فقه الاسرة).
٢ (د دعوت اصول)
٣ (النساء: ١٩)
٤ (البقرة: ٢٢٨).

یعنې: دښځو له پاره هم په معروفه توګه هماغسې حقوق دي لکه څنګه چې د نارینه وو پر هغو حقوق دي.

**۲ـ د استمتاع تحلیل:** چې څه شرعي مانع لکه حیض، نفاس او مرض نه وي د بشري طبیعت د غوښتنې مطابق له یو بل څخه مشروع خوند او ګټه اخیستل، ښځې په مېړه باندې دا حق لري چې د شپې یوه برخه ورسره تیره کړي او ټوله شپه په عبادت او یا په نورو کارنو باندې مشغول نه شي چې له هغې څخه لري و اوسي. همدارنګه مېړه په مېرمن باندې هم حق لري چې کله یې د کورواله له پاره را وغواړي قبول یې کړي او انکار ورڅخه ونه کړي.

**۳ـ د کور د ننه کارونه کول:** د ماشومانو پالل، او د یو بل سره مرسته کول او یو بل ته په نیکي او تقوی نصیحت کول، الله تعالی فرمایي:((...**وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ** ...))[1].

یعنې: کوم کارونه چې د نیکۍ او خدای پالنې دي په هغو کې له ټولو سره مرسته وکړئ او کوم کارونه چې د ګناه او تیري وي په هغو کې د چا ملاتړ مه کوئ.

**۴ـ د میراث حق: زوجینو ته شرعاً د وراثت حق ثابت دي:** زوجینو ته شرعاً د میراث حق ثابت او لازم دي، هر کله چې یو د زوجینو څخه وفات شي نو بل ورڅخه میراث وړي.

## ۲ـ دمور اوپلار حقوق

مور او پلاردکورني نظام جوړونکي دي، مور اوپلار دکورنی نظام په جوړولو او په بشپړولو کې لوړ او اوچت مقام لري، ځکه مور اوپلار هغه څوک دي چې الله تعالی ددوی دواړو په واسطه سره بشر ته ډیر والی ور کړی دی اوورکوي یې په داسې توګه چې کورنۍ اوټولنه د دوی په واسطه زرګونو اومتونو ته رسولي دي، نو هم له دې کبله داسلام مبارک دین مور او پلار ته خورا ارزښت ورکړی او په اولاد باندې یو لړ حقوق وضع کړي دي چې په لاندې ډول سره یې بیانوو:

الله تعالی فرمایلي دي: ((**وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا (۲۳) وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ**

[1] (المائدة: ۲).

**الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا (٢٤) رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ إِن تَكُونُوا صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلْأَوَّابِينَ غَفُورًا(٢٥).))**[1]

ژباړه:او ستا رب حکم کړی دی(په تاسو باندې يې فرض کړې ده) چې تاسو (د بل هیچا) عبادت مه کوئ مګر د همده (الله تعالی)، او (هم) د مور او پلارسره (احسان وکړئ) احسان کول، که چیرته ستا په نزد هرومرو د دوی دواړو ځخه یو تن او یا دواړه بوډاوالي ته ورسیږي نو دوی دواړو ته اُف (قدرې هم) مه وایه او دوی دواړه مه رټه او(هم) دواړه ته د کرامت ځخه ډکه(نرمه او پسته) خبره کوه.

(۲۴) او دوی دواړو ته د تواضع وَزَر د مهربانۍ (او زړه سوي) د کبله ښکته کړه (خواره کړه) او (خپل رب تعالی ته د دوی دواړو د پاره د سوال لاسونه پورته کړه) او ووایه چې: ای ربه! په دوی دواړو باندې مهرباني وکړې (او په دنیا او آخرت کې یې داسې وپالې) لکه چې دوی دواړو زه د وړکتوب په حال کې پاللی یم.

(۲۵) ستاسو رب په هغه شي باندې ډېر ښه پوهیږي کوم چې ستاسو په زړونو کې دي (نو دوی دواړو ته په زړه کې هم مه په غصه کیږئ)، که چېرته تاسو(ظاهراً او باطناً) صالحین یاست نو یقیناً الله ډېرو رجوع کوونکو ته (دګناهونو) ښنونکی دی.

او فرمايي: ((**وَاعْبُدُوا اللهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا...**)).[2]

ژباړه: او د الله بندګي وکړئ او هیڅ شي ورسره مه شریکوئ، او د مور او پلار سره نیکي وکړئ.

يعنې: ای مؤمنانو! تاسو ته توصيه کيږي چې ټول شريعت عملي کړئ او هر چا ته خپل حق ورکړئ، چې يو له هغو نه د مور او پلار حقوق دي، او د مور او پلار سره د زړه له کومې ښېګڼې کوئ ځکه ستاسو په روزنه کې دوی دواړو ډېر روحي او بدني زيارونه ويستلي دي او ستاسو نېکيوته سترګې په لار دي، نو د دوی اُميدونه د خاورو سره مه خاورې کوئ.

الله تعالی د خپل حق ځخه وروسته د مور او پلار حق متصل ذکر کړ تر ځو جوته شي چې د بنده ګانو په حقوقو کې د دوی حق ډېر درووند دی، په دې باره کې د قرآن کريم زيات آيتونه نازل شوي او زيات احاديث پکې روايت شوي دي. لاندې يو حديث د بېلګې په توګه ذکر کوو: نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: « **رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ** ». [3]

---

١ (الإسراء:٢٣- ٢٥).
٢ (النساء: ٣٦).
٣ (سنن الترمذي - (ج٤ / ص٣١٠).

يعنې: د الله تعالی رضا د والد (مور او پلار) په رضا کې ده او د الله غضب د والد(مور او پلار) په غضب کې دی.
مور او پلار په اولاد باندې زيات حقوق لري چې ځينې په لاندې ډول دي:

**۱ـ د مور او پلار د ژوند په حالت کې حقوق:**

۱ـ **اطاعت کول:** نو له هر څه نه اول پر اولاد باندی فرض ده چی د مور او پلار اطاعت وکړی او هره خبره او هر امر يی ومنی.
۲ـ **ښيګڼه (احسان کول):** قران کريم کې هم د احسان لفظ ذکر شوی دي.
۳ـ **خدمت کول:** د مور او پلار په اولاد خدمت فرض دی.
۴ـ ادب او درناوی يې کول.
۵ـ تواضع کول.
۶ـ مور او پلار ته دعا کول (مغفرت ورته غوښتل د الله تعالی نه).
۷ـ مور او پلار رضامند ساتل.
۸ـ د مور او پلار احترام ساتل په ټولنه کې.
۹ـ اجازه اخيستل بايد اولاد چې هر کار کوي له مور او پلار څخه اجازه واخلي.
۱۰ـ مننه کول له مور او پلار نه.
۱۱ـ نفقه کول يعنی چی مور او پلار که چيری محتاج وی نو پر اولادونو فرض دی چی لګښت پری وکړی.
۱۲ـ حق د ميراث.
۱۳ـ تکفين او تدفين کول: يعنې که مور او پلار يې وفات شي نو په اولاد باندې يې تکفين او تدفين کول لازم دي.
دويمه برخه

**۲ـ د مور او پلار له مرګه څخه وروسته حقوق:**

۱ـ مغفرت او دعا ورته کول.
۲ـ د مور او پلار قرض ادا کول.
۳ـ د ژمنې پوره کول (د مور او پلار که د چا سره وعده کړی وی د هغوی پوره کول).
۴ـ حقوق الله ادا کول.
۵ـ خيراتونه او صدقه ورپسي کول.

۶ـ زيارت کول.
۷ـ د خپل پلار د دوستۍ د خاوندانو سره دوستي کول.

## ۳- د اولاد حقوق

د اسلام په ټولنيز نظام کې نيک او صالح اولاد په هغه وخت کې منځته راتللی شي، چې مور او پلار يې په ځانګړو اسلامي اصولو په رڼا کې لوی کړي، له همدې کبله د اسلام مقدس دين مور او پلار د خپل اولاد د راتلونکي ذمه وار ګڼلي دي، لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم داسې ارشاد کړي دي: « **كُلُّ إِنْسَانٍ تَلِدُهُ أُمُّهُ عَلَى الْفِطْرَةِ وَأَبَوَاهُ بَعْدُ يُهَوِّدَانِهِ وَيُنَصِّرَانِهِ وَيُمَجِّسَانِهِ فَإِنْ كَانَا مُسْلِمَيْنِ فَمُسْلِمٌ** ...». [1]

ژباړه: هر انسان د هغه مور يې په فطری دين (اسلام) زيږوي بيا وروسته د هغه مور او پلار هغه يهودی وګرځوي، يا مجوسي ګرځوي، نو که چيری مور او پلار يې مسلمانان وي مسلمان يې لوی کړي .
يعنې: د مور غيږ د اولاد لومړۍ مدرسه او کور يې لومړنۍ ټولنه وي، که چېرې مور او پلار خپل اولاد په باره کې هغه مسؤليتونه او حقوق اداء کړي چې اسلام پر دوی باندې لازم ګرځولي نو په دې صورت کې به اولاد د مور او پلار او ټولنې لپاره به يو لوي نعمت وي، ځکه دوی به په اسلامي روزنه سره تربيه شوي وي او د ټولنې په خير به وي. نو اوس غواړو چې د اولاد شرعي حقوق په لاندې ډول بيان کړو:

**۱ـ اولاد ته د نيکې مور غوره کول:** يو له حقوقو څخه د اولاد په پلار باندې دا دي چې نيکه مور ورته غوره کړي، ځکه نيکه مور د اولاد په تربيه کې زيات نقش لري، په دې خبره ډېر احاديث دلالت کوي، له عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: :«**تَخَيَّرُوا لِنُطَفِكُمْ فِإنَّ النِّساءَ يَلِدْنَ أَشْباهَ إِخْوَانِهِنَّ وأَخَوَاتِهِنَّ**»[2].

يعنې: تاسو د خپلو نطفو لپاره ښه ځايونه غوره کړئ، ځکه ښځې خپلو وروڼو او خويندو ته ورته اولادونه زيږوي.

---
۱ (صحيح مسلم - (۸ / ۵۳).
۲ (جامع الأحاديث - (ج۱۱ /ص ۲۳۴).

**۲ـ د نسب ثبوت:** یو له حقوقو د اولاد په مور او پلار باندې د نسب ثبوت دي له مور او پلارڅخه اګرکه تولد شوی هم نه وي، او هیڅوک دا حق نه لري چې د اولاد دغه حق سلب کړي او یا له دوی څخه انکار وکړي.

**۳ـ تی ورکول:** د اولاد دریم حق پر مور او پلار باندې د وړوکوالی په موده کې تی ورکول دي،نو کله چې ماشوم تولد شي او له مینځلو وروسته مور په خپله مهربانه غیږه کې واچوي او تی د ورکړي څکه تی ورکول د ماشوم شرعي حق دی الله تعالی فرمایلي دي: ((**وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ**))[۱].

ژباړه: او مورګانې دې خپلو اولادنو ته پوره دوه کاله تی ورکوي.

**۴ـ په غوږ کې آذان، او اقامت کول:** د اولاد بل حق په مور او پلار باندې دادی چې په ښي غوږ کې آذان او په کیڼ غوږ کې اقامت کول دي او دا سنت طریقه ده څکه ابن عباس رضي الله عنهما روایت کوي: « **أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذَّنَ فِي أُذُنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ يَوْمَ وُلِدَ، فَأَذَّنَ فِي أُذُنِهِ الْيُمْنَى، وَأَقَامَ فِي أُذُنِهِ الْيُسْرَى** ».[۲] یعنې: په تحقیق سره په کومه ورځ چې حسن بن علی زیږیدلی ؤ نو نبي صلی الله علیه وسلم د هغه په غوږ کې آذان وکړ ، ښي غوږ کې آذان او په کیڼ غوږ کې یې اقامت وکړ.

**۵ـ په اولاد باندې نیک نوم ایښودل:** د اولاد په مور او پلار باندې دا حق دی چې نیک اسلامي نوم پر خپل بچي کیږدي، څکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: « **إِنَّكُمْ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ** » [۳].

یعنې: تاسې به د قیامت په ورځ ستاسی په نومونو او ستاسې د پلرونو په نومونو بللی شي نو تاسی ښه، نیک او مشروع نومونه کیږدي.

ښه نومونه: لکه عبدالله، عبدالرحمن او نور هغه نومونه چې مضاف وي اسم الله ته. نو باید د شرکي او نامناسب چې په اسلامي ټولنه سره سمون نلري د داسې نومونو څخه ډډه وشي.

**۶ـ دسرویښتان لرې کول:** په مور او پلار باندې اولاد دا حق دی چې دتولد په اوومه ورځ یې د سر ویښتان لرې کړي، که هلک وي او که نجلۍ وي.

---

۱ (البقرة: ۲۳۳).
۲ (شعب الإيمان - (ج۱۱ /ص ۱۰۷).
۳ (سنن أبى داود - (ج۴ /ص ۴۴۲).

۷ـ **سنتي کول**: د اولاد اووم حق په مور او پلار باندې سنتي کول دي او د تولد په اوومه ورځ غوره دي.
۸ ـ **عقیقه**: عقیقه یو مشروع حق د اولاد په والدینو باندې دي په خاطر د شکرانې د الهي نعمت، ځکه اولاد په حقیقت کې یو الهي نعمت دي، باید د بنده لطرفه په شکر سره استقبال شي.
عقیقه یوه عربي کلمه ده په لغت کې څیرولو ته له منځه تللو او جدا کولو ته وایي.
او په اصطلاح کې: هغه څاروی او پسه ته ویل کیږي چې د ماشوم د زږیدنې په اوومه ورځ د ماشوم د سر له ویښتانو لرې کولو څخه وروسته ذبحه کیږي. (۱)
**حکم:** د عقیقی حکم سنت دی او ځینې فقهاء کرام یې واجب بولی.
۹ـ **نفقه او لباس:** پر مور او پلار باندې د اولاد نفقه اولباس واجب دي تر څو چې بالغ شوی نه وي، دا دهغو اولاد په باره کې چې نارینه وي او د ګټې او روزي ګټلو وړ او جوګه وي، مګر که اولاد یې شل شوې وي نو ټول عمر به یې نفقه او لباس په مور او پلار دي، اود لورګانو نفقه او لباس پر مور او پلار تر هغه وخته پورې به یې ورکوي تر څو واده کړای شي، او وروسته بیا یې نفقه او لباس په میړه باندې فرض ګرځي، مور او پلار له دغې وجیبی څخه شرعاً خلاصیږي.
۹ـ **مسکن(اوسیدلو ځای)**: د اولاد نهم حق پر پلار باندې مسکن دی او په پلار باندې واجب دي چې خپل وړوکي اولادونه په خپل کور کې لوی کړي او له خپلو پلرنیو پیرزوینو مینی او محبت څخه یې برخمن کړي.
۱۰ـ **سرسایه**: په مور او پلار باندې د اولاد لسم حق سرسایه ده، د زامنو تر بلوغ پورې او د نجونو تر هغه وخته پورې صدقه ئې فطر پر پلار باندې ورکول واجب دی چې واده شوې نه وي، او که چیرې وروسته له واده طلاقه کړای شي او یا یې میړه وفات شي او بیرته د پلار کور ته لاړه شي نو نفقه، لباس،او سرسایه یې بیرته پر پلار باندې ده.
۱۱ـ **اسلامي تربیه او روزنه ورکول**: د اولاد په مور او پلار باندې یوولسم حق روزنه او تربیه ده، مور او پلار شرعاً مکلف دي چې د اولاد په تربیه او روزنه کې زیاتې هڅې وکړي، ځکه اولاد یوه لویه سرمایه دڅوند ده، د اولاد تربیه مختلفو برخو ته ویشل شوې ده، لکه عقیده، اخلاق، فکر، صحت، اوداسې نور، په مور او پلار باندې واجب دي چې اولاد ته په ټولو برخو کې سالمه روزنه او تربیه ورکړي، مګر که سالمه روزنه ور نه کړي نو د دنیا او آخرت له بدمرغی، هلاکت او تباهی سره به مخ

۱ (د اولاد شرعي حقوق ص ۳۴).

کړای شي چې عذاب او سزا کې به مور او پلار هم شریک وي، او الله تعالی مور او پلار ته امر کړی دی چې: ((... **قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا** ...))[1].

یعنې: خپل ځانونه او اولادونه له اور څخه وساتي.

نو له همدې امله والدینو ته پکار دي چې خپل اولاد په شرعي روزنه سره د دوزخ د اور په پرتله د دنیا له اور څخه یې وژغوري او هغه داسې چې ښه ادب او نیک اخلاق ورزده کړي اود بدانو له ملګرتیا او ناستې ولاړې څخه یې منعه کړي، ځکه هر ډول فساد له بد ملګري څخه منځته راځي، او د بدو اخلاقو خاوندان سره ناسته ولاړه مستقیماً د مسلمان په اخلاقو ژوری اغیزې لري همدا وجه ده چې رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي: «**الْمَرْءُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلْ** » [2].

ژباړه: هر تن د خپل ملګري په دین وي نو خپل ملګري ته دې وګوري چې په کوم دین دی. د بدو اخلاقو د څښتنانو سره ناسته ولاړه کول مستقیماً د انسان د ناوړو اخلاقو سبب کیږي، نوپه مور او پلار لازم دي چې خپل اولادونه خپلې مخې ته پرنیږدي، تر څو د ناوړو اخلاقو ښکار نه شي.

## تبنَیت (پردی ماشوم خپل زوی جوړول)

په عربو کې دا دود وو چې یو سړي به اجنبي ماشوم په زوی توب سره ونیوو خلکو به د هغه سکه زوی ګاڼه او د هغه به یې خپل نسل او نسب سره یو ځای حقوق ورکول او دهغه به وارث ؤ. لکه څرنګه چې د حضرت عایشې څخه روایت دی:«**كَانَ مَنْ تَبَنَّى رَجُلًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ دَعَاهُ النَّاسُ إِلَيْهِ وَوَرِثَ مِنْ مِيرَاثِهِ**...» [3].

یعنې: په جاهلیت کې به چا چې کوم هلك په زوی توب ونیو، د هماغه زوی به ګڼلی شو او د هغه وارث به ؤ او د هغه له ملکیت څخه به یې میراث وړو.

لکه څرنګه چې پلار له پاره د خپل نسبي اولاد نه انکار کول جائز نه دې نو همدارنګه د بل چا د ماشوم خپل زوی جوړول ناجائز کاردی، د جاهلیت په زمانه کې دا یو دود ؤ، او دا تبنیت په داسې صورت کې هم دوی اختیارولو چې د متبنَي نسب او پلار به هم معلوم ؤ کله چې اسلام راغلو د عربو په قبیلو کې دا طریقه رواج وه او د اسلام مبارك دین دا کار حرام او باطل کړي، الله تعالی فرمایلي

---

١ (التحریم: ٦).
٢ (شعب الإیمان - البیهقي - (ج٧ / ص٥٥).
٣ (صحیح البخاري - (ج٥ /ص ١٩٥٧).

دي: ((**وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَاهِكُمْ وَاللهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ (٤) ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ اللهِ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ**...))[1].

ژباړه: او(هم) الله جل جلاله ستاسو بللي شوي (پردي زامن) ستاسو زامن نه دي ګرځولي(چې ستاسو د اصلی زامنو غوندې حيثيت ولري) دغه (ذكر شوې جملې فقط) ستاسو په خولو سره ستاسو خبرې دي(واقيعت ته تغير نه شي وركولی). او الله تعالی حقه خبره كوي، او همدی (الله تعالی سمې) لارې ته لارښودنه كوي(نو نه په زوی نيولو سره پردی سړی زوی جوړېدلی شي).

(۵) (ای مؤمنانو!) تاسو هغوی(زامن بللی شوي كسان) خپلو پلرونو ته وروبلئ(همدوی ته يې منسوب كړئ)، دا (خپلو پلرونو ته وربلل) د الله تعالی په نزد ښه انصافي خبره ده. نو كه تاسو يې په پلرونو باندې علم نه لرئ (چې څوک - څوک دي) نو (هغوی خو) په دين كې ستاسو وروڼه او ستاسو محبوبان (دوستان) دي (نو د وروڼو او دوستانو په نامه يې وبلئ).

څكه د پردي ماشوم څخه دخپل كور يو غړی جوړول سبب د فساد او فتنو ګرځي او هغه د كور د ښځو سره په داسې خلوت كې اوسيږي لكه چې د هغو محرم وي، همدارنګه چې هغه د هغوی محرم نه شي كيدای، او دا ښځې د هغوئ د پاره پردې وي كوم سړی چې څوک په زوی ولئ نيسي هغه خپل وارث جوړه وي په دې صورت كې اصل ميراث خواره د هغه ميراث نه محروميږي، او د هغو په زړونو كې كينه پيدا كيږي، چې بلآخره د فتنو او د اړيكو د خرابې سبب كيږي، نو له همدې امله دا كار په اسلام كې ناروا او باطل ګرځول شوي دی.

مګر يو صورت داسې دی چې د دېنه جدا دی هغه دا چې يو سړی يو يتيم بې وارثه ماشوم خپل ځان سره وساتي او د هغه سره مشفقانه رويه وكړي او د هغه پرورش او تربيت داسې وكړي لكه د خپلو حقيقي زامنو، هغه ته خوراک، څښاک، او د تعليم اسباب ورته برابر كړي، يعنې د خپل زوی په شان ورسره سلوک وكړي مګر د دې ټولو خبرو با وجود هغه خپل طرف ته منسوب نه كړي او نه د زوی د احكامو اطلاق په هغه باندې وكړي نو كه په دې حدودو كې وساتل شي او د هغه كفالت وكړي نو دا به يوه غوره خبره وي او د غه سړی به د اجر مستحق ګرځي.[2]

يعنې په خلاصه ډول سره ويلی شو:

---

۱ (الأحزاب:۴-۵).

۲ (حلال او حرام په اسلام كې).

په زوی توب نیول: هغه ډول حرام دي چې د بل چا زوی څوک د خپل زوی په حیث ونیسي او د زوی توب په ټولو حقوقو ورته قائل شي، د بېلګې په توګه چې د ښځې او لورانو حجاب(ستر) یې د منځه لاړ شي او هم یې نکاح ورباندې حرامه وګڼله شي، او په میراث کې هم ورته په برخه قائل شي او داسې نور، نو دا کار حرام او ناروا دی.
او که د لاوارث ماشوم پالنه او روزنه وکړي او د حقیقي زوی په حقوقو ورته قائل نه شي، نو دا عمل په خپل ذات کې ډیر بشر دوستانه او له اسلامي شریعت سره سم عمل دی.

## د دویم څپرکي لنډیز

د دویم څپرکي د مطالبو لنډیز په لاندې ډول سره دی.
**د اسلام په ټولنیز نظام کې د فرد (وګړی) جوړښت:** په اسلامي ټولنه کې د فرد جوړښت په ایمان، عقیده،او اسلامي اخلاقو او آدابو باندې ضروري دي تر څو د اسلامي ټولنې اساس او بنسټ شي. اود منکراتو مخه ونیسي.

**د اسلام په ټولنیز نظام کې د کورنۍ جوړښت د دوو عمده موخو په بنیاد جوړیږي.**

لومړي: واده کول انسانی فطرت ته لبیك ویل دي. دویم: په واده باندې ټولنیزې ښیګڼې تر لاسه کیږي.

**د نکاح کول عامې ټولنیزې ښیګڼې په لاندې ډول دي:**

د انساني نسل ساتنه، او زیاتوالی، د نسب ساتل، د ناوړه اخلاقو څخه د اسلامي ټولنې خوندی والی، د ناروغیو څخه د ټولنې روغوالی.

**د واده پیلامې**

واده د کورنۍ د جوړښت او د بشري جنس د بقا لپاره طبیعي لاره ده، او اسلام هغې ته تشویقول کړي او هغه یې له خپلو سنتو څخه ګڼلي دي، او د واده پیلامې په لاندې ډول دي:
۱ـ **خطبه:** خِطبه په لغت کې: د نکاح غوښتنې ته وایي. او په اصطلاح کې: له یوې ټاکلې ښځې سره د واده کولو رغبت ښکاره کولو ته خِطبه ویل کیږي.

**د خِطبې شرطونه**

په یوه ښځې هغه وخت خطبه کول جائز دي چې لاندې دوه شرطونه ولري:
۱ـ چې ښځه په موقت او یا ابدي توګه حرامه نه وي. ۲ـ ښځه باید دبل چا مخطوبه نه وي
**۲ـ انتخاب (ټاکنه) او د هغې شرطونه او آداب:**

د اسلامي شريعت له مخې په دې کې شک نشته چې کامیاب واده د سړي لخوا د ښې ښځې په انتخاب او همدا شان د ښځې لخوا د مناسب سړي په خوښولو پورې اړه لري .

**د نارینه له خوا د ښځې د غوره کولو شرطونه.**

دینداري، د نسب ښه والی، مینه ناکې او اولاد راوړنکې، په نسب کې لرې والی،او پیغله اود روغ صحت څښتنه.

**د ښځې لخوا د زوج (مېړه) غوره کولو شرطونه**

تقوا او دینداري، اود عمر نژدیوالی.

نکاح په لغت کې: ضم (یو ځای کولو) ته وایي. او په اصطلاح کې: هغه عقد ته ویل کیږي چې سړي او ښځې ته له یو بل څخه نفع اخیستل روا کوي.

**د نکاح حکم**: نکاح یو مشروع عمل دی، مشروعیت یې په کتاب الله، نبوي سنتو، او اجماع سره ثابت دي.

**د نکاح د صحت لپاره مهم شرطونه په لاندې ډول بیانیږي:**

۱ـ ایجاب او قبول به په یوه مجلس کې تر سره کیږي.

۲ـ ایجاب او قبول به په لوړ غږ سره وي ترڅو یو بل سره پوه شي.

۳ـ د ایجاب او قبول الفاظ به دائمي وي.

۴ـ عقدکوونکي به دواړه د عقل خاوندان وي.

۵ ـ عقدکوونکي به بالغ او آزاد وي.

۶ـ په نکاح کې به شاهدان موجود وي.

۷ـ د ښځې رضایت.

۸ ـ زوج او زوجه به معلوم وي.

**د نکاح ډولونه:**

نکاح په څلور ډوله ده: صحیح نکاح، باطله نکاح، فاسده نکاح او موقوفه نکاح.

**د نکاح آداب**

۱ـ ښه نیت لرل:

۲ـ په مینه او محبت سره نکاح کول.

۳ـ په نکاح کې باید اعلان وشي.

۴ـ نکاح باید په مسجد کې وتړل شي.

۵ـ نکاح باید یو عالم یا نیک او صالح سړی باندې وتړي.
۶ـ د نکاح تړلو څخه وروسته دې خپلوان او ملګري مبارکي ورکړي.
۷ـ د نکاح تړلو څخه وروسته خواږه شیان یا بل شي وېشل مستحب دي.
۸ـ په نکاح کې باید مهر ډېر زیات نه وي.

### د نکاح محرمات

محرمات په دوه ډوله دي:

۱ـ ابدي محرمات.
۲ـ موقتي محرمات.

**ابدي محرمات**: ابدي محرمات هغه دي چې د تحریم سبب یې دائمي او د تل لپاره نکاح ورسره حرامه وي.

ابدې محرمات په درې ډوله دي:

۱ـ د نسب پر اساس محرمات.
۲ـ د مصاهرت (سخرګنې) پر اساس محرماتې.
۳ـ رضاعي محرمات.
۲ـ موقتي محرمات.

**مؤقت محرماتې**: هغه ښځې دي چې د موقت وخت لپاره دیو ټاکلي سبب له امله ورسره نکاح کول حرام دي.

۱ـ دوه محرمې ښځې په یو ځای په نکاح کول.
۲ـ پنځمه ښځه کول.
۳ـ د بل شخص د ښځې سره او د طلاقه اومرګه وروسته په عدت کې ښځه.
۴ـ له هغې ښځې سره نکاح چې کوم آسماني دین معتقده نه وي.

### د نکاح اثار او پایلې

د نکاح د تړون پر بنسټ یو پر زوجینو(مېرمن او خاوند) باندې ځینې حقوق او واجبات ثابتیږي چې په لاندې ډول دي:

### ۱ـ د ښځې او خاوند حقوق

د نکاح د تړون پر اساس اسلامي شریعت د ښځې او د هغې د خاوند تر مینځ ځینې حقوق او واجبات ټاکلي دي، چې دهغو په پام کې نیول لازمي دي، چې په لاندې ډول دي:

**۱ـ د ښځې حقوق په خاوند باندې:**

دښځې حقوق په خاوند باندې عبارت دي له: مهر، نفقه، حسن معاشرت.

**۲ـ د خاوند حقوق په ښځه باندې**

خاوند په خپله ښځه باندې لاندې حقونه لري:

۱ـ اطاعت او فرمانبرداري.

۲ـ د مېړه په کور کې پاتې کيدل او بې ضرورته د خاوند له اجازې پرته له کور څخه نه وتل.

۳ـ د خاوند عزت، کور، مال او اولادونو ساتنه او پالنه.

۴ـ د خپل خاوند لپاره زينت کول.

دښځو ګڼ توب

**تعدد زوجات (د ښځو ګڼ توب):** يو نارينه تر څلورو ښځو پورې په نکاح اخيستلی شي، خو په دې شرط سره چې عدل به کوي.

**د ښځو دګڼ توب حکمتونه**

۱ـ د نارينه و په نسبت د ښځو د شمېر زياتوالی.

۲ـ د نسل زيات والی.

۳ـ د جنسي غريزې د بې ځايه استعمال مخنيوي.

۴ـ د ښځو د مرضې او شنډتوب.

۵ـ د ټولنيزې خطرناکې ستونزې علاج کول.

**۳ـ د ښځې او خاوند تر منځ ګډ حقوق:** حسن معاشرت، د استمتاع تحليل، وراثت او د خپل منځ رازونو ساتل.

**۲ـ دمور اوپلار حقوق**

د مور او پلار حقوق په دوو برخو ويشل شوي دي: مخکې له مرګ نه او وروسته د مرګ څخه.

**۱ـ د مور او پلار د ژوند په حالت کې حقوق:**

۱ـ اطاعت کول، ښيګڼه ورسره کول، ادب او درناوي يې کول، په مخ کې يې عاجزي کول، مغفرت ورته غوښتل، خوشحاله ساتل،په ټولنه کې د مور او پلار درناوی ساتل، اجازه اخيستل ترې، مننه کول ترې، د احتياج په وخت کې نفقه، او تکفين او تدفين.

**۲ـ د مور او پلار له مرګه څخه وروسته حقوق:**
۱ـ مغفرت او دعا ورته، قرض اداء کول، ژمنه یې پوره کول، خیراتونه اوصدقه ورپسي کول، زیارت کول او د دوستانو سره یې دوستي کول.
**۳ـ د اولاد حقوق:**
اولاد ته د نیکې مور غوره کول، د نسب ثبوت، تی ورکول، په غوږ کې آذان کول، اسلامي نوم پرې ایښودل، د سر ویښتان یې لرې کول، سنتي کول، عقیقه، نفقه. او اسلامي روزنه ورکول.
**تبنّیت(پردی ماشوم خپل زوی جوړول)**
پردي ماشوم په زوی توب سره نیول دا کار حرام دی اودا هغه وخت حرام دي چې د بل چا زوی د خپل زوی په حیث ونیسي او د زوی توب په ټولو حقوقو ورته قائل شي، د ښځې په توګه چې د ښځې او لورانو حجاب(ستر) یې د منځه لاړ شي او هم یې نکاح وربانديې حرامه وګڼله شي، او په میراث کې هم ورته په برخه قائل شي او داسې نور، نو دا کار حرام او ناروا دی.
او که د لاوارث ماشوم پالنه او روزنه وکړي او د حقیقي زوی په حقوقو ورته قائل نه شي، نو دا عمل په خپل ذات کې ډیر بشر دوستانه او له اسلامي شریعت سره سم عمل دی.
**پوښتنې:**
۱ـ د فرد په جوړولو کې کوم عوامل اغیزمند دي.
۲ـ کورنۍ څه ته وایي.
۳ـ د خِطبه تعریف او شرطونه ذکر کړي.
۴ـ نکاح په لغت او صطلاح کې تعریف کړي.
۵ـ د نکاح ارکان او شروط ذکرکړي.
۶ـ دنکاح محرمات په څو ډوله دي او هر یوروښانه کړئ.
۷ـ د زوجینو حقوق په څو برخو ویشل شوي دي.

# درېيم څپرکی
# دکورنیو د انحلال (له منځه تللو) سببونه

**تولیزه موخه:**
د کورنیود انحلال(له منځه تللو) د سببونو پېژندل او هغوی ته د حل لارې پیدا کول

**ښوونیزې موخې**: د دې څپرکي په پای کې به زده کوونکي وکولای شي چې:
- د کورنیو د انحلال(له منځه تللو) سببونه به وپېژني.
- د طلاق تعریف، ډولونه او احکام وپېژني.
- د خلعې تعریف، ډولونه او احکام وپېژني.
- د تفریق او ارتداد احکام وپېژني.
- د لعان، ظهار او د ایلاء احکام زده کړي.
- د کورنیو د ستونزو د حل لارې او چارې وپېژني.
- د اسلام له نظره د کورنیو تنظیم او د نسل محدود کولو احکام به زده کړي.

**سریزه:**
دا چې نکاح داسې یو عقد او تړون دی چې د ابد او د ټول عمر لپاره به وي او په داسې نیت به څوک نکاح نه کوي چې تر محدود وخت پورې وي، څکه دا د جاهلیت د زمانې رسم او رواج ؤ چې تر یو وخت پورې به یې د ځان لپاره ښځې په نکاح کولې، نو مسلمان باید له داسې کار او نیت څخه ځان ډېر لرې وساتي چې په هغه سره د نکاح مات والی او خپل عمري تړون له منځه یوسي خو که بیا هم داسې اسباب او علتونه موجود شي چې د مېړه او ښځې تر منځ ګډ ژوند سخت وي نو بیا د انحلال الازدواج(د نکاح له منځه تللو) صورت هم په اسلامي شریعت کې جائز دی، دکورنیو د انحلال (له منځه تللو) سببونه په لاندې ډول دي:

## ۱ـ طلاق

میړه دا حق لري چې خپله ښځه طلاقه کړي، طلاق په اسلامي شریعت کې جائزکار دی، مگر د الله جل جلاله په وړاندې په ټولو حلالو کې ناخوښ حلال طلاق دی، په حدیث شریف کې راځي: « **أَبْغَضُ الْحَلاَلِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى الطَّلاَقُ** » [1]. یعنې: الله تعالی ته ډیر بد ګڼل شوی حلال، طلاق دي.

او اسلامي شریعت د میړه او ښځې تر مینځ د ستونزو د ورستي حل په توګه روا کړی دی.

**د طلاق تعریف:**

طلاق په لغت کې: د خوشې کولو او پرېښودلو په معنا دي.

طلاق په اصطلاح کې: په ځانګړو الفاظو سره د نکاح د عقد، تړون او رابطې پریکولو او پای ته رسولو ته طلاق ویل کیږي.

**د طلاق د مشروعیت دلایل:**

طلاق په قرآن کریم، نبوي احادیثو او د امت د اجماع څخه ثابت دی.

**۱ـ له قرآن کریم څخه دلائل**: ((**الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ** ...))[2].

ژباړه: (رجعي) طلاق دوه ځله دی بیا نو په تاسو باندې یا په معروفه (شرعي) طریقه ساتل واجب دي اویا په احسان خوشې کول.

دویم دلیل له قرآن کریم څخه: ((**لَّا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ**...)) [3].

ژباړه: په تاسو باندې ګناه نشته چې ښځې طلاقې کړئ هغه ښځې کومې چې نه وي ورنژدې شوي.

**۲ـ د نبوي احادیثو څخه دلیل**: له حضرت نافع رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی: « چې عبد الله بن عمر رضي الله عنه خپله ښځه د حیض په حالت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې طلاقه کړه عمر بن خطاب رضي الله عنه په دې اړه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: هغه ته حکم وکړه چې خپلې ښځې ته رجوع وکړي تر هغې دې له ځانه سره وساتي ترڅو چې پاکه شي، بیا حائضه او بیا پاکه شي نو بیا یې خوښه ده له ځانه سره یې

---

۱ (سنن أبی داود - (ج۲ /ص ۲۲۰).
۲ (البقرة: ۲۲۹)
۳ (البقرة: ۲۳٦)

ساتي او كه طلاقه وي يې مخكې له دې چې هغه مسه(لاس وروړي) دا هغه عدت دې چې الله جل جلاله پرې امر كړې چې ښځې يې له طلاقه وروسته تېروي.(1)

**۳ـ د اجماع څخه دليل**: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زمانې څخه تر نن پورې د اسلامي امت علماؤ په دې خبره متفق دي چې طلاق روا او د ازدواجي اړيكو د پرېكولو وسيله ده.

**د طلاق د مشروعيت حكمت:**

دا چې طلاق د كورنيو د ستونزو د حل آخرنۍ لاره ده تر څو چې په نورو مصلحتونو د مېړه او ښځې تر منځ حل راځي نو اسلام طلاق ته وړاندې والى منعه كړي دي، خو كله چې په نورو مصلحتونو د حل لاري پيدا نه شي بيا طلاق هم يو علاج دی، كله چې د مېړه او ښځې حالت دې حد ته ورسيږي چې كركه او كينه د مينه او خوشحالې ځاى ونيسي د ګډ ژوند پر مخ بيول ورته سخت او ستونزمن شي، نو بيا بهتره دا ده چې په خوشحالی سره جداشي او د خپل ځان لپاره يو نوي ژوند غوره كړي او كه سره د كركې او كينې هم ګډ ژوند غوره كړي او د طلاق لاره بنده شي، نو دا مرض به نه يواځې په مېړه او ښځه كې پاتې شي بلكې د كورنۍ نورو غړو ته به هم سرايت وكړي او حتى وړو ماشومانو ته به د دې مرضې صدمه ورسيږي.

## په اسلام كې د طلاق بد والی

اسلام په دې باندې تاكيد او ټينګار كوي چې د ښځې او مېړه تر منځ د نكاح تړون دوامداره پاتې شي او د هغه ګډ ژوند د مرګ تر حالت پورې باقي وي، له همدې كبله په اسلامي شريعت كې هغه نكاح چې د مؤقت وخت لپاره تړل شوې وي ناروا او حرامه بللې ده او غوره نكاح هغه ده چې د ژوند تر پايه پورې دوام ولري او سبب يې دا دي چې مېړه او ښځه وكولاى شي چې د ژوند په تيريدلو سره د يوې كورنۍ بنسټ كيږدي، چې له يوې خوا د نړۍ د آبادۍ سبب وګرځي اوله بلې خوا د دوی دواړو راتلونكي ژوند سبب د آرامۍ او رحمت وګرځي او بلآخره دا ښه دونيوي ژوند سبب د آخروي ژوند د كاميابي او نيكمرغۍ وګرځي. او په قرآن كريم كې هم د نكاح د عقد څخه په پخه ژمنه او محكم تړون سره تعبير شوی دی لكه: ((... **وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا**)) (2).

ژباړه: او دوی (ماندينو) درڅخه كلك عهد هم اخېستی دی.

نو دا چې د نكاح عقد يو د عزت او يووالی عقد دی او بايد د عزت په سترګه ورته وكتل شی او كورنۍ ژوند په وړو ناوړه خبرو له منځه يونه سي. او نبي كريم صلى الله عليه وسلم هم هغه څه چې د

---

1( متفق عليه).

2 (النساء: ٢١)

نکاح عقد له منځه وړي، چې هغه طلاق دی په روا کارونو کې تر ټولو بد بللی دی او فرمايلي يې دي:« **أَبْغَضُ الْحَلاَلِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى الطَّلاَقُ** » [1].يعنې: الله تعالى ته ډير بد ګڼل شوی حلال، طلاق دي.

د اسلام په مينه او محبت سره د ازدواجي اړيکو د پاتې کيدلو او دوام لرلو ليوال دی، تر څو د ځان لپاره ټاکل شوې موخې سرته ورسوي، د د غو موخو د سرته رسولو په لاره کې اسلام د نکاح اجراءات آسانه کړل، په هغې کې خواستګاري مشروع کړه او د غوښتل شوې کتل يې د اړيکو د بقا د ضمانت په خاطر روا کړي. او اسلام صبر او زغم ته هڅولي دي چې ميړه يې په ښځه صبر وکړي هغه وخت چې له هغې څخه داسې څه ويني چې نه خوښيږي. د اسلام مبارک دين دا بيان کړي چې د هغو سره ښه ژوند تير کړي او الله پاک فرمايلي دي: ((...**وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا**)) [2].

يعنې: له هغو(خپلو ښځو) سره په ښه چلند ژوند تير کړئ (وړو وړو خبرو باندې ترې مه خپه کيږي ځکه) که چيرې دوی نه خوښوئ نو شايد چې تاسو به يو شی نه خوښوئ او په همغه کې به درته الله جل جلاله ډېر خير(او برکت) واچوي (نو د طلاق په صورت کې به دلوی خير څخه محروم شئ).

همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« **لاَ يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ** » [3].

يعنې: مؤمن سړی د مؤمنې ماندينې سره بغض نه کوي (ځکه چې) که د هغې يو خوی(خاصيت) يې خوښ نه شي بل به يې خوښ شي.يعنې بايد چې په بديو يې د خپلې وسې په اندازه سترګې پټې کړي او نېکۍ يې په نظر کې ونيسي، او کينه ورسره ونه کړي چې خبره طلاق ته ونه رسيږي.

### په اسلامي شريعت کې ولې طلاق د نارينه وو په واک کې دی؟

که وګورو نارينه او ښځه دواړه يو جنس، انسانان الله تعالى مخلوق او پيدا کړي دي کوم حقوق چې الله تعالى ميړه ته ورکړي په ښځه باندې همدارنګه ښځه هم پر خپل ميړه باندې حقوق لري لکه چې خداي جل جلاله فرمايلي دي: ((... **وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ** ...)) [4].

يعنې: د ښځو لپاره په معروفه توګه په ميړه باندې حقوق شته دي.

---

١ (سنن أبى داود - (ج٢ /ص ٢٢٠).
٢ (النساء: ١٩).
٣ (صحيح مسلم - (ج ٤ /ص ١٧٨).
٤ (البقرة: ٢٢٨).

خو دا چې نارینه او ښځه په اخلاقي او فزیکي او نورو لحاظونو سره یو تر بل ډېر توپیر لري نوځکه په اسلام کې په ځینو مواردو کې د دواړو مسولیتونه سره جلا او بیل شول ښځو ته یې د هغه د فطرت سره سم امور یې ورسپارلي او نارینه ؤ کې د هغه د فطرت سره موافق چارې ورسپارلي، نو همدا وجه ده چې طلاق په اسلام کې تر نارینه پورې خاص کړل شوی. او ښځه نه شي کولای چې میړه ته طلاق ورکړي او د دې لپاره علماوو زیات علتونه بیان کړي دي چې د بېلګې په توګه به دلته څو ذکر کړو:

۱ـ نارینه د نکاح د انعقاد پر وخت ډېر لګښتونه په ځان اخلی لکه مهر، ولیمه، دکور اسباب، ځکه په طلاق سره نارینه ته په نسبت ښځې ته یو زیات تاوان دی نو له همدې کبله د طلاق په ورکولو کې بېړه او تیزي نه کوي.

۲ـ ښځه د نارینه په نسبت ډېره زر احساساتي کیږي او نارینه په نسبت ښځې ته حلیم او برده بار وي، نوکه د طلاق واک ښځې ته ورکړل شوی واي، نو کیدای شي چې ډېر زر د هغو دواړو ګډ ژوند په لږو ناچېزو خبرو له منځه ولاړ شي او طلاق را منځته شي.

۳ـ که د طلاق حق د میړه او ښځې تر منځ ګډ حق وګرځول شي نو بیا به د جنګ او جنجال پر وخت به هر یو پر بل بدګمانه کیږي او هر یوه به هڅه کوی چې له یو بل څخه په طلاق ورکولو کې مخکې شي.

۴ـ که د طلاق واکداري له میړه او ښځې څخه واخیستل شي او حکومت ته وسپارل شي نو له یوې خوا به د دوی دواړو راز افشا شي او له بلې خوا به د طلاق وقوع زیاته شي لکه په نننی عصر کې په اروپایي هیوادونو کې چې د سکولر نظام په اساس را منځته کیږي هلته په سلوکې څلویښت سلنه د طلاق حوادث را منځته کیږي.

**د طلاق رکن:**

دا چې طلاق یو جائز او مباح عمل دي نو په مذهب د امام اعظم صاحب (رحمت الله علیه) د طلاق رکن هغه لفظ دی چې هغه دلالت وکړي په معني د خوشې کولو پریښودلو باندې او یا هغه شی چې د نوموړو الفاظو ځای ونیسي لکه د ګونګي اشاره کول په لاس او ګوتو باندې او داسې نور.

**د طلاق حکم:**

مخکې مو ویل چې طلاق هغه شی دی چې د کورنۍ تر منځ د ستونزو د حل لپاره، چې نورې ټولې لارې او چارې کار ورنه کړي نو په پای کې به آخري علاج ته رجوع کیږي چې هغه طلاق دی، نو د طلاق حکم علماوو داسې بیان کړي دي: چې طلاق په اصل کې منعه او نه کول یې لازم دی خو د اړتیا لپاره روا شوی او یو مباح عمل دی چې له امله یې د ښځې او میړه ترمنځ جلاوالی راځي.

**د طلاق شرطونه:**

طلاق ورکونکی نارینه باید لاندې شرطونه ولري او هر نارینه هم نه شي کولای چې ښځې ته طلاق ورکړي.

۱ـ بلوغ: یعنې د ماشوم طلاق چې بلوغ ته نوي رسیدلی طلاق یې صحیح نه دي.

۲ـ عقل: د لیوني او معتوه یعنې داسې څوک چې عقل یې مغلوب وي او جهل یې زیات وي طلاق یې نه دې صحیح.

۳ـ چې د نکاح عقد صحي وي: یعنې په فاسده او باطله نکاح کې طلاق نشته او هغه نکاح قابل د فسخې ده چې بدون له طلاق څخه په مابین د میړه او ښځې کې تفریق راشي.

۴ـ طلاق به په داسې الفاظو ورکوي چې صراحتاً یا کنایتاً ورباندې دلالت وکړي. البته د کنایي الفاظو په صورت کې به سړی د طلاق نیت لري.

د پورتنیو شرائطو د ښه بیان او وضاحت لپاره ضرور ده چې لاندې څو مباحث وڅیړل شي.

۱ـ **مُکره طلاق**: مُکره هغه چاته ویل کیږي چې یو عمل او کار د جبر او زور په واسطه سره تر سره کوي. په حنفي مذهب کې د مُکره او زورګیره سړي طلاق صحیح او واقع کیږي او دلیل یې دا دي چې مکره په خپل عزم او ارادې سره دا کار تر سره کړي او دی په خپل کار کې مدبر بلل کیږي.

۲ـ د نېشې په حالت کې د نېشه کوونکي طلاق: په دې برخه کې د احنافو د علماوو نظر دا دی چې د هغه نېشې طلاق صحیح او واقع دي چې په حرام شي باندې یې نېشه شوي وي لکه شراب، چرس، تریاک او داسې نور. ځکه نېشه په خپل ذات کې یو ناروا عمل دی نو له همدې وجهې د نشې په حالت کې زجراً طلاق واقع کیږي.

او که کوم نارینه د دوا او کوم بل شي په واسطه سره نېشه شوی وي د هغه طلاق ته اعتبار نشته او ښځه نه طلاقه کیږي.

۳ـ **د سختې غوسې او قهر په حالت کې طلاق**: دا حالت په دوه ډوله دي

الف: که د سړی قهر او غوسه داسې حالت ته ورسیږي چې عقل یې له منځه ولاړ شي او د ځان له کنترول څخه ووځي، په خپلو ویناوو او خبرو نه پوهیږي او بې ارادې اوبې قصده څخه یې الفاظ له خولې څخه ووځي نو د داسې سړی طلاق نه واقع کیږي، ځکه دا په مثال د لیوني باندي دي نو الفاظو ته یې اعتبار نشته.

ب: که يو څوک د قهر او غوسې په ابتدائي حالت کې وي په خپلو اعصابو کنترول لري او عقل يې کوم تغير نه وي کړي په دې صورت کې بيا کوم اختلاف نشته، او د داسې سړی طلاق صحيح او واقع کيږي.

**۴ـ د ټوکې کوونکي طلاق:** که يو نارينه په ټوکه کې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي او ورته ووايي چې ته طلاقه ئې، نو دا طلاق واقع شو او ښځه طلاقه شوه، ځکه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

« **ثَلاَثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ النِّكَاحُ وَالطَّلاَقُ وَالرَّجْعَةُ** » [1].

يعنې: درې داسې شيان دي چې ريښتيا يې هم ريښتيا او ټوکه يې هم ريښتيا ده، نکاح، طلاق، او رجعت دي خپلې ښځې ته.

## د فسخې او طلاق توپير

جدا کيدل په مابين د ميړه او ښځې کې په دوو شيانو سره راځې چې يو طلاق دی او بل فسخه ده او فرق په مابين د فسخې او طلاق کې په دريو وجهو سره دي:

۱ـ په معنې کې فرق: فسخه ويل کيږي مات والی د عقد د اصل څخه او ليري کول د حل دي چې ثابت ؤ په عقد سره . او طلاق ويل کيږي آخرته رسول د عقد او هغه حل چې ثابت ؤو په عقد سره نه زائل کيږي په طلاق مګر پس له بينونت څخه چې هغه عدت دی او يا طلاق الثلاثه دی.

۲ـ اسباب د فسخې او طلاق بېل بېل دي اسباب د فسخې هغه عارضي حالات دي چې وارديږي په عقد باندې او يا په وخت د عقد کې عارض شي چې د نه لزوم د عقد سبب وګرځي لکه ردة دښځې يا منعه د اسلام څخه او يا لکه خيار البلوغ ميړه او ښځې ته. او هر چې طلاق دی هغه نه عارضيږي مګر په صحي عقد باندې چې هغه لازم او ثابت وي.

## د طلاق ورکولو مسنونه طريقه

طلاق په سنت طريقه کې د علماوو په دوه نظره دي:

لومړی: کله چې يو نارينه وغواړي چې ښځې ته طلاق ورکړي نو سنت طريقه دا ده چې کله ښځه له حيض څخه پاکه شي، نو په طهر کې به يو طلاق ورکړي بيا به نږديوالی ورسره نه کوي تر څو بل حيض راشي او هغه چې تير شي طهور راشي نو بيا به بل طلاق ورکړي او په دريم طهر کې به دريم طلاق ورکړي چې درې واړه طلاقه په دريو طهرو کې راشي.

---

۱ (سنن أبی داود - (ج۲ /ص ۲۲۵).

دويم: ځينې علماء وايي چې ښه طريقه د طلاق دا ده چې کله ښځه له حيض څخه پاکه شي نو په طهر کې به يو طلاق ورکړي نو بيا په صبر وکړي نږديوالی به نه ورسره کوي تر څو چې درې ځله حايضه او درې ځله له حيض څخه پاکه شي او په آخر کې به وروستني طلاقونه ورکړي چې ټول به درې طلاقه شي يو په اول طهر کې او دوه په آخرني طهرکې.

## د طلاق ډولونه

طلاق په مختلفو اعتبارونو ويشل شوی چې په لاندې ډول يې ذکر کوو:

۱ـ طلاق د لفظ په اعتبار سره ويش:

۲ـ طلاق د بدعت او سنت له مخې ويش:

۳ـ د رجعت او بينونت له مخې ويش:

طلاق د لفظ په اعتبار سره په دوه ډوله دي: ۱ـ صريح ۲ـ کنايي:

**۱ـ صريح :** صريح په لغت کې: په معنې د څرګند او ظاهره دي او په اصطلاح کې هغو الفاظو ته ويل کيږي چې په څرګنده توګه د طلاق معنې ورکوي او دبلې معنې احتمال پکې موجود نه وي، يوازې د جدا کيدلو او طلاق معنا ورکوي. لکه سړی چې خپلې ښځې ته ووايي ما تاته طلاق درکړ، يا ما ته طلاقه کړې يې، يازه تاته طلاق درکوم، يا ته طلاقه شوي يې، يا ماته پريښې يې، دا ټول الفاظ صراحتاً دلالت کوي په طلاق باندې .

**د صريح طلاق حکم**: هغه څوک چې ښځې ته د طلاق څرګند الفاظ استعمال کړي او معنې يې هم يوه وي او يايې د وجود داسې اندام ته دطلاق نسبت وکړي چې د ټول وجود معنا ترې اخيستل کيږي نو طلاق واقع کيږي، که نيت د طلاق يې کړي وي که يې نه وي کړي نيت ته پکې ضرورت نشته.

**۲ـ کنايه:**کنايه په لغت کې د ناڅرګند په معنې دی او په اصطلاح کې هغه الفاظو ته ويل کيږي چې معنا يې ظاهر المراد نه وي، يعنې سړی ښځې ته داسې الفاظ استعمال کړي چې د طلاق څخه پرته د نورو معناګانو احتمال هم لري، د بېلګې په توګه سړی ښځې ته ووايي د خپلې پلارګنې سره دي يو ځای شه، يا له کوره ووځه، او داسې نور الفاظ چې خاصتاً په طلاق کې استعمال نه وي .

**د کنايي طلاق حکم:** په کنايي لفظ سره هلته طلاق واقع کيږي چې نيت د طلاق کړي وي او که نيت يې نه وي کړ بيا نه واقع کيږي، نو که نيت د طلاق يې کړي وي يو بائن طلاق واقع کيږي او غير د تجدد د نکاح څخه ميړه خپلې ښځې ته بيا رجوع نه شي کولای.

**طلاق د سنت او بدعت له مخې:**

طلاق د بدعت او سنت په اعتبار سره هم په دوه ډوله دی: سُني او بدعي.

**۱ـ سُني طلاق:** هغه طلاق دي چې د سنت موافق وي او هغه داسې چې سړی خپله ښځه د ريښتيني عذر د لرلو په اساس په طهر کې چې په هغه طهر کې ورسره يو ځای شوی نه وي او ښځه حامله هم نه وي يو طلاق ورکړي، بيا په بل طهر کې بل طلاق ورکړي او په دريم طهر کې دريم طلاق ورکړي دا دی د سنت موافق طلاق يعنې په هر طهر کې يو يو طلاق ورکړل شي.

**۲ـ بدعي طلاق:** دا هغه طلاق دی چې د سنت موافق نه وي لکه سړی ښځې ته په يو طهر کې دري طلاقونه په يو ځل ورکړي او يا دوه طلاقه په يو ځل ورکړي يا د حيض او حمل په حالت کې طلاق ورکړي او يا په هغه طهر کې طلاق ورکړي چې په هغه طهر کې يې جماع ورسره کړي وي دا ټول د سنتو مخالف طلاقونه دي، دا طلاق واقع کيږي خو ورکوونکی يې ګنهګاردی.

يادونه: که څوک خپلې ښځې ته د حيض په حالت کې او يا په طهر کې چې جنسي ارتباط يې ورسره نيولی وي طلاق ورکړي نو په کار دي چې بېرته ورته رجوع وکړي تر څو د ګناه څخه خلاص شي نو که طلاقولو ته يې ضرورت ؤ په وخت سره بې د سنتو موافق بايد طلاقه کړي . نبي کريم صلی الله عليه وسلم د عبد الله بن عمر رضی الله عنها په باره کې چې خپله ښځه يې د حيض په حالت کې طلاقه کړې وه په همدې ډول هدايت کړي دی. [1]

**دريم: د رجعيت او بينونت له مخې طلاق په درې ډوله دی:**

طلاق د رجعيت او بينونت له مخې په درې ډوله دي: رجعي، بائن او مغلظ.

**۱ـ رجعي طلاق:** هغه طلاق دي چې په صريح لفظ سره ورکړي شي او شمار يې دربو ته نه وي رسېدلی. ميړه ښځې ته رجوع کولای شي تجديد د نکاح ته ضرورت نشته، د اول او دويم طلاق له ورکولو وروسته خو په دې شرط چې د عدت وخت يې لا پاتې وي او که يې د عدت وخت تير شو بيا نو رجعي طلاق په بائن بدليږي او د ښځې خاوند له نوې عقد پرته د هغې د راګرځيدو واک نه لري.

**در جعي طلاق احکام:**

۱ـ د طلاقو عدد راکموي په آينده کې ميړه د يوه او يادوو طلاقو واکدار ګرځي.

۲ـ په رجعي طلاق کې ښځه د ميړه له ملکيت څخه نه وځي او د ازدواج اړيکه يې باقي پاتي وي تر عدت پورې.

---

۱( صحيح مسلم ج ۱ ص ۴۷۵)

۳ـ په رجعي طلاق کې ميړه کولی شي خپلې ښځې ته په وينا (چې ورته ووايي ماتاته رجوع کړېده) او په عمل سره هم رجوع کولی شي، چې يوځای والی او يا ورسره لوبې وکړي او يا د شهوت سره ورنږدې شي.

### بائن طلاق:

بائن طلاق هغه طلاق ته ويل کيږي چې ميړه خپله ښځه په کنايي الفاظو سره طلاقه کړي لکه ورته وايي ته نوره له ما څخه جلا کړې شوې يې يا کورته د ولاړه شه يا له کوره ووځه يا داسې نور، نو په دې الفاظو سره طلاق بائن واقع کيږي خو په دې شرط سره چې نيت يې د طلاق کړي وي .

### د بائن طلاق حکم:

۱ـ د ازدواج رابطه سمدلاسه له منځه وړي د عدت پوره کيدو ته ضرورت نشته د نارينه هيڅ حق په ښځه نه پاتې کيږي نه به ورته ګوري او نه به خلوت صحيحه ورسره کوي، البته ښځه به د عدت تر پوره کيدو د ده په کور کې اوسيږي او نفقه به يې ورکوي د عدت تر ختمېدو پورې.

۲ـ د طلاق هغه عدد راکموي چې نارينه يې واک درلود يعنې وروسته يا يو اويا دوه طلاق ورکولای شي.

۳ـ که نارينه او ښځه وغواړي چې بيرته سره ميړه او ښځه شي نو تجديد د نکاح به کوي نوي مهر به په نکاح کې وي، خو تر هغه وخته پورې چې عدت نه وي پوره شوي او پس له عدت څخه بيا ښځه د خپل واک ده که له اولنی ميړه سره نکاح کوي او که بل ميړه کوي مجبوره نده.

### مغلظ طلاق

دا هغه طلاق دي چې ميړه خپله ښځه په دريو طلاقو سره طلاقه کړي يا په يو ځل او يا جدا جدا .

### د مغلظ طلاق حکم:

۱ـ ښځه د ميړه څخه په بشپړه توګه خلاصه شوه او هيڅ کوم حق نه پرې لري.

۲ـ که ميړه وغواړي چې بيا نکاح ورسره وکړي نو ښځه به يو وار له بل چا سره نکاح کوي.

۳ـ دوهم ميړه به پس له نکاح څخه ورسره يو ځای کيږي په، نفس نکاح باندې اول ميړه ته نه ده جائزه لکه چې الله تعالی فرمايي: ((**فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ** ...))[۱].

ژباړه: نو که (په دريم ځل باندې) طلاق ورکړي (نو مطلقه ښځه) دغه ميړه ته د دې څخه وروسته تر هغه حلاله نه ده تر څو د ده څخه پرته(بل) ميړه سره نکاح وکړي(حقيقتاً ورسره جنسي ارتباط ونيسي).

۱ (البقرة: ۲۳۰)

۴ـ دوهم میړه به طلاق ورکوي او له هغه وروسته به د طلاق عدت هم تیروي.

## ۲ـ خلع

هر کله چې د ښځې او میړه تر منځ ژوند تریخ او ستونزمن شي، نو ښځه کولای شي د څه مال په بدل کې خپل سړی په خلع کولو قانع او ځان ورڅخه خلاص کړي.

**خلع په لغت کې**: د فا په ضمه او د لام په سکون سره په معنې د ایتسل او خالی کولو سره راځي، په قرآن کریم کې میړه او ښځه د لباس سره مشابه شوي نو خلعه د نکاح دانحلال (له مینځه تللو) لپاره کنایه استعمال شوې .

**خلعه په اصطلاح کې**: علماوو په مختلفو تعریفونو سره تعریف کړې چې ځینې یې دلته ذکر کوو.

۱ـ له ښځې څخه د هغې د مال په عوض کې د خلع په لفظ سره د نکاح دواک ختمولو ته ویل کیږي.

۲ـ په صریح لفظ یا په بل هر لفظ سره چې د خلعې مفهوم افاده کړي د نکاح تړون له منځه وړي چې د ښځې په اجازې او خوښې سره موقوف وي خلعه بلل کیږي.

۳ـ د افغانستان مدني قانون په ۱۵۶ ماده کې د خلعې تعریف داسې کوي: د ازدواج د عقد د منحلول د هغه مال په مقابل کې چې ښځه یې میړه ته ورکوي.

۴ـ د مال په مقابل کې د ښځې بېلتون ته وایي چې فدیه او افتدا هم ورته ویل کیږي.

**د خلعې د روا والی دلایل:**

خلعه په کتاب الله، نبوي احادیثو، اجماع سره ثابته ده.

۱ـ له قرآن کریم څخه دلیل: ((...**وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلَّا أَن يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ** ...)) [۱].

ژباړه: او تاسو ته حلاله نه ده چې د هغه مهر څخه څه شی(د طلاق په بدل کې) بېرته واخلئ چې ښځو ته مو ورکړی وي، مګر که دوی دواړه (ښځه او میړه) د دې خبرې څخه په ډار کې وي چې (د نکاح د بقاء په صورت کې به) دوی دواړه د الله تعالی حدود قائم نه کړی شي، نوکه تاسو ډارېدلئ چې دوی دواړه به د الله تعالی حدود قائم نه کړي نو په دوی دواړو باندې په هغه شي کې څه ګناه نشته چې په هغه سره ښځه د طلاق فدیه (بدله) ورکړي.

۱ (البقرة: ۲۲۹)

۲ـ له نبوي احاديثو څخه دليل: حضرت ثابت ابن قيس خپله ښځه د پېغمبر صلی الله عليه وسلم په امر او اجازې سره د خلعې په واسطه جدا کړه.
۳ـ د اجماع څخه دليل: ټولو علماوو د خلعې په روا والی اتفاق کړي دی.

**دخلعې شرطونه**

دا چې خلعه هم يو عقد او تړون دی، نو ځانګړي شرطونه لري چې په لاندې ډول سره دي:
۱ـ مېړه به عاقل او بالغ وي نو هغه سړی چې عقل يې مختل شوی وي او يا ماشوم وي د ښځې سره خلعه نه شي کولای.
۲ـ چې ښځه د طلاق محل وي عيناً په نکاح کې وي يا حقيقتاً او يا حکماً لکه چې ښځه په عدت کې وي .
۳ـ خلعه د خلعې په الفاظو تر سره شي.
۴ـ ښځه د خلعې په مقابل کې د خلعې بدل په ځان باندې ومنې او که د خلعې په وخت کې د مال ذکر ونه شي نو بيا طلاق بائن ورته ويل کيږي خلعه نده.
۵ـ په خلعه کې ايجاب او قبول وي ځکه دا يو تړون او عقد دي نو ايجاب او قبول ته پکې ضرورت دي ځکه هر عقد ايجاب او قبول ته ضرورت لري.

**د خلعې حکم**

د جمهورو فقهاؤ په نظر لکه امام اعظم (رح)، امام شافعی (رح) او امام مالک(رح) خلعه د طلاق بائن حکم لري او دليل يې د ثابت ابن قيس حديث دي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وويل:« **اِقْبَلِ اَلْحَدِيقَةَ , وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً** »[۱].

يعنې: هغه باغ چې په مهر کې دی ورکړي ؤو هغه قبول کړه او ښځه طلاقه کړه.
او خلعه فسخه نه ده ځکه چې په فسخه کې د مېړه واک نه وي او خلعه خو د سړی تر موافقې پورې مربوطه ده په دې هکله د مدني قانون ۱۶۰ ماده داسې حکم کوي: خلعه د طلاق بائن حکم لری د محکمې تر حکم پورې موقوفه نه ده او د نورو اسلامي هيوادو په قوانينو کې هم خلعه طلاق بائن ګرځول شوې ده.

۱ (صحيح البخاري - (ج ۵ / ص ۲۰۲۱).

## د خلعې او طلاق بالمال تر منځ فرق

طلاق بالمال او خلعه ځينې وخت ګډ او ځينې وخت مختلف احکام لري چې په لاندې ډول يې ذکر کوو

**مشترک احکام:**

۱ـ په خلعه او طلاق بالمال کې د ښځې رضايت او خوښه شرط ده.

۲ـ کله چې عوض ثابت شي طلاق بائن واقع کيږي او سمدستی جداوالی راځي.

۳ـ که ښځه د مال بخشش کولو اهليت ولري بدل په دواړو حالاتو کې په ښځه لازميږي.

**مختلف احکام:**

۱ـ په طلاق بالمال سره اتفاقاً طلاق بائن واقع کيږي او په خلعه کې اختلاف دي ځينې يې طلاق بائن بولي او ځېنې فسخه بولي.

۲ـ خلعه د خلعې په الفاظو سره راځي او طلاق بالمال په صريح طلاق سره واقع کيږي.

**د خلعې بدل (عوض)**

هغه مال چې ښځه يې ميړه ته ورکوي د طلاق په مقابل کې د خلعې فديه بلل کيږي نو د خلعې فديه عين مهر د مهر څخه کم اويا زيات مال ورکول کيږي او هر هغه شی چې په مهر کې يې ورکول صحيح کيږي د خلعې په بدل کې هم ورکول صحيح کيږي لکه هغه شي منقولي وي او يا غير منقولي لکه سره زر سپين زر او ځمکه او داسې نورشيان.

## ۳ـ تفريق

په اسلامي شريعت کې چې کوم حقوق ښځې ته ورکړل شوي او په نارينه باندې لازم دي چې اداء يې کړي خو که چېرته د هغه په اداء کولو کې کوتاهې راشي يا په نارينه کې د هغه د ادا کولو استعداد او صلاحيت موجود نه وي، نو پداسې حالاتو کې که ښځه وغواړي چې د خپل ميړه څخه جدا شي او ځان ترې خلاص کړي، نو په شريعت کې د خلعې نه علاوه نورې طريقې هم شته چې هغه د قاضی په حکم سره جدا کيدل دي چې داسې جداکيدلو ته شريعت تفريق ويلي دي، او که په کوم ځای کې قاضی موجود نه وي نو بايد ديو څو زمه دارو او دينداارو مسلمانانو ته خپله معامله پېش کړي او خلاصون دي حاصل کړي.

**د طلاق او تفريق تر منځ توپير**: طلاق واقع کيږي په اختيار او خوښه د مېړه سره او هر هغه چې تفريق دی هغه واقع کيږي په حکم د قاضي سره.

**هغه عیبونه چې د هغو په موجودیت کې نکاح فسخه کیدای شي:**

که د یوې ښځې په میړه کې داسې عیب شتون ولري، چې ژوند ورسره د سختو کړاوونو سره مخ شوې وي، کولای شي ورڅخه د جداوالي غوښتنه وکړي، چې د بېلګې په توګه لاندې یو څو ذکر کوو:

**۱ـ عنین:** عنین هغه نارینه ته ویل کیږي چې اندام مخصوصه یې موجود وي، مګر د جنسي قوت د نه موجود والی په سبب په خپل ژوند کې یو ځل هم خپلې ښځې ته نه وي ورنیږدي شوی یا د کمزورۍ له وجهې یا د مرضی له وجهې وي.

**۲ـ مجبوب:** هغه سړی ته ویل کیږي چې اندام مخصوصه یې له سره موجود نه وي او یا پرې کړل شوی وي.

**۳ـ لیونتوب:** او ځینې مرضونه لکه جذام (دا یو ډول مرض دی چې د انسان غوښه له منځه وړی) ابرص (برګی) مرض او داسې نور مرضونه چې د مېړه او ښځې یو ځای ژوند تیرول ناممکن وي.

د احنافو په نزد یواځې د لاندنیو شرطونو په صورت کې ښځه د د محکمې څخه د جدا والی غوښتنه کوي.

۱ـ چې میړه یې د جنسي قوت د نه موجودیت په سبب په خپل ژوند کې یو ځل هم خپلې ښځې ته نه وي ورنږدی شوی (کورواله یې ورسره نه وي کړي).

۲ـ چې د نکاح کولو په وخت ښځه د مېړه له عیب څخه بیخي ناخبره وي او یا د خبرېدو په وخت کې خپله ناخوښي څرګنده کړې وي.

۳ـ چې ښځه بالغه وي (د ښو او بدو توپیر وکولای شي) که ماشومه وي بیا به تر بلوغ پورې انتظار کوي.

**او د جمهورو فقهاؤ نظر:**

جمهورو فقهاو د پورتنیو شرایطو په څنګ کې دوه نور شرطونه هم ضمیمه کړي دي:

۱ـ ښځه باید د بېلتون غوښتنه د محکمې څخه وغواړي.

۲ـ بل دا چې د محکمې په وړاندې د خاوند عیوب ثابت کړي ، او قاضي به د بېلتون پریکړه کوي.

**د تفریق حکم:**

د میړه او ښځې تر منځ د عیب په سبب جداکیدل او فراق کوم طلاق بلل کیږي؟

په دې هکله د احنافو علماوو نظر دا دي چې دا جدا کیدل او بېلتون د محکمې په واسطه سره طلاق بائن بلل کیږي او امام مالک صاحب هم دغه نظر تائید کړي چې دا قسم تفریق دطلاق بائن حکم لري.

## ۴ ـ ارتداد

کله داسې هم کیدای شي چې د مېړه او ښځې تر منځ د نکاح تړون په سبب مخالفت په دین باندې له منځه ولاړ شي چې په شریعت کې دا هم یو سبب د فسخې بلل شوي نو که مېړه مرتد شي او له اسلام څخه ووځي نکاح یې له منځه ځي او که ښځه مرتده شي هم نکاح له منځه ځي، د امام اعظم صاحب په نظر چې هر یو مرتد شو نو سمدلاسه نکاح له منځه ولاړه بغیر د تفریق او له طلاق څخه.

که چېرته نارینه مرتد شو او له خپلې ښځې سره یې نږدیوالی کړي ؤو نو ښځې ته به مکمل ټول مهر ورکوي او که له ښځې سره یې نیږدوالی نه وي کړي او مرتد شو نو نصف مهر یعنې نیم مهر به ورکوي، او که چېرته ښځه مرتده شوه که ردت مخکې له دخول او نږدیوالی څخه ؤو نو دي لره هیڅ نشته په مېړه باندې او که ردت پس له دوخول څخه واقع شوو نو دي لره پوره کامل مهر دي په مېړه باندې او که چیرته میړه او ښځه دواړه مرتد شول او معلوم نه وو چې کوم یو تر مخ مرتد شوي بیا دواړه اسلام ته راوګرځي دلته دواړه په خپله نکاح باندې باقي پاتې دي له جهته د نه اختلاف په دین کې.

که چېرته نارینه مرتد شي نو هغه سړی بیا نه له مسلماني ښځې سره او نه له مرتدي ښځې سره او نه له کافري سره نکاح کولای شي ځکه مرتد واجب القتل دي باید چې مړ شي پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « **مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ** ».[1] یعنې: چا چې خپل دین بدل کړ مړ یې کړئ. همدارنګه که ښځه مرتده شوه نو نه له مرتد سړي او نه له مسلمان سره او نه له کافر سره له هېچا سره نکاح نه شي کولای ځکه دا هم واجب القتل ده.

## ۵ـ لعان

لعان یوه عربي کلمه ده چې په لغت کې: له لعن څخه اخیستل شوې چې د شړلو او لرې کولو په معنې ده او په اصطلاح کې: د ښځې او مېړه ترمنځ له لعن او غضب سره شهادت ورکولو ته وایي، چې د زنا د شهادت په څیر د څلورو شاهدانو ځای نیسي، چې نارینه په دې ډول شاهدي ورکولو سره د حد قذف څخه ځان خلاصوي او ښځه په دې ډول شاهدی ورکولو سره د زنا له حد څخه ځان دفع کوي.

۱ (سنن أبی داود - (ج٤ /ص ٢٢٢).

**د لعان مشروعیت**

د لعان مشروعیت په قرآن کریم ثابت دي، الله تعالی فرمايي: ((**وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ (٦) وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ (٧) وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَن تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ (٨) وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ (٩)**)[١].

يعنې: او هغه کسان کوم چې خپلې مېرمنې(په زنا سره) وکنځي حال دا چې دوی لره شاهدان نه وي مګر د دوی خپل ځانونه، نو د دغو کسانو (د جملې څخه) د یوه کس شهادت په بالله سره څلور شهادتونه دي چې یقیناً همدا (شهادت ورکونکی) هرومرو د صادقانو څخه دی (په رښتیا سره یې مېرمن په زنا اخته شوې ده).

او د پنځمې بالله شاهدۍ سره (یې دا خبره ضمیمه ده چې) یقیناً په نوموړي باندې دې د الله تعالی لعنت وي که چېرته نوموړی د دروغجنانو څخه وي(او په خپله ښځه یې بهتان تړلی وي).

او د ښځې څخه عذاب (حبس یا رجم) دا خبره دفعه کوي (مخه یې نیسي) چې هغه (ښځه) په بالله سره څلور کرته شاهدي ورکړي چې یقیناً د دې خاوند د دروغجنانو څخه دی (او بهتان یې ور پورې تړلی دی).

د پنځمې بالله شاهدۍ سره (دا خبره ضمیمه کړي چې) یقیناً په نوموړې (ښځې) باندې دې د الله غضب وي که (بالفرض) د دې مېړه د صادقانو څخه وي.

له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو د یوه سړی او د ده د ښځې تر مینځ لعان تر سره کړ او دوی یې سره جلا کړل. [٢]

**د لعان شرطونه:**

١ـ د تهمت او تور لګول شوي سړی او ښځې تر منځ به درسته نکاح موجوده وي.

٢ـ مېړه او ښځه به عاقل بالغ مسلمان او خبري کوونکي وي .

٣ـ مېړه او ښځه به مخکې له لعان څخه په حد قذف نه وي مجازات شوي.

---

١ النور:(٦- ٩).

٢ صحيح البخاري.

**د لعان کیفیت او طریقه**

کله چې خاوند خپله ښځه د زنا په تهمت سره تورنه کړې او یا د هغې د ماشوم له نسب څخه منکر شي او ښځه د هغه تورونه ونه مني او رد یې کړي او د حد قذف د اقامت غوښتنه وکړي نود وخت قاضي به په دې طریقه سره د دوي تر منځ لعان تر سره کوي: قاضی به اول نارینه خپل ځان ته مخاطب کړي او سړي به په ولاړه باندې څلور ځله داسې شاهدي ورکړي چې ما کوم تور د زنا په دې ښځه لګولی زه په هغه کې ریښتنی یم یعنی صادق یم او په پنځم ځل به ووایي که زه په دې خبره کې دروغجن وم پر ما دی د الله تعالی لعنت وي، بیا به قاضي ښځې ته حکم وکړي ښځه به څلور ځلې ووایي که زما میړه چې پر ما کوم تور د زنا لګوي هغه په هغې خبره کې دروغجن دی او په پنځم ځل به ووایي چې پر ما دې د الله تعالی غضب وي که زما میړه په خپله خبره کې ریښتونی وي له دې څخه وروسته قاضي ښځه او خاوند سره جلا کوي، چې بیا دا ښځه په دې سړی باندې حرامیږي.

**د لعان حکم**

لعان د شاهدي په ادا کولو سره د میړه او ښځې تر منځ جدا کیدل واجب دي، قاضي به دوی د جدا کیدو حکم کوي او په دې سره طلاق بائن واقع کیږي او ښځه په میړه حرامه شوه.

او که سړی له خپلې خبرې څخه را وګرځي او ځان دروغجن کړي، قاضي به هغه ته د حد قذف جزا ورکړي(اتیا درې دي) بیا کولای شي چې د همدې ښځې سره په نوي عقد نکاح تر سره کړي، ځکه کله چې هغه ته د حد قذف ورکولو سره د لعان اهلیت ترې واخیستل شو.

## ۶ـ ظهار

**د ظهار تعریف**

ظهار په لغت کې: مصدر دي مأخوذ دي له الظهر څخه هغه مشتق دي له دې قول څخه (**انْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِأُمِّي**) . یعنې ته په ماباندې داسې حرامه یې لکه د خپلې مور شا.

ظهار په اصطلاح کې: د میړه له خوا د خپلې ښځې تشبه کول دي له داسې ښځې سره چې هغه په ده باندې ابدي حرامه وي . لکه ورته ووایي چې ته په ما باندې داسې یې لکه زما مور، یا په بل عبارت: تا سره جنسي ارتباط نیول په ما باندې داسې حرام دي لکه چې د خپلې مور سره جنسي ارتباط را باندې حرام دي.

د جاهلیت په زمانه کې ظهار ابدي طلاق ګڼل کیدو، خو اسلامي شریعت بیا هغه حکم له منځه یوړ په دې آیت سره: ((**الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَائِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ**)) [۱].

ژباړه: هغه کسان کوم چې ستاسو د جملې څخه د خپلو ښځو (مېرمنو) څخه ظهار وکړي، نو مېرمنې یې خپلې مورګانې نه دي (په ظهار سره یې مورګانې نه ګرځي)، د دغو (کسانو) مورګانې نه دي مګر هغې ښځې دي کومو چې دوی زیږولي دي. او یقیناً دغه (کسان) چې دي هرومرو دوی دوینا څخه نا اشنا او دروغ خبره وایي. او بیشکه الله تعالی ضرور ډیر عفوه کوونکي(او) ډیر ښنونکي دي.

یعنې: لنډه دا چې مورولي او زوی ولي د خولې خبره نه ده تر څو وربانديې حقیقي تحریم مرتب شي، هو! دا یوه بده (نامعقوله) او دروغ خبره ده چې باید ددغې خبرې قائلین مجازات کړی شي، خو الله تعالی ډېر عفوه کوونکی او ښنونکی دی نو د همدې کبله یې د دغه حکم د نزول څخه وړاندېنی ظهار کوونکي عفوه کړي دی او په ورستنیو ظهار کوونکو باندې یې کفاره فرض کړې ده ترڅو ورته د ګناه مغفرت وکړل شي.

**د ظهار شرطونه**

ظهار دوه شرطونه لري:

الف: هغه نارینه چې ظهار یې کړي وي عاقل، بالغ مسلمان به وي.

ب: ښځه د ظهار کوونکي مېړه په نکاح کې وي یا حقیقتاً او یا حکماً لکه ښځه د طلاق رجعي په عدت کې وي.

**د ظهار الفاظ**

د ظهار الفاظ په دوه ډوله دي:

۱ـ صریح الفاظ: دا هغه الفاظ دي چې خاص د ظهار معني ورکوي او د بل شی احتمال نه لري، لکه سړی خپلې ښځې ته ووایي ستا شا داسې ده لکه زما د مور خور ترور دا صریح الفاظ دي.

۲ـ کنایي الفاظ: دا هغه دي چې د بلې معنې احتمال هم لري لکه سړی ووایي ته داسې یې لکه زما د مور، خور، ترور په څېر، دا الفاظ دوه احتماله لري یو دا چې د احترام او تکریم ترې مراد شي دویم دا چې حرمت ترې مراد شي نو دا بیا د سړی تر نیت پورې اړه لري چې نیت یې دڅه کړي وي.

---

۱ (المجادلة: ۲)

## د ظهار حکم

کله چې سړی د خپلې ښځې سره ظهار وکړي نو هغه ښځه پرده حرامه شوه جماع او دواعي د جماع نه شي ورسره کولای تر څو يې چې کفاره نه ده ورکړي، ځکه چې ظهار يو ډول لوړه ده، بې له کفارې نه معاف کيږي او له ميړه او ښځې څخه که يو تن مړ شی او يا يې کفاره ورکړي نو ظهار ختميږي، او ظهار په اصل کې يو ناروا او حرام کاردي، ظهار کوونکي وربانديې ګناهګاريږي نو ځکه به کفاره ورکوي.

## د ظهار کفاره:

د ظهار کفاره درې شيان دي:

۱ـ غلام آزاده ول

۲ـ که د غلام آزادول يې په وس پوره نه وي نو بيا شپيته(۶۰) روژې نيول دي.

۳ـ او که د روژو د نيولو قدرت يې هم نه درلود، بيا شپيتو مسکينانو ته په مړه ګېډه ډوډي ورکول دي، يا د ډوډي قيمت ورکول دي چې د سهار او بيګا وربانديې ځان موړ کړای شي.

الله تعالى په دې هکله فرمايي:((**وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ(۳) فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ(۴)**)). [۱]

يعنې: کوم کسان چې له خپلو ميرمنو نه ظهار وکړي بيا له خپلې هغې خبرې نه را واوړي چې کړې يې وه، نو مخکې له دې نه چې دواړه يو بل ته لاس ور وړي، يو غلام آزادول به وي، په دې (کفارې) سره تاسې ته نصيحت کيږي او تاسې چې څه کوئ الله ترينه ښه خبر دی اوڅوک چې غلام ونه مومي هغه دې دوه مياشتې پرله پسې روژه ونيسي. مخکې له دې نه چې دواړه يو بل ته لاس ور وړي او څوک چې په دې هم قادر نه وي هغه دې شپيتو مسکينانو ته خواړه ورکړي د (کفارې) دغه حکم د دې لپاره درکول کيږي چې تاسې پر الله او د هغه پر پيغمبر ايمان راوړئ. دا د الله ټاکلي حدود دي او دکافرانو لپاره دردناکه سزا ده.

---

۱(المجادلة: ۳-۴)

## ۷ ـ ایلاء

ایلاء په لغت کې: قسم ته وايي.
ایلاء په اصطلاح کې: په تاکید سره داسې قسم کولو ته وايي چې خپلې منکوحې ته به تر څلورو میاشتو پورې او یا له هغه څخه زیات وخت پورې نه ورنیژدې کیږي (جماع به ورسره نه کوي).
د بېلګې په توګه یو سړی قسم خوري چې هېڅکله به خپلې ښځې ته ورنيږدې نه شي یا نېږه ونه ټاکي. او که یو څوک د څلورو میاشتو څخه کمه موده د خپل قسم د پاره وټاکي نو دغه قسم شرعاً ایلاء نه ګڼل کیږي او جدائې ورباندې تحقق نه شي موندلی. د بېلګې په توګه یوه سړی یوه میاشت د جنسي اړیکو د پرېکولو دپاره وټاکله نو که په خپل قسم باندې يې وفا وکړه نو ورباندې کفاره نشته او نه ورباندې ګناه، او که د میاشتې د پوره کېدلو څخه وړاندې يې ورسره اړیکه قائمه کړه نو فقط کفاره ورباندې لازمه ده او بس.

**د ایلاء الفاظ**

د ایلاء الفاظ په دوه ډوله دي:
الف: صریح الفاظ: لکه یو سړی قسم وخوري چې زه به هېڅکله هم ښځې ته نه ورنږدې کیږم (کوروالي به ورسره نه کوم).
ب: کنايي الفاظ: لکه یو سړی خپلې ښځې ته ووايي تا ځان ته نه رانږدې کوم او قسم ورسره یاد کړي اوداسې نور الفاظ.

**په ایلاء سره کوم طلاق او څه وخت واقع کیږي:**

د احنافو په مذهب سره کله چې څلور میاشتې تیرې شي ښځه په بائن طلاق سره طلاقیږي، ولو که د مېړه له خوا طلاق ورنه کړل شي، دا ځکه چې مېړه خپلې ښځې ته د هغې له حق څخه انکار کولو سره پر هغه ظلم او زیاتی کړي نو په جزاء کې مېړه د نکاح د نعمت څخه محرومیږي نو تجدید د نکاح به کوي.
او امام شافعي رحمت الله علیه وايي چې څلورو میاشتو د تېریدلو څخه وروسته باید د مېړه څخه و غوښتل شي چې ښځې ته رجوع وکړي او که يې بالکل منعه وکړه نو قاضي باید د ښځې په طلاق باندې حکم او فیصله وکړي.

**دایلاء حکم**

که چیرې څلور میاشتې تیرې شي نو ښځه يې په بائن طلاق ورباندې طلاقیږي، که يې ښځې ته رجوع وکړه او قسم يې مات کړ، نو د قسم کفاره به ورکوي.

## دايلاء ډولونه

ايلاء په دوه ډوله ده: موقته ايلاء او مؤبده ايلاء:

۱ـ موقته ايلاء: هغې ايلاء ته ويل کيږي چې يو سړی په الله قسم وخوري او يايې ونه خوري او وايي چې زه به د خپلې ښځې سره څلور مياشتې يا شپږ مياشتې او يا يو کال صحبت نه کړم او نه به ورنيږدې کيږم، يعنې وخت پکې تعين او ياد کړي.

۲ـ مؤبده ايلاء: هغې ايلاء ته ويل کيږي چې سړی قسم ياد کړي او يا يې ياد نه کړي په ژبه چې ټول عمر خپلې ښځې ته نه ورنيږدې کيږم او صحبت به نه ورسره کوم.

**د مؤقتې او مؤبدي ايلاء تر منځ توپير:**

د مؤقتې او مؤبدي ايلاء تر منځ توپير دا دي که چيرته په مؤقته ايلاء کې ميړه خپلې ښځې ته په څلور مياشتو کې ورنيږدې شي او مجلس يې ورسره وکړ نو قسم پرې واوښت د قسم کفاره به ورکوي او که په څلورو مياشتو کې صحبت ورسره ونه کړ نو بيا يو طلاق بائن واقع شوو بيا به تجديد د نکاح کوي که پس له نکاح څخه بيا څلور مياشتې يا شپږ مياشتې يې صحبت ورسره ونه کړ نو ايلاء نه واقع کيږي او که په مؤبده ايلاء کې يې پس له تجديد د نکاح څخه څلور مياشتې بيا ورنيږدې نشو نو بيا ايلاء واقع کيږي او طلاق بائن واقع کيږي بيا به نکاح کوي که په دې ځل بيا څلور مياشتې خپلې ښځې سره صحبت ونه کړ نو دريم طلاق واقع شو نو درې طلاقه راغلل ښځه په خاوند باندې حرامه شوه تر څو چې بل ميړه ونه کړي له ده سره يې بيا نکاح نه صحيح کيږي.

**د کورنيو تر منځ د اختلاف اسباب او علتونه:**

د اسلام دين له خپلو پيروانو څخه په کلکه غوښتنه کوي، چې په خپلو منځو کې ښه چلند وکړي او دې ته يې هڅوي چې يو په بل ښې لورينې ولري او په خاصه توګه سره ښځه او خاوند يې متقابل احترام او خلوص ته هڅولي دي. يو بل ته د زيان نه رسولو حکم کوي سړی ته له ټولو نيژدې شخص د هغه ښځه او ښځې ته تر ټولو نژدې کس د هغې خاوند دي، نو د دې لپاره چې دوی په نيکمرغی کې ژوند تير کړي، يو بل ته نه يواځې دا چې ستونزو لامل نه شي، بلکه يو بل سره په مينه او محبت ژوند تيرکړي، نو لازمه ده چې هغه اسباب او علتونه ذکر کړو چې د کورنيو د اختلاف سبب کيږي، علماؤ د کورنيو د اختلاف زيات سببونه او علتونه ذکر کړي چې مونږ د بېلګې په توګه ځينې بيانوو:

**۱ـ عدم الکفأة:** يعنې د ميړه او د ښځې تر منځ د نه کُفْ کيدو او يو د بل سيال او هم يو معادل کيدل، د اسلام له نظره سيال والی يا کف کيدل يو شرط دي په نکاح کې، نو کله چې يو بل سره برابر نه وي

په دیانت، تقوا، حسن، مال داري او نورو کې، د مېړه او ښځې تر منځ ډېر زر هغه خپل ګډ ژوند له منځه ځي او په تاوتریخ والی سره بدلیږي.

**۲ـ عدم الایفاء الحقوق:** یعنې هغه حقوق چې په مابین د مېړه او ښځې کې دي او شریعت مطهره هر یو ته ټاکلي دي هغه هر یو پر ځای نه کړي نو د کورنیو داختلاف سبب کرځي ځکه چې دا ګډ او مشترک ژوند هغه وخت ښه منظم کیداي شي چې مېړه او ښځه خپل مسؤلیت درک او د خپل ژوندانه طرز او طریقه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو تر حکم لاندې تیر کړي.

**۳ـ عدم علم**: یعنې ناپوهې او جهل هم د کورنیو د اختلاف لپاره یو عمده سبب کیدای شي ځکه که سړی او ښځه دومره علم او پوهه ونه لري چې هر یو د بل حق وپېژني او ادائی کړي نو د کورنیو د شخړو سبب ګرځي، ځکه ډېر ځله مېړه په دې نظر وي چې ښځه پر مېړه کوم حق نه لري او دیو مریه او وینځې په ډول کار ترې اخلي سره لدې چې په حقیقت کې داسې نه ده، ځکه چې ښځه په مېړه باندې حقونه لري چې باید مېړه یې وپېژني او عمل پرې وکړي او ډیر ځله ښځه دا ګمان کوي چې پر ما مېړه څه حق نه لري او سره لدې چې د مېړه حقونه پر ښځه باندې ډیر زیات او اداء کول یې لازمي دي.

**۴ـ بداخلاقي:** په ډیرو انسانانو کې بد اخلاقي یې یو عادت ګرځیدلي وي، ظلم او زیاتی یو فطري ماده ده چې ټول وخت ځان غوښتونکې او ځان د احترام او عزت خاوند بولي، نو کیدی اشی چې دا شوم او بد اخلاقي د کورنې د انحلال سبب وګرځي او هغه خوږ او مشترک ژوند چې د مېړه او ښځې تر منځ موجود وي له منځه یوسي او په شخړو بدل شی.

**۵ـ سؤالظن(بد ګماني):** مېړه او ښځه باید یو پر بل باندې باوري او اعتباري وي او یو پربل ښه ګومان او نظر ولري نو په کومه کورنۍ کې چې یو پر بل باندې بد ګوماني او د خیانت خیال پیداشی او په حقیقت کې به کوم داسې عمل هم نه وي ترسره شوی چې د مېړه او ښځې د جدا کیدو او تفریق سبب وګرځي، نو کیدای شي چې دا ډول بد ګماني کورنۍ سره تیت او جلا کړي او یو ګډ مشترک ژوند له منځه یوسی. حضرت پغمبر صلی الله علیه وسلم د بدګماني اوتش خالی ګمان څخه د ځان ساتني امر کړي لکه چې فرمایي: « **إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ** »[1].

یعنی: د خالی ګومان او تشویش څخه ځانونه وساتئ ځکه چې په ګومان کې دروغ ډېر پېښیږی.

---

۱ (صحیح مسلم - (ج۸ / ص۱۰).

## دکورنیو د ستونزو د حل لارې :

دا چې د انسان عقل، پوهه، علم، او هر څه ناقص او نیمګړي دي او ځیني وخت ځېنې انسانان نارینه یا ښځینه په ډېر معمولی شي سره خفه، او په عادي خبرو سره د کرکې او عداوت فضا را منځته کوي، او په حقیقت کې هغه څه چې دوی وربانديې شخړې کوي کوم د اعتبار وړ او یا داسې څه نه وي چې سبب د خفګان او لانجي وګرځي نو اسلامي قانون او شریعت د کورنیو دستونزو د حل لارې او چارې په وضاحت سره بیان کړي دي، ځکه چې د کورنیو ستونزې او شخړې سبب د ټولنې د شخړو او ستونزو ګرځي د اسلام دین له مسلمانانو څخه په کلکه دا غوښتنه کوي چې په خپلو منځو کې ښه چلند عفوه یو بل ته تیریدنه وکړي او دې ته یې هڅولي چې یو له بل سره اخلاص، صداقت، لورینه، ولري، او په خاصه توګه مېړه او ښځه یو بل ته په انسانانو کې تر ټولو ډېر نیږدي او یو له بل سره تر ټولو زیات مشترك ژوند لري نو ځکه د کورنیو په وګړو کې میړه او ښځې ته په اسلامي شریعت کې ځانګړې لارښونې شوې دي چې یو له بل سره په حسن خُلق نیکو اخلاقو، صبر، زغم سره ژوند وکړي لکه الله تعالی فرمایلي دي: ((...**وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا**)) [(١)].

یعنې: له هغو(خپلو ښځو) سره په ښه چلند ژوند تیر کړئ (وړو وړو خبرو باندې ترې مه خپه کیږي ځکه) که چیرې دوی نه خوښوئ نو شاید چې تاسو به یو شی نه خوښوئ او په همغه کې به در ته الله جل جلاله ډېر خیر(او برکت) واچوي (نو د طلاق په صورت کې به دلوی خیر څخه محروم شئ).

او دپیغمبر صلی الله علیه وسلم د حدیث مضمون دي چې فرمایي« د الله جل جلاله په نزد په تاسو کې ډیر ښه هغه څوك دی چې خپلې کورنۍ ته ډیر ښه وي او زه په تاسو ټولو کې خپلې کورنۍ ته غوره یم. [(٢)]

همدا راز ښځو ته د میړو د اطاعت امر شوی، په حدیث شریف کې راغلي که له الله تعالی څخه پرته بل چا ته سجده کیدلای نو ښځې به خاوندانو ته په سجده کولو مامورې شوې وای. [(٣)]

### د ښځې او مېړه تر منځ د شخړو د حل لارې او چارې:

کله کله د طبعي او محیطي لاملونو له وجهې په ځینو کورنیو کې حالت بدلون ومومي او په کورنیو اړیکو کې ستونزې را پیدا شي نو اسلامي شریعت د دي حالت لپاره هم د حل لارې بیان کړې دي

---

١ (النساء: ١٩)

٢ شرح صحیح البخاري.

٣ سنن أبي داود.

لکه څرنګه چې الله پاک فرمايي: ((...**وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا إِنَّ اللهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا**)) [(۱)].

ژباړه: او تاسې چې د کومو ښځو له سر غړونې څخه اندیښمن یاست: نو هغوی ته نصیحت وکړئ، د خوب ځایونه ورڅخه جلا کړئ او ویې وهئ، (آسانه وهل داسې سخت وهل نه چې په بدن اثر پرېږدي یا یې څه مات شي)، نو که هغو ستاسې فرمان بردارې شي، نو هغو ته د لاس غځونې له پاره بیځایه پلمې مه جوړوئ، یقيناً الله تعالی ډېر لوړ او لوی ذات دی.

د لانجو د حل لپاره د دغو لارو د روا کیدلو یواځېنې موخه د کورنۍ د ساتنې او دوام هڅه ده او د اصلاح لپاره یو وقایوي عمل دي، نه دا چې زړونه له فساد، بغض او کینې څخه ډک کړي.

د پورتني آیت شریف څخه د ښځې د اصلاح درې طریقې ثابتیږي چې په لاندې ډول دي.

۱ـ **نصیحت ورته کول:** د هرڅه څخه وړاندې هغوی ته نصیحت وکړئ، د صالحو ښځو تعریف ورته وکړئ او بلآخره همدغه آیت شریف ورته ولولئ او که نه پوهېدې ورباني پوهې یې کړئ.

۲ـ **د ځای او بستري جدا کیدل:** یعنې که وعظ او نصیحت باندې ښځې خپل بد رویش پرې نه ښود او نصیحت یې قبول نه کړ نو بیا باید مېړه د عبرت ورکولو په خاطر خپله بستره دویده کېدلو په ځایونو کې د خپلو ځانونو څخه جدا کړئ تر څو دوی پوه شي چې تاسو ترې زیات ناراضه یاست تردې چې د جنسي ارتباط څخه یې صرف نظر وشي.

۳ـ **وهل:** یعنې که په جدا کیدو سره هم ښځې له بد عادت څخه لاس وانه خیست نو بیا مېړه لره جائز دي چې وئې وهي خو وهل به پداسې اندازه سره وي چې بدن یې زخمي نه شي او اثر یې په بدن پاتې نه شي او نه یې کوم اندام مات شي او یا ښځه په دې وهلوسره عیبي شي، او وهل په د تادیب په خاطر وي نه د اهانت او سپک نظرۍ په غرض، او که دا عمل د خلکو څخه په پټه کې ترسره شي نو دا ډېره غوره ده تر څو مو ښځې نورو ښځو ته خجالتې نه شي.

۴ـ **د حکمانو منځګړیتوب:** که د ښځې او مېړه شخړې په پورتنیو لارو حل نه شوې نو بیا به یو حکم عادل سړی د خاوند د خپلوانو او یو حکم او عادل سړی د ښځې د خپلوانو سره د مېړه او ښځې تر منځ منځګړیتوب وکړي او د دوي تر منځ مشکل به د صلحې او عدل په رڼا کې ورته حل او فصل کړي او دواړه جانبه به په خپل جنایت او بد اخلاقي قانع کړي لکه الله تعالی فرمايي: ((**وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا**

۱ (النساء: ۳٤)

**فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا))**[1].

یعني: او (ای مؤمنانو!) که تاسو د دوی دواړو د مخالفت څخه ډارېدلئ (چې نور به هم دوام وکړي) نو یو سوله ګر د نارینه د خپلوانو څخه او یو سوله ګر د ښځې د خپلوانو څخه وټاکئ (تر څو روغه جوړه وکړي)، که دوی دواړه (سوله کوونکي په ریښتیا) سوله غواړي نو الله تعالی به د هغوی دواړو (مېړه او ښځې) په منځکې توافق واچوي. یقیناً الله تعالی پوه دی (او هم) خبردار دی.

## د اسلام له نظره د کورنیو تنظیم او د نسل تحدید:

کله چې نظر وکړو په دنیا کې که وړ کار وي او که لوی لږ وي یا ډیر آسانه یا مشکل نو د دې کارونو د سرته رسولو او ښه تنظیم لپاره ضروري ده یو څوک د هغه کار لپاره ذمه دار او سر پرست وټاکل شي او نور خلك د هغه په سمه توګه ملګرتیا او کومکي وؤسي، که چېري د کوم کار لپاره څوک ذمه دار او واکدار مقرر نه شي او ټولو کسانو ته یو شان حقوق ورکړ شي نو وبه ګورو چې که هر څو جزي وي یا عادي کار وي هغه به په سمه توګه ترسره نه شي، د بېلګې په توګه مکتب، پوهنتون، روغتون، کارخانه په دې ټولو مشترکو ځایونو کې که چېري د هغه لپاره یو مشر تنظیم کوونکي نه وي نو ډیر زر به له ورانیدو سره مخامخ شي او د ټولنې د خدمت ځای به ونه ګرځي.

نو همدارنګه یوه کورنۍ هم داسې ګډ ژوند او مشترك کارونه په هغه وخت کې تنظیم او تر سره کولای شي چې په هغه فامیل، کورنۍ کې یو با استعداده ذمه وار او مشر موجود وي او د کور نور ټول وګړي د هغه سره د کور په تنظیم او تربیتي امورو کې د هغه اطاعت پیروي اوله هغه سره کومکي وؤسي، او په کومه کورنۍ کې چې هر سړی ښځه، ماشوم د خپل سر او آزاد ژوند ولري او منظم کوونکی سرپرست موجود نه وي نو کیدای شي نه حل کیدونکې ستونزې او مشکلات په هغې کې پیدا شي. اوس سوال دا دی چې په کورنۍ کې د تنظیم لپاره د ذمه داري منصب چاته ورسپارل شوی دی، نو اسلام یو پوره کامل دین دی چې د هر چا لپاره یې خپل مسؤلیت په واضع توګه سره بیان کړي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ((**الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ...**)) [2].

---

۱ (النساء: ۳۵)

۲ (النساء: ۳٤)

يعنې: نارينه په ښځو (په تدبير) باندې پوره ولاړ دي (امارت او رياست د دوی دی) د هغه شي په سبب سره چې (په هغه شي باندې) الله تعالی ځينې د دوی (نارينه وو) ته په ځينو نورو (ښځو) باندې فضيلت ورکړی دی (او جوړښت يې امارت ته مناسب دی).

نو نارينه د ښځينه څخه جلا او د استعداد او زمه داري مناسب ګرځول شوی دی.

قوام: په معنا د ساتندوي،نګران، او خبر اخستونکي سره راځي، نو قوام هغه سړي ته وايي چې د هغه پورې ديوه شي مصالح او تدبير او تاديب تړلی شوی وي.[1]

## د نسل تحديد

دا چې د نکاح د موخو څخه يوه اهمه موخه په نړۍ کې دبشري نسل زياتوالی دی همدا سبب دی چې په ټولو اسماني کتابونو او وضعې قوانينو کې د دې موضوع ته ځانګړې پاملرنه شوې ده او د دې لپاره ځانګړي قوانين جوړ شوي او د اسلام ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم په همدې اړه فرمايلي دي: «**تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّى مُكَاثِرٌ بِكُمُ الأُمَمَ** »[2].

ژباړه: تاسو له مينه ناکو او اولاد راوړونکو ښځو سره ودونه وکړئ، زه د ستاسو په ډير والي په نورو امتونو وياړم.

خو په نني دنيا کې په مغربي تهذيب او مغربې مفکوره کې د انسان د خلقت يا زياتوالی لپاره يو داسې عمل روان دی چې د نسل زيادت سبب د فقر او د بې تربيې کيدلو لامل ګرځي.

خو د اسلام مبارک دين د داسې عقايدو ډير په کلکه ترديد کړي دي ځکه رازق مطلق هغه خالق دي چې د نسلونو پيداکول يې په لاس او قدرت کې دي، لکه چې الله تعالی فرمايلي: ((**وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا**))[3].

ژباړه:او تاسو خپل اولادونه د فقيرۍ د ډاره مه وژنئ، مونږ هغوی ته هم روزی ورکوو او تاسو ته هم (اولادونه تاسو نه فقيران کوي)، بې شکه چې د دوی وژل ډېره لويه ګناه (او خطاکاري) ده، (شرعاً او عقلاً).

نو د دې تقصيراتو په رڼا کې کومې طريقې چې اوس د نسل بندلو لپاره په دنيا کې بيا خاصه توګه په غربي هيوادونو کې عادت او رواج دي د اسلامي شريعت له مخې حرام او ناجائز کار دي او کومې طريقې چې اوس د نسل د بندولو لپاره استعماليږي په درې ډوله دي:

---

۱ عزيز التفاسير: ج ۳ ص ۱۴۴.
۲ (سنن أبى داود - (ج۲ / ص۱۷۵).
۳(الإسراء: ۳۱)

۱ـ هغه طریقه چې په هغه سره کوم اندام له منځه ولاړ شي لکه خصی کول یعنې قوت جماع خو وي او قوت تولد له منځه ولاړ شي دا په اسلام کې په قطعي طور سره حرام دي ځکه صحابه ؤ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه د دې کار د جواز پوښتنه وکړه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دې کار اجازه ورنه کړه.

۲ـ د دوا ګانو استعمال د حمل د منع کولو په خاطر: د دوا ګانو استعمال د حمل د بندولو په خاطر د ځینو جزوي صورتونو پرته شرعاً جائز نه دي بیا هم که چېرته په ځینو حالاتو کې ښځې ته د حمل له وجهې بیماري او د غیر فطري طریقه ولادت سره آپریشن او داسې ورته نورضرورت پیدا شي او یا د دې په شان د نورو سختو ضرورتونو په صورت کې د حمل منع کوونکې دواګانې استعمال وشي نو جائز دي[۱]

۳ـ هغه طریقي چې په آلاتو په استعمال سره وي، چې سړي او یا ښځه یې استعمال کړي دا د عزل په معنې سره راځي عزل کول اګر که شرعاً جائز دی مګر له ښځې څخه د اجازې اخیستل ضروري دي او بې له اجازې نه عزل کول مکروه دی.[۲]

البته: د اولاد تحدید که د فقر او بې وزلۍ په خاطر وي نو مطلق حرام او ناروا کار دي

## د دریم څپرکي لنډیز

د دریم څپرکي د مطالبو لنډیز په لاندې ډول سره دی.

دکورنیو د انحلال(له مېنځه تللو) سببونه په لاندې ډول دي:

۱ـ طلاق: طلاق په لغت کې: د خوشې کولو او قید لیري کولووته وایي، او په اصطلاح کې: په ځانګړو الفاظو سره د نکاح د قید لرې کول او پای ته رسولو ته وایي.

د طلاق حکم: په طلاق کې اصل منعه او نه کول دي، خو د اړتیا لپاره روا شوی دی، چې له د امله د ښځې او مېړه تر مینځ جلاولی راځي.

طلاق په دریو اعتبارنو ویشل شوی دي:

لومړي: د لفظ له مخې: په صریح او کنایه باندې تقسیم شوی دی صریح هغه لفظ دی چې د طلاق مراد ورڅخه په واضح توګه معلومیږي.

کنایه: کنایه هغه لفظ دی چې د طلاق مراد ورڅخه په واضحه توګه نه معلومیږي بلکې د بل شی معنا هم ولري.

---

[۱] (فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۱۲۵).

[۲] (فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۱۲۵).

په صریح لفظ سره طلاق واقع کیږي که نیت کړی وي او که نه او په کنایه لفظ سره بیا نیت ته اعتبار دی که نیت د طلاق ؤ نو طلاق کیږي او که نیت د طلاق نه وي نو بیا نه طلاق کیږي.
د سنت او بدعت له مخې طلاق په دو ډوله دي . سُني طلاق: هغه طلاق دی چې د سنتو موافق وي، او بدعي طلاق: هغه دی چې د سنتو مخالف وي.
د رجعیت او بینونت له مخې طلاق په درې ډوله دي:
۱ـ رجعي: د هغه طلاق نوم دی چې طلاق په صریح لفظ سره ورکړی شي او شمار یې درېو ته نه وي رسېدلی، او تر څو چې عدت یې نه وي تېر شوی مېړه کولی شي په قول یا فعل سره رجوع وکړي.
۲ـ بائن طلاق: هغه طلاق دی چې رجوع په کې صحت نه لری خو د بل مېړه کول هم ضرور نه دي، یوازې د نکاح تجدید لازم دی.
۳ـ مغلظ طلاق: هغه طلاق دی کله چې د طلاقونو شمېر درېو ته ورسېږي، نو دریم طلاق ته د غلیظ بائن(سخت جدا کوونکي) لقب ورکول کیږي.
د مغلیظ طلاق په اساس سره بیا له لومړی خاوند سره نکاح نه شي کولای مگر د لاندې شرطونو سره په دغه طلاق باندې د مطلقې ښځې نکاح صحت پیدا کوي:
الف: چې عدت تېر کړي.
ب: چې دوهم مېړه وکړي.
ج: چې دوهم مېړه ورسره جنسي اړیکه حقیقتاً ورسره قائم کړي.
د: چې دوهم مېړه یې طلاق کړي او یا ترې مړ شي.
ه: چې د دویم مېړه عدت هم تېر شي.
۲– خلع: خلع په لغت کې: د لرې کولو ته وایي، او په اصطلاح کې، له ښځې څخه د مال په بدل کې د خلع په لفظ سره د نکاح دواک ختمولو ته وایي.
۳ـ تفریق: هغه دی چې د قاضي حکم په اساس وي د بعضو ضررونو له وجهې.
۴ـ مرتدل کیدل: د خاوند په مرتد کیدو باندې نکاح فسخ گرځي، او ښځه به عدت تیروي او له عدت نه وروسته آزاده گرځي اوله بل چا سره نکاح کولی شي.
۵ـ لعان: لعان په لغت کې: له لعن څخه اخیستل شوې چې د لرې کولو ته وایي، او په اصطلاح کې: د ښځې او مېړه ترمنځ له لعن او غضب سره شهادت ورکولو ته وایي.
د لعان حکم: د لعان د شاهدی په ویلو سره د ښځې او خاوند تر منځ جلا کیدل واجب دي، قاضی به دوی دواړه سره جلا کولو حکم کوي، او په لعان سره طلاق بائن واقع کیږي.

۶ـ ظهار: د خاوند لخوا د خپلې ښځې تشبيه کولو ته وايي، له داسې ښځې سره چې په هغه په ده باندې د ابد لپاره حرامه وي.
ظهار يو ناروا او حرام کار دی او ظهار کوونکيورباندې ګناهګاريږي، او د ظهار تر سره کولو وروسته ښځه په خاوند باندې حراميږي، تر څو کفاره يې نه وي ورکړي.
۷ـ ايلاء: په لغت کې قسم ته وايي، او په اصطلاح کې په تاکيد سره قسم کولو ته وايی چې له خپلې منکوحې ته به تر څلورو يا له هغه څخه د زياتو وخت پورې نه ورنژدې کيږي .
د ايلاء حکم: که چېرې څلور مياشتې تيرې شي نو ښځه په بائن طلاق سره طلاقيږي، او که مخکې له څلورو مياشتو ښځې ته رجوع وکړه او قسم يې مات کړ، نو د قسم کفاره به ورکوي.
د کورنيو د ستونزو د حل لپاره بايد اسلامي قوانينو ته رجوع وشي او د يو بل حقوقو ته غاړه کيښودل شي، او خپل ژوند اسلامي چوکاټ کې په مينه او محبت سره تير کړي.
د نسل تحديد(محدود کول)
د نسل تحديد په اسلام کې د فقر او بې وزلۍ له وجهې ناروا او داسلامي نصوصو سره په ټکر کې دي. البته که چيرې ښځه د تولد جوګه نه وي د زيږدنې توان او قدرت ونه لري او يا د نورو ضرورتو په خاطر اسلامي شريعت بيا په ځينو مواردو کې دعزل او آلاتو، او دواګانو استعمال جواز ورکړي دي.

**پوښتنې**:
۱ـ د کورنيو د انحلال سببونه ذکر کړئ.
۲ـ د طلاق تعريف، او ډولونه ذکر کړئ.
۳ـ خلع، تفريق تعريف کړئ.
۴ـ ايا په اسلامي شريعت کې د مرتد سره نکاح کول جواز لری او که څنګه؟
۵ـ لعان، ظاهر تعريف او د دواړو حکم څه دی.
۶ـ ايلاء تعريف او د مشروعيت له دلايلو څخه يو قرآني آيت شريف ذکر کړئ.
۷ـ د کورنيو د ستونزو د حل لارې او چارې ذکر کړئ.

# څلورم څپرکی
# ټولنیزې اړیکې او آداب

**ټولیزه موخه:**
په اسلامي ټولنه کې د ټولنیزو اړیکو او آدابو پېژندل.

**ښوونیزې موخې**: د دې څپرکي په پای کې به زده کوونکي وکولای شي چې:
- د فرد اړیکه به له فرد سره وپیژني.
- دفرد اړیکه به له خپلوانو، ګاونډیانو سره وپیژني.
- د ټولنې سره به د فرد اړیکه وپیژني.
- دټولنې په اصلاح کې به د فرد مسؤلیت وپیژني.
- د معاشرت، دڅښلو او خوړلو، د جامو آغوستلو او سفر ادبونه به زده کړي.

## دفرد اړیکه د مسلمان فرد سره

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ» قِيلَ: مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ فَشَمِّتْهُ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتْبَعْهُ»** [۱].

ژباړه: له حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د یو مسلمان پر بل مسلمان شپږ حقونه دي. پوښتنه وشوه چې ای د الله رسوله! هغه کوم حقونه دي؟ پیغمبرصلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې ورسره مخامخ شوې نو سلام پرې واچوه، کله چې د مېلمستیا بلنه درکړي نو هغه قبوله کړه، کله چې درڅخه د نصیحت غوښتنه وکړي نو نصیحت ورته وکړه، او چې کله وپرنجیږي (**الحمدلله**) ووایي نو ورته په (**یَرْحَمُکَ اللهُ**) دعاء وکړه، چې کله ناروغ شي پوښتنې ته یې ورشه او چې کله مړ شو نو د جنازې لمانځه ته یې ورشه.

---

۱ مسند أحمد - (ج١٤ / ص٤٣٩).

په پورتني ذکر شوي حديث شريف کې د مسلمانانو يو پر بل باندې ځينې حقونه بيانوي، چې د دې مراعاتول د ټولنې د وګړو تر منځ د ورورګلوۍ او مينې او محبت د اړيکو په ټينګښت کې اساسي نقش لوبوي، نو په هر مسلمان لازمه ده چې د نورو مسلمانانو سره ښې اړيکې ولري او حقوق يې وپيژني، او د ښو اړيکو په واسطه سره په اسلامي ټولنه کې د يووالي او وحدت د ټينګښت لامل وګرځي.

او له حق څخه مراد هغه څه دي چې سرته رسول يې فرض، واجب، سنت، او يا مستحب وي. نو دلته د فرد اړيکه د فرد سره ورڅخه مطلب د مسلمانانو تر منځ د خواخوږۍ هغه اخلاقي نظام دی چې يو مسلمان د بل مسلمان د متقابل درناوي په بناء پرې مکلف دی، چې په لاندې ډول سره دي:

**۱ـ سلام اچولو**

د فرد اړيکه د فرد سره تر ټولو لومړی سلام اچول دي، کله چې يو فرد د بل مسلمان فرد سره مخ شي بايد په سلام اچولو سره خپله ليدنه پيل کړي.

غوره شخص هغه څوک دی چې د سلام په اچولو کې تر نورو لومړی شي. سلام اچول د اسلام خصوصيت، د رسول الله صلی الله عليه وسلم تل پاتي د مينې اومحبت څخه ډک سنت دی او ځواب ورکول يې واجب دي.

**۲ـ د دعوت (ميلمستيا) منل**

که يو مسلمان فرد د بل مسلمان فرد ته د کوم مناسبت په بناء لکه واده، عقيقه او يا بې له کوم مناسبت د ميلمستيا بلنه ورکړي نو پر بلل شوي لازم دي چې دعوت يې ومني، څکه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:« **مَنْ دَعَاكُمْ فأَجِيبُوهُ**».[1] يعنې: که څوک مو ميلمستيا ته دعوت کړي بلنه يې ومنئ.

**۳ـ نېکه مشوره ورکول**

که يو مسلمان له بل مسلمان څخه په کارونو کې مشوره وغواړي، نو لازم دي چې ورته نيکه مشوره ورکړي، که چېرې په کولو کې يې د دنيا او آخرت ګټه وه بايد ورته وهڅول شي او که پکې د ضرر ويره وه بايد ورڅخه وژغورل شي. په مسلمان باندې لازم دي چې بل مسلمان ورور ته د مشورې ورکولو په وخت کې داسې مشوره ورکړي چې دنيوي او اخروي سرلوړي پکې نغښتې وي.

---

۱ شعب الإيمان - البيهقي - (ج۳ / ص۲۷۷).

پکار ده چې د مشورې په ورکولو کې د هر ډول غولونې او غوړه مالی څخه ډډه وشي، ځکه چې دا مسلمان ورور ته په مشوره ورکولو کې خیانت او درغلي ده.

### ۴ـ عطسې(پرنجي) ته ځواب ورکول

د پرنجي په واسطه سره د انسان له مغزو څخه مضر مواد بهر ته را وځي، او دا په بنده د الله تعالی لوی احسان دی، بنده ته ښایی چې د الله پاک د نوموړي نعمت شکر اداء کړي او پر ژبه (**الْحَمْدُ لِلهُ**) ووایي، بل مسلمان ورور باید له اوریدلو سره سم دعاء ورته وکړي او ووایي: (**یَرْحَمُکَ اللهُ**) یعنې: الله تعالی دې پر تاسو ورحمیږي. له دې څخه وروسته په پرنجي کوونکي لازم دي چې د خپل مسلمان ورور ځواب په (**یَهْدِیکُمْ اللهُ وَیُصْلِحُ بَالَکُمْ**) سره ورکړي.

### ۵ـ د ناروغ پوښتنه:

د یو مسلمان په بل مسلمان باندې دا حق دی چې کله یو ناروغ شي نو د ناروغی په حالت کې د هغه پوښتنه کول دې خصوصاً که ناروغ د خپلوانو یا دوستانو څخه وي چې د خپلوانو او دوستانو د ناروغی پوښتنه د نوور په نسبت ډیره ضروري ده. د ناروغ پوښتنه ډیر فضیلت لري او په دې اړه ابوهریره داسې رضي الله عنه روایت کوي: **عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم « إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا ابْنَ آدَمَ مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِى. قَالَ يَا رَبِّ كَيْفَ أَعُودُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ. قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِى فُلاَنًا مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِى عِنْدَهُ ...** »[1].

ژباړه: له حضرت ابوهرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله جل جلاله دقیامت په ورځ فرمایي: ای د آدم زویه! ناروغ شوم، مگر زما پوښتنې ته رانه غلې، مخاطب بنده عرض وکړي او وبه وایي: ای زما پروردگاره! څرنگه ستا پوښتنه وکړم حال دا چې د ټولو عالمیانو پرودگارئې.

الله جل جلاله به وفرمایي:آیا خبر نه شوي چې زما فلانی بنده ناروغ وو، مگر ته یې پوښتنې ته ورنغلې؟ آیا نه پوهېدې چې که چېرې ته د هغې پوښتنې ته تللی وای، نو زه دې هملته موندلم.

---

۱ (صحیح مسلم - (ج۸ /ص ۱۳).

له پورتني مبارک حديث شريف څخه څرګندېږي چې د ناروغ د حالت پوښتنه کول او هغه ته ورتګ په اسلام کې ضروري او حتمي کار دي،آن تر دې حده چې الله جل جلاله د قيامت په ورځ هغه انسان چې د دې انساني او ټولنيز کار په سرته رسولو کې يې بې اعتنائي کړي وي تهديدوي او داسې ورته وايي: چې زه ناروغ وم مګر ته زما پوښتنې ته رانه غلي، يعنې دا چې زما حق پېژندونکی مؤمن بنده د خپلې ناروغۍ په وخت کې چې د عجز او ناتوانۍ حالت دی ماته رجوع کړې وه او زما سره يې راز او نياز درلود او هم يې له ما نه مرسته غوښتله، نوځکه که چېرته ته هلته تللی وای په حقيقت کې دې زه هلته موندلم.

د اسلام مقدس دين د ټولنې د غړو ترمنځ د ټولو ټولنيزو اړيکو د سمبالولو او تنظيم په څنګ کې د وګړو د ټولنيز ژوندانه دا برخه هم نه ده هيره کړي، او واضح کړی يي دي چې د ناروغ د حالت په پوښتنه او ده لره په ورتګ کې څه اسرار نغښتي دی او هغه دا چې د ناروغ په پوښتنه سره له يوې خوا ناروغ روحاً تقويه او غښتلی کيږي، او له بلې خو اکه چېرې د دواړو د کورنيو اويا افرادو تر منځ خصومت او يا دښمني موجوده وي، د دې پوښتنې په نتيجه کې هغه ټول له منځه لری او د ورور ولۍ، مينې او محبت فضا را پيدا کيږي.

نو ځکه ويلای شو چې د ناروغ پوښتنه کول د ټولنيزو اړيکو د ټينګښت موجب ګرځي، او د اسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم د هدايت د پيروي په نتيجه کې د دنيا او آخرت ښېګڼې د انسان په برخه کيدای شي.

**۶ـ د مسلمان په جنازه کې برخه اخيستل:**

يو له هغو وجايبو څخه چې مسلمان فرد يې پرغاړه لري دا ده چې دبل مسلمان د نيکبختی په فکر اوسي. هر کله چې يو مسلمان فرد له دې دنيا څخه سترګې پټې کړي نو د هغه د اعمالو دروازه بنده شي، او د نورو دعاوو ته ډېر محتاج شي، نو له دې امله پر نورور مسلمانانو د ده حق دی چې په اړه يې الله تعالی ته سوال او زارۍ وکړي، چې د ده ګناهونه ور وبښي او راتلونکی ژوند يې ښايسته کړي.

کله چې مسلمان ورور په حق رسيږي نو ډيره ضروري او غوره ده چې نور مسلمانان يې په جنازه کې ګډون وکړي، ځکه په دې کار کې د ګډون کوونکی ته اجر او ثواب رسيږي او د مړي د پاتې کسانو لپاره دزيات تسليت سبب ګرځي.

د ټولنې سره د فرد اړيکه

## ۱ـ د فرد اړیکه د خپلوانو سره

د خپلوانو سره د خپلولۍ پاللو (**صلة الرحم**) تعریف علماؤ دارنګه کړې دی:(دنسب او خسرګنۍ له طرف خپلوانو سره نیکي کول هغوی باندې شفقت او رحم کول د هغوی له حالاتو څخه ځان خبرول، **صلة الرحم** (خپلولۍ پالل بلل کیږي).

د پورتنۍ تعریف په اساس سره د خپلوانو سره خپلوي پالل دیوې کورنۍ هر غړی په بل غړی دا حق لري چې د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د یو بل ملاتړ وکړي. او په دې اړه زیات قرآني آیاتونه او نبوي احادیث راغلي دي چې مسلمانان د خپلولۍ پاللو ته هڅوي چې د هغو له جملې څخه د بېلګې په توګه ځینې په لاندې ډول سره بیانوو:

**۱ـ قرآني آیاتونه:**

۱ـ دخپلوانو سره د نیکي کولو په اړه الله تعالی داسې فرمایلي دي: ((**وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ**...)) [۱].

ژباړه: او د الله جل جلاله بندګي وکړئ او هیڅ شی ورسره مه شریکوئ، او د مور او پلار سره(نیکي وکړئ) نیکي کول، او هم د خپلوۍ د خاوند سره (نیکي وکړئ).

۲ـ او فرمایي: ((...**وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا**)) [۲].

ژباړه: او د هغه الله جل جلاله څخه وډار شئ چې تاسو یې په نامه باندې په خپلو منځو کې یو تربله سوالونه کوئ، او هم د خپلویو څخه وډارشئ(چې پرې یې نه کړئ). بې شکه الله تعالی په تاسو باندې څارونکی دی (ستاسو ټول کړه وړه څاري).

**۲ـ مبارک نبوي احادیث:**

---

۱ (النساء: ۳٦) .
۲ (النساء: ۱).

**١. وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول اللَّه صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: « مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ والْيوْمِ الآخِرِ، فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَه، وَمَنْ كانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ والْيوم الآخِرِ، فَلْيصلْ رَحِمَه، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِالله وَالْيَوْمِ الآخِرِ، فلْيقُلْ خيراً أَوْ لِيَصمُتْ ».**[١]

له حضرت اوبوهرة رضي الله تعالى عنه څخه روايت دي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې په الله او د قيامت په ورځ ايمان لري نو د ميلمه عزت دې وکړي او څوک چې په الله او د قيامت په ورځ ايمان لري نو خپلوانو سره دښه سلوک کوي، او څوک چې په الله او د قيامت په ورځ ايمان لري نو د خير (ښېګڼې) خبره د وکړي او يا دې غلى (چوپ) شي.

**٢ـ وعن أبي أَيُّوب خالدِ بن زيدٍ الأنصاري رضي الله عنه أَن رجلاً قال: يا رسولَ الله أَخْبِرْني بِعملٍ يُدْخِلُني الجنَّةَ، وَيُبَاعِدني مِنَ النَّار. فقال النبيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: «تعبُدُ الله، ولا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئا، وَتُقِيمُ الصَّلاَةَ، وتُؤتي الزَّكَاةَ، وتَصِلُ الرَّحِم ».(٢)**

يعنې: له حضرت ابو ايوب خالد بن زيد انصارى رضى الله عنه څخه روايت دى، چې يو سړى عرض وکړ: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ماته د داسې نيک کار ښودنه وکړه چې جنت ته مې داخل کړي او د دوزخ نه مې لرې کړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: خاص د الله تعالى عبادت وکړه، بل هيڅ شی مه ورسره شريکوه، لمونځ کوه، زکات ورکوه، او صله رحمې کوه.

نودا چې داسلام مقدس دين هر حکم انسانيت ته ګټې لري، نو ښايې د خپلولۍ پاللو د لويو ګټو څخه يوه دا وي چې په ټولنير ژوند کې د افرادو او کورنيو تر منځ مينې او محبت او ورورګلوۍ سبب ګرځي، او که چېرته دا خپلولۍ ونه پالل شي په اسلامې ټولنه کې د دښمنيو او بدبختيو سبب کيږي، او هغه څوک چې خپلوي نه پالي د هغو په باره کې ګڼ شمير وعيدونه راغلي دي چې د بېلګې په توګه لاندې احاديث ذکر کوو:

١ـ « **لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعُ رَحِمٍ** »[٣]. يعنې: د خپلولۍ قطع کوونکې جنت ته نه شي داخليدلی. او کوم شتمن خلک چې د کمزورو خپلوانو سره خپلوي پرې کوي او يا لويي پرې کوي هغوی هم د دې حديث شريف په حکم کې شامل دي. يعنې: د جنت څخه بې برخې دي که چېرته الله تعالى ته توبه وباسي او نيکې وکړي هغه کسان په امن کې دي.

---

١ (متفقٌ عليه).
٢ (متفق عليه، ريا ض الصالحين ص ٢٧١).
٣ (سنن أبى داود - (ج٢ / ص٦٠).

۲ـ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم « الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُولُ مَنْ وَصَلَنِى وَصَلَهُ اللَّهُ وَمَنْ قَطَعَنِى قَطَعَهُ اللَّهُ »[۱].

ژباړه:له حضرت عائشې رضي الله عنها روايت دی:چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چې خپلوي به دقيامت په ورځ په عرش پورې اويزانده(نښتې)وي او داسې به وايې چا چې دنياکې زه پاللم الله دنن پرې رحم وکړي او چا چې دنيا کې نه پاللم الله تعالی دی خپل رحم پرې قطع کړي.

## ۲ـ دفرد اړيکه د ګاونډيو سره

اسلامي شريعت په هر فرد مسلمان باندې دا لازمه کړې ده چې ټولو هغو خلکو سره ښه تعلقات او سلوک ولرئ چې په کور او کلی،کار وبار او سفر کې ورسره شريک او نيږدی وي.

ګڼ شمېر شرعي نصوص مسلمانان دګاونډيو د حقوقو پاللو ته هڅوي چې ځېنې په لاندې ډول سره ذکر کوو:

۱ـ الله تعالی فرمايلي دي:((...**وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ**...)) [۲].

ژباړه: او نيکې کوې د ګاونډي سره چې د خپلوۍ خاوند هم وي او هم د اجنبي ګاونډي سره او هم د داسې انډيوال سره چې په څنګ کې مو قرار لري.

**۲. عَنِ ابْنِ عُمَرَ ، رَضِيَ الله عَنْهُمَا ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيه وسَلَّم : « مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِى بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ »** [۳].

ژباړه: له عبد الله ابن عمر رضي الله عنها څخه روايت دی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: تل به جبرئيل عليه السلام (د الله تعالی له لوري) ماته دګاونډي په هکله توصيه کوله تر دې چې ما فکر کاوه چې په ميراث کې به ورته برخه ورکړای شي(يعنې د يو چا له مړيني وروسته به يې ګاونډی هم دنورو وارثانو په څير د مړي له مال څخه برخه اخلي).

**۳ . وعن أبي هريرة رضي اللَّه عنه أَن النبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم قال: « واللهِ لا يُؤْمِن، واللهِ لا يُؤْمِن، » قِيل: منْ يا رسولَ الله؟ قال: « الَّذي: لا يأْمنُ جارُهُ بَوَائِقَهُ»** [٤].

ژباړه: له حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: سوګند په خدای ايمانداره نه ګڼل کيږي. وويل شول: څوک د الله تعالی استازيه؟ هغه

---

۱ (صحيح مسلم - (ج ۸ /ص ۷).
۲ (النساء: ۳٦) .
۳ (صحيح البخاري - (ج۵ /ص ۲۲۳۹).
٤ (متفق عليه).

وفرمايل: هغه څوک چې ګاونډی يې له ضرر څخه په امان کې نه وي، دغه حديث شريف په دې باندې دلالت کوي چې بد اخلاقي له ايمان سره ټکر لري، او ايمان او بد اخلاق نه سره جمع کيږي.

### ۳ـ د فرد اړيکه د ټولنې سره

انسان يو ټولنيز ژوند لري، فردي ژوند په حقيقت کې په ټولنيز ژوند پورې اړه لري، او بل دا چې د مسلمانانو ټولنه لکه يو جسد داسې ګڼل شوې ده او فراد يې د غړيو حيثيت لري کله چې يو غړی دردمن شي ټول ځان ورسره ناآرامه کيږي نو مسلمانان په ټولنه کې په غم اوښادۍ کې شريک دي او دنده لري چې خپل ځان د ټولنې د افرادو په غم او خوشحالۍ کې سره شريک وګڼي.

دفرد اړيکه د ټولنې سره بېلا بېلو برخو ويشو او ترڅيړنې لاندې يې نيسو:

الف ـ د ټولنې د مسلمانانو حقوق.

ب ـ د ټولنې د نورو غړيو حقوق.

ج ـ داسلامي ټولنې څخه مضرات لرې کول.

د ـ د اسلامي ټولنې پرمختګ ته پاملرنه.

**الف: دټولنې د مسلمانانو حقوق:**

هر مسلمان په بل مسلمان باندې ځينې ځانګړي حقوق لري. دا حقوق دخپلوۍ(قرابت) په اصل نه دي ولاړ بلکې د دې حقونو د اثبات لپاره يواځې د دين يووالی کفايت کوي، ځکه چې په مسلمان خپل دين ګران دی نو دخپل دين خاوندان هم بايد ورباندې ګران وي او د هغوی خوشحالي او سوکالي خپله سوکالي وګڼي د هغوی غم او خپګان خپل غم او خپګان وبولي. مسلمان چې کوم شی د خپل ځان لپاره ښه ګڼي دخپل مسلمان ورور لپاره دهم وغواړي. او څه چې ځان ته نه خوښوي، دبل مسلمان لپاره يې هم نه خوښوي.

دا خصلت د مسلمان لپاره د ايمان لويه نښانه ګڼل شوې ده په يوه مبارک حديث کې راغلي دي چې يو مسلمان په بل مسلمان باندې حقونه لري چې ځينې يې دا دي.

۱ ـ يوله بل سره نيکي کول او په تيري او دښمنی کې له مرسته کولو څخه منع کول.

۲ـ مينه او محبت کول د ټولنې د غړيو سره:

د مينه کوونکي مؤمن په اړه نبي کريم صلی الله عليه وسلم داسې فرمايلي دي: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:** « **الْمُؤْمِنُ مُؤْلَفٌ, وَلَا خَيْرَ فِيمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ**».[1]

---

۱ (مسند أحمد - (ج١٥ /ص ١٠٦), سنن البيهقي الكبرى - (ج١٠ /ص٢٣٦).

ژباړه: له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: مؤمن دمينې او الفت ځای دی او په هغه کې له سره خير نشته چې نه مينه اونه الفت کوي او نه له هغه سره مينه او الفت کيږي.

۳ ـ د ګنهګار لپاره د الله تعالی څخه هدايت او مغفرت غوښتل.

۴ ـ هغه څوک چې له تا سره يې بد کړي وي ورسره ښه کول.

۵ ـ د محتاج سره مرسته کول.

۶ ـ دمشر مسلمان درناوی کول.

۷ ـ په کشر مسلمان باندې شفقت کول.

۸ ـ له خپل بل مسلمان ورور سره خيانت نه کول.

۹ ـ بل مسلمان ورور په بدو نه يادول.

۱۰ ـ د بل مسلمان غيبت نه کول.

۱۱ ـ په بل مسلمان باندې بد ګماني نه کول.

۱۲ ـ په غم او ښادۍ کې د بل مسلمان سره ځان شريک ګڼل.

۱۲ ـ مسلمانان جنګ ته نه هڅول بلکې تر منځ يې سوله غوښتل.

**ب: د ټولنې د نورر افرادو حقوق:**

مسلمان ديني او عقيدوي دنده لري چې د ټولنې د ټولو غړيو سره که څه هم اسلامي عقيده ونه لري لاندې امرونه مراعات کړي.

۱ ـ د دوی سره په معامله کې خيانت نه کول.

۲ ـ په عدلي قضاياوو کې ورسره عدالت کول.

۳ ـ د دوی په چارو او امورو باندې چې د اسلامي شريعت سپکاوی په کې نه وي تېری نه کول.

۴ ـ په مال او ناموس يې تيری نه کول.

۵ ـ د دوی سره به داسې کړنه کيږي چې د اسلامي شريعت سره مخالفت کې نه وي.

**ج ـ داسلامي ټولنې څخه مضرات لرې کول:**

يو مسلمان وګړی په همدې بنسټ چې د اسلامي ټولنې سره اړيکې لري په ده باندې لازم دي چې بايد د ټولو هغه ضررونو څخه اجتناب(پرهيز) وکړي چې د ټولنې په ضرر وي.

لپاره د دې چې داسلامې ټولنې خدمتګار شي او ټولنه د ضررونو څخه په امن کې کړي او په خپله هم ټولنې ته ضرر ونه رسوي، نو ضروري خبره ده چې دا ضررونه وپیژنو تر څو اسلامي ټولنه ته ضرر پرې ونه رسو.

**۱ـ فردي ژوند غوره کول**: یعنې چې د ټولنې سره اړیکې پرې کړي یا لرې والی له ټولنه څخه غوره کړي.

**۲ـ د ګناهونو مرتکب کیدل**: ځکه هر ډول ګناه اسلامي ټولنې ته ستونزې پیداکوي، لکه زنا، شراب څښل، غلا، اختطاف، احتکار، سود، قمار، اونور ګناهونه.

**۳ـ جاسوسی**: یعنې د اسلامي ټولنې د دښمنانو سره اړیکه نیول د اسلامي ټولنې په ضرر باندې.

۴ـ دهغو مفکرو پیروي: چې د اسلامي ټولنې په ضد وي د بېلګې په توګه، کمونیزم، نشنلیزم او نور.

**۵ـ د هغو قوانیون پیروي**: چې د اسلامې په ټولنې په ضد وي.

**د: داسلامي ټولنې پرمختګ ته پاملرنه:**

د اسلامي ټولنې وکړي باید خپلو ټولو دیني او ملي ګټو او د ټولنې د سوکالئ د پاره پوره پاملرنه وکړي، تر څو اسلامي ټولنه سبب د آرامي او اطمینان وګرځي نو په همدې بنسټ لاندې ځینو کړنې چې د اسلامي ټولنې پرمختګ پرې کیږي په لنډه توګه داسې یادونه کوو:

**۱ ـ امر په معروف او نهی له منکر څخه**: امر په معروف او نهی له منکر څخه په لاندې بخشو کې صورت نیسی.

الف: دعوت د عقیدې اصلاح ته.

ب: دعوت داخلاقو ښه والی ته.

ج: دعوت د نیکو او ښایسته اعمال او عبادات تر سره کولو ته.

د: د ټولنې د وګړو ژغورنه د دوذخ نه.

۲ـ د کم زورو خلکو سره مرسته کول.

د بې وزلو خلکو سره مرسته او کومک لاندې اشخاصو ته شاملیږي.

الف: د یتمانو سرپرستي.

ب: د بې وزلو اطفالو سرپرستي.

ج: د کونډو او بې سرپرسته ښځو سره همکاري.

ه: پاملرنه ناروغانو او معیوبونو ته.

د: د واده کولو شرایط آماده کولو بې وزلو ځوانانو ته.

۳ـ صدقه جاريه ته پاملرنه کول: لکه د مسجد، مدرسې، پول، سرک اولارو جوړول اوداسې نور.
۴ـ تعليم او تربيت ته پاملرنه.
۵ ـ د زکات ورکولو ته پاملرنه.
۶ ـ تجارت او حلال منفعت ته پاملرنه.
۷ـ دکار زمينه برابرول.
۸ ـ د نورو حقوق مرعات کول.

## د ټولنې په اصلاح کې د فرد مسؤليت

د اسلام په ټولنيز نظام کې د پام وړ خبره دا ده چې فرد د ټولنې د اصلاح مسؤليت په غاړه واخلي، په دې معنا چې هر فرد څخه غوښتنه کيږي، چې د ټولنې د اصلاح لپاره کار وکړي، د خپلې وسې اوتوان په اندازه فساد ترېنه لرې کړي، او د دغه غوښتنې د سرته رسولو لپاره له نورو سره مرسته وکړي الله تعالی فرمايلي دي:((**وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ**)) [1].

ژباړه: او مرسته کوي (له يو بل سره) په پرهيز ګاري او تقوا (باندې) او مرسته مه کوئ (يو بل سره) په ګناه او دښمنی (باندې).

او له فرد څخه د ټولنې اصلاح غوښتل شوې، نو ښکاره خبره ده چې د ټولنې د فساد لرې کول هم غوښتل شوي، الله تعالی فرمايلي دي: ((**وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا** ...)) [2].

يعنې: اوفساد مه کوئ په ځمکه کې وروسته د اصلاح د هغې (ځمکې).

د فقهې له قواعدو څخه دا يوه قاعده ده چې: هر هغه څه چې ورکول يې حرام وي اخيستل يې هم حرام دی، ځکه بل چاته د حرام شي ورکول فساد او د فساد کار دی، نو که چېرته انسان له اصلاح څخه عاجز شي، نو د فساد منع کولو لپاره د کار وکړي او د فساد د خپريدو مخه د ونيسي،په همدې بنسټ سره سود او رشوت اخيستل هم نه دي روا، په حديث شريف کې راغلي دي:« **لَعَنَ اللَّهُ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ وَشَاهِدَيْهِ وَكَاتِبَهُ**» (۳).يعنې: الله په سود خوړونکي، په بل چا باندې د سود خوړونکي، ليکونکي او په دواړه شاهدانو يې لعنت ويلی دی. او په بل حديث شريف کې راغلي دی: « **لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ وَالرَّائِشَ** ». (٤)يعنې: رسول الله صلی الله عليه

---

١ (المائده: ٢).
٢ (الأعراف: ٥٦).
٣ (مسند أحمد - (ج۶ / ص۳۵۸).
٤ (مسند أحمد بن حنبل - (ج٥ / ص٢٧٩).

وسلم لعنت ويلی دی په رشوت خوړونکی، رشوت ورکړل شوی او داوړو تر منځ رشوت اچوونکی، باندې یعنې دا ټول په حکم کې سره یو شي دي.
دټولنې په اصلاح کې فرد مسؤلیت لري چې د ټولنې اصلاح وکړي. الله تعالی فرمایلي دي:((**وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ** ...))[1].
یعنې: مومنان او مومنانې ښځې ځینې د دوی دوستان دی د ځینو نورو امر کوي په معروف او منع کوي له منکر څخه. د معروف کلمه ټولو هغه شیانو ته شامله ده چې اسلامي شریعت غوښتي وي. او منکر کلمه ټولو هغه شیانو ته شامله ده چې اسلامي شریعت ترینه منع کړې وي، او په دې کې په ښکاره توګه هر هغه څه شامل دي چې ټولنه اصلاح کوي او فساد څخه یې پاکوي.

## ټولنیز آداب

### ۱ـ معاشرتي ادبونه (په ګډه سره اوسیدل او ژوند تیرول)

سلام اچول سنت او ځواب ورکول یی واجب دی.
۱ـ سلام اچول: کله چې یو مسلمان له بل سره مخ شي باید په سلام اچولو سره خپله لیدنه پیل کړي. او غوره شخص هغه دی چې د سلام په اچولو کې لومړی شي.
۲ ـ دسلام اچولودرې طریقې دي لومړۍ طریقه (**السلام علیکم و رحمت الله وبرکاته**) دویمه طریقه (**السلام علیکم و رحمت الله**) دریمه طریقه (**السلام علیکم**) چې په ټولو کی یی غوره لومړی طریقه ده ځکه د سلام پوره الفاظ پکې شتون لري او سلام باید په پوره الفاظو سره سلام واچوال شي. البته په دوو نورو طریقو سره سلام اچول جایز دي.
۳ـ کله چې لویه ډله وي او یا په اوریدلو کې یې شک وي، نو په دې حالت کی د سلام اچول درې ځلې مستحب دی.
۴ـ سلام به په جهرسره اچوي او ځواب به یې هم په جهر سره ورکوي خو داسې جهر چې اوریدونکی یې واوري.
۵ـ پر ماشومانو باندې دسلام اچول مستحب دي یعنې که غټان په ماشومانو تیریدل نو سلام پرې واچوي

1 (التوبة: ٧١).

۶ـ که چېرته ځینې خلك ویده وي او ځیني ویښ په داسې طریقه به سلام اچوي، چې یواځې ویښ کسان یې واوري دا هم کیداي شی چې د لاس اشارې څخه استفاده وکړي.
۷ـ داهل کتابودسلام په ځواب کی به یواځی وعلیکم ویل کیږی او بس.
۸ـ که چېری په یو مجلس کی کافران او مسلمانان ګډوډ ناست وي سلام به اچوي خوپه نیت کې به مسلمانان نیسي.
۹ـ کله چې یومسلمان بل سره مخامخ کیږی، وروسته له سلام څخه باید مصافحه (لاس ورکول) به ورسره کوي، ښه راغلاست او هرکلی به ورته وایي.
۱۰ـ مصافحه کوونکي شخص لپاره مستحب دي چې ترڅو دویم کس خپل لاس نه وي لرې کړی دا به یې نه لرې کوي.
۱۱ـ له مصافحی نه وروسته لومړی دمزاج پوښتنه وکړئ اوبیا د کورنی.
۱۲ـ کله مو چې دچا دلیدلو اراده وی نو لومړی ترینه وخت واخلئ بی وخته د چا کورته تلل مناسب نه دی.
۱۳ـ دچا کره د تللو پر وخت کله کله مناسبه تحفه هم له ځانه سره یوسئ ځکه چې په سوغاتونو ورکولو سره مینه زیاتیږي.
۱۴ـ تل دا هیله مه لرئ چې خلك دې ستاسی لیدلو ته راشي په خپله هم د نورو کره ولاړشئ په خپل منځ کی تګ راتګ زیاتول او یو د بل په کار راتلل غوره عمل دی خو یاد ساتئ چې د مؤمنانو تلل راتلل به د یو نیک هدف لپاره وي.

**هغه ځایونه چې سلام پکې نه اچول کیږي**

په سلام اچولو کې سنت طریقه دا ده چې وړوکی به پر لوی سلام اچوي، پر لاره تېرېدونکی به پر ناست سلام اچوي، لږ خلك به په ډیرو سلام اچوي، مګر ځینې داسې حالات شته چې سلام اچول پکې غوره نه دي او هغه په لاندې ډول دي:
۱ـ پر لمونځ کوونکي.
۲ـ د قرآن کریم په لوستونکي.
۳ـ پر واعظ او خطیب باندې.
۴ـ په آذان کوونکي باندې.
۵ـ پر هغه چا چې په قضاء حاجت باندې ناست وي، او یا په حمام کې وي.

۶ـ د ډوډۍ خوړلو یا اوبو څښلو پر وخت،که چېرې سلام اچوونکي په خوراک کې ورسره ګډون نه غواړي.
۷ـ هغه څوک چې په ګناه یا بې ګټې کارونو کې مشغول وي.

## د خوړلواو څښلو ادبونه

۱ـ د دسترخوان غوړول.
۲ـ د واړه لاسونه تر بندو پورې مینځل.
۳ـ په لوړ آواز سره (**بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ** ) ویل.

**وعن عَائشة رضي اللَّه عنها قالَتْ: قالَ رسولُ الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: «إذا أكل أَحَدُكُمْ فَلْيَذْكُرِ اسْمَ الله تعالى، فإنْ نسي أَنْ يَذْكُرَ اسْمَ الله تَعَالَى في أَوَّلِهِ، فَلْيَقُلْ: بِسْمِ الله أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ».**[1]

یعنې: له حضرت عائشې رضي الله عنه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې څه خوري، نو د الله نوم دې ضرور واخلي، که چېرې په شروع کې د چا نه د الله نوم اخستل هېر شو نو په آخر کې دې ووایي: (**بِسْمِ اللَّه أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ**) یعنې: په اول او آخر کې د الله تعالی په نامه سره شروع کوم.
۴ـ خوراک او څښاک به دسرو او سپینو زرو په لوښو کی نه وي ځکه چې دا د کفارو لپاره په دنیا کې دي اودمسلمانانو لپاره په آخرت کې دي او په دې سره د غریبو خلکو زړونه ما تیږي او نا امیده کیږي.
۵ـ د خوراک په وخت کې په څنګ(ډډه وهلو) سره به خوراک نه کوي.
۶ـ د خوراک په وخت کې په خوړو باندې باید عیب ونه لګول شي او نه یې سپک وګڼي، بلکې که چېرته مو خوراک ته اشتها نه کیږي او ښه یې نه ګڼې نو مه یې خورئ.
۷ـ خوراک اوڅښاک به په ښي لاس سره کوي او دچپ لاس څخه به ډډه کوې ځکه چې په چپ لاس شیطان خوراک او څښاک کوي مګر د عذر پر وخت کولای شی چې په چپ لاس خوراک او څښاک وکړي.
۸ـ خوراک باید د خپل طرف وخوړل شي او د کاسې د منځ او یا د بل ملګري د طرف څخه باید ځان وساتل شي.

---

۱ (رواه أبو داود، والترمذي).

۹ـ كه ټولنيز خوراك پرمهال كه خورما وي او يادېته ورته نور شيان وي، نو دوه دوه دانو را اخيستلو او خوړولو څخه بايد ډډه وشي.
۱۰ـ دڅښلو پر مهال به په لوښي كې د ساه اخيستلو او پوكې كولو څخه بايد ډډه وشي.
۱۱ـ اوبه وركونكى شخص به تر ټولو وروسته اوبه څښي.
۱۲ـ د خوراك پر وخت روا خبرې كول مستحب دي او چپ كېناستل غوره عمل نه دى.
۱۳ـ د خوراك او څښاك په وخت كې بايد له اسراف څخه ځان وژغورل شي، همدا شان ډېر كم خوراك به هم نه كوې بلكې متوسطه د خپل وجود د ضرورت په اندازه سره او ډېر خوراك د صحت لپاره هم تاوان دى او همدارنګه زړه سختوي او په وجود كې سستي پيدا كوي.
۱۴ـ تر خوراك وروسته بايد لاندې دعاء ولوستل شي: «**الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ** ».[۱]
يعنې: ټول تعريفونه الله لره دي هغه چې موږ ته خوراك او څښاك راكړ او مونږ يې ګرځولي يو له جملې د مسلمانانو څخه.
۱۵ـ وروسته له خوراك څخه بايد لاسونه پرمينځل شي.

## د جامو اغوستلو ادبونه

الله فرمايلي دي:((**يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ**...)).[۲]
يعنې: اى د آدم اولاده مونږ تاسو ته د عورت پټولو او ښايست له پاره لباس دركړى خو د تقوى لباس له هر څه نه بهتر دى.

### د لباس ځينې ادبونه:

۱ـ لباس به پاك او غټ وي چې د عورت ځينې برخې ترې معلومې نه شي، او بل دا چې دومره نرى به هم نه وي چې جسم ترې ښكاره شي.
۲ـ دښځې جامه به پوره وي يعنې له سر نه تر پښو پورې به يې ټول بدن پټ كړي وي، په يوه روايت كې د مؤمنانو مور حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: « اسماء د ابوبكر لور د نبي صلى الله عليه

۱ (سنن أبى داود - (ج۳ / ص ۴۳۲).
۲ (الأعراف: ۲۶).

وسلم خوا ته ورغله اونرۍ جامې يې اغوستې وې، (هغه) مخ ترې واړا وو او ورته يې وويل: کله چې ښځه بالغه شي، په کار نه ده چې له مخ او لاس پرته يې بل ځاى ښکاره شي»[1]
د سړيو لپاره په جامو کې غوره دا ده چې پرتوګ تر ښنګرو ښخه ښکته نه وي تر څو له تکبر او خيال نه لرې اوسي، عبد الله بن عمر رضي الله عنه وايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ويلي:« چا چې د تکبر له کبله جامې را ښکته کړې، الله تعالى به ورته د قيامت په ورځ ونه ګوري (د رحمت په نظر)».[2]

۳ـ د جامو آغوستل بايد د ښي طرف څخه شروع شي.

۴ـ سړي به د وريښمو کالي نه اغوندي،او ښځو ته څه باک نشته، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« چې زما د امت د ښځو د پاره سره زر او وريښم حلال دي او په سړيو باندې حرام کړل شوي دي»[3]

۵ـ لباس به په ټولنه کې نا آشنا نه وي او نه به په لباس کې دبل چا پېښې کوي، ښځه به د نارينه وو او نارينه د ښځو کالي نه اغوندي ځکه چې: « رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغو سړيو چې ځان د ښځو په څير کوي او پر هغو ښځو چې ځان د سړيو په څير کوي، لعنت ويلى» [4]

۶ـ د نويو جامو د اغوستلو په وخت کې به دا دعا وايي:« **الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى كَسَانِى هَذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّى وَلاَ قُوَّةٍ** ».[5]

يعنې: ټول تعريفونه الله تعالى لره دي چا چې دا جامې را واغوستې او زما دکوښښ او توان پرته يې را نصيب کړې.

۷ـ مستحب دا ده، چې د سپين رنګ لرونکې جامې استعمال شي ځکه نبي کريم صلى الله وسلم د سپينو جامو په اغوستلو امر کړی.

۸ـ مسلمان به په جامو کې اسراف نه کوي او نه به داسې جامې اغوندي چې زړه کې يې تکبر او ځان خوښونه پيدا کړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي: « څوک چې په زړه کې يې د ذرې هومره تکبر هم وي، جنت ته به لاړ نه شي، يو سړي وويل: اى د الله پيغمبره! د يوه سړي دا خوښيږي چې جامې او پايزار يې

---

۱ (رواه ابوداود).
۲ (رواه مسلم).
۳ (ترمذي)
٤ (رواه ابوداود).
٥ (سنن أبى داود - (ج۴ /ص ۷۴).

ښايسته وي(دا هم کبر دی؟)، هغه وفرمايل: بې شکه الله ښايسته دی او ښايست خوښوي، تکبر له حق څخه ځان پورته ګڼل او د خلکو سپک ګڼلو ته وايي».[1]

## د سفر ادبونه

د سفر ستونزو او تکليفونو ته په کتلو سره الله تعالی مسافر ته ځينې اسانتياوې وربخښلي دي، دا اسانتياوې د الله له لوري په مؤمنانو پيرزوينه ده، ځکه نو د مسافر لپاره هم څه ادبونه دي چې په لاندې ډول دي:

۱ـ د مسافر لپاره مستحب دي چې د سفر د روانيدو پر مهال د خپلې کورنۍ څخه وداع (خدای په اماني) واخلي، او کورنۍ به ورته د خير دعا وکړي.

۲ـ له ځان سره به هغه څه اخلي چې له ده سره د ځان په سمبالولوکې همکاري کوي.

۳ـ غصب شوي او امانت شيان به له سفر مخکې بيرته سپاري، که سفر يې اوږد وو، خپله کورنيو او اولادوو ته به د خير وصيت کوي، خپل او د نورو پورونه به ورته وښايي.

۴ـ ښځه به پرته له خپل شرعي محرم څخه سفر نه کوي، تر څو لامل د کومې ستونزې نه شي.

۵ـ ځان سره دې په سفر کې څوک ملګری وګوري چې د سفر يوازېوالی ترې سپک کړي او د اړتيا په وخت کې ورسره مرسته وکړي.

۶ـ کله چې مسافر په سورلۍ کښيني، نو بسم الله دې ووايي او چې کښيناست، درې وارې دې (الله اکبر) ووايي بيا دې لاندې قرآني دعا ولولي: ((...**سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ (١٣) وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ**))[2].

ژباړه: هغه اقدس ذات ته پاکي ده چې مونږ ته دغه (سورلۍ) مسخرې کړې دي (او راته يې ايل کړي دي) حال دا چې زمونږ پرې توان نه ؤ (چې استفاده مو ترې کړې وي).

(۱۴) او يقيناً مونږ خپل رب ته (دقيامت په ورځ)بېرته ورتلونکي يو.

۷ـ د خپل هدف له پوره کيدلو وروسته دې سم د لاسه کور ته وګرځي.

---

۱ (رواه مسلم).
۲ (الزخرف:۱۳ـ ۱۴).

۸ـ غوره دا ده چې د راستنیدو په وخت کې څه خوراکي شیان او ډالی یا دهغه سیمې څه تولید له ځان سره راوړي چې سفر یې ورته کړي وي.
۹ـ غوره دا ده چې په راستنیدو کې دې سفر داسې برابر کړي چې ناوخته کور ته را نه شي.
۱۰ـ کله چې یو څوک د سفر نه بېرته خپل اصلي هستوګنځای ته راشي، نو مستحب دي چې لومړی د خپل کلي او محلې په جومات کې دوه رکعته لمونځ وکړی او تر هغه وروسته خپل کور ته لاړ شي.

## د څلورم څپرکي لنډیز

د څلورم څپرکي د مطالبو لنډیز په لاندې ډول سره دی.

**۱ـ دفرد اړیکه د مسلمان فرد سره**

۱ـ کله چې سره مخامخ شي نو په خپل مسلمان ورور باندې به سلام اچوي.
۲ـ د دعوت (میلمستیا) منل.
۳ـ نېکه مشوره ورکول.
۴ـ عطسې(پرنجي) ته ځواب ورکول.
۵ـ د ناروغ پوښتنه کول.
۶ـ د مسلمان په جنازه کې برخه اخیستل.

**۲ـ د فرد اړیکه د خپلوانو سره**

۱ـ په روا کارونو کې ملاتړ ترې کول.
۲ـ راشه درشه ورسره کول.
۳ـ د ستونزو پر مهال ورسره مرسته کول.
۴ـ خپلوي ورسره نه پرې کول.
۵ـ د نیکو کارونو لارښوونه ورته کول.

**۳ـ دفرد اړیکه د ګاونډیو سره**

۱ـ د اړتیا په وخت کې ورسره راشه درشه کول.
۲ـ د اړتیا د پوره کولو لپاره ورسره پور کول.
۳ـ په نشتوالي کې یې د مال او عزت ساتنه کول.
۴ـ د هغو له ښځو څخه سترګې ښکته کول.
۵ـ نصیحت او لارښوونه ورته کول.

**۴ـ د فرد اړیکه د ټولنې سره**

دفرد اړیکه د ټولنې سره لاندې برخو ته ویشل کیږي.
الف ـ د ټولنې د مسلمانانو وګړو حقوق.
ب ـ د ټولنې د نورو وګړیو حقوق.
ج ـ داسلامي ټولنې څخه مضرات لرې کول.
د ـ د اسلامي ټولنې پرمختګ ته پاملرنه.

## د ټولنې په اصلاح کې د فرد مسؤلیت

هر فرد څخه غوښتنه کیږي، چې د ټولنې د اصلاح لپاره کار وکړي، د خپلې وسې اوتوان په اندازه فساد ترینه لرې کړي.

## ټولنیز ادبونه

### ۱ـ معاشرت ادبونه (په ګډه سره اوسیدل او ژوند تیرول)

سلام اچول سنت او ځواب ورکول یی واجب دی.
۱ـ دسلام اچولو الفاظ باید پوره وي (السلام علیکم و رحمت الله وبرکاته).
۲ـ سلام په جهر سره تر څو خلک یې واوري.
۳ـ پر ماشومانو باندې سلام اچول مستحب دی.
۴ـ که چیرته ځینې خلک ویده وي او ځیني ویښ په داسې طریقه به سلام اچوي، چې یواځې ویښ یې واروي.
۵ـ وروسته له سلام څخه باید لاس ورکول به ورسره کوي او ښه را غلاست اوهر کلی به ورته وایي.

### هغه ځایونه چې سلام پکې نه اچول کیږي

که څوک په لمانځه کولو، د قرآن کریم په تلاوت، په وعظ او یا پر آذان مشغول وي نو غوره خبره ده چې سلام ورته وانه چول شي، او همدارنګه که څوک په قضاء حاجت، یا حمام کې وي او هغه څوک چې په ګناه باندې مشغول وي.

### ۲ـ د خوړلواو څښلو ادبونه

۱ـ د الله پاک په نوم خوارک او څښاک پیل او د الله تعالی په ستاینه باید بس شي.
۲ـ د پاکوالي مراعات شي.
۳ـ هر څوک په ښې لاس له خپلې مخې څخه خوراک کوي.
۴ـ په خوراک او څښاک کې باید اسراف نه وي.
۵ـ په خوراک او څښاک کې باید حلال والی په پام کې ونیول شي.

**۳ـ د جامو اغوستلو ادبونه**

۱ـ د جامو پاکوالي ته پام کول.

۲ـ جامې باید د ستر پټوونکې وي.

۳ـ لباس به نا آشنا نه وي او د ټولنې سره به برابر وي.

۴ـ له اغوستلو څخه مخکې جامې ښځنۍ وهل.

۵ـ د جامو د اغوستلو او د نویو جامو د اغوستلو دعا باید وشي.

**۴ـ د سفر ادبونه**

۱ـ د سفر لپاره له ځانه سره هغه څه اخیستل چې په سفر کې ګټه ترې اخیستل کیږي.

۲ـ امانتونه او غضب شوي شیان خپلو حقدارانو ته سپارل.

۳ـ باید د باوري دوستانو ملګرتوب وشي او یو کس په خپلو مینځونو کې مشر وټاکل شي.

۴ـ له خپلې کورنۍ او ګاونډیانو څخه رخصت باید واخیستل شي او د سفر ځای او د راستنیدو نیټه ورته وښودل شي.

۵ـ د الله په نوم باید په سورلۍ سپور شي. او دعا یې ولوستل شي.

۶ـ کله چې اړتیا پوره شي نو باید ژر خپل کور ته راستون شي.

پوښتنې:

۱ـ د فرد اړیکه د فرد سره ذکر کړئ.

۲ـ د فرد اړیکه د ګاونډیانو، خپلوانو او د ټولنې سره ذکر کړئ.

۳ـ د فرد مسؤلیت په اړه یو آیت شریف ذکر کړئ.

۴ـ د خوراك او څښاك ادبونه په لنډ ډول ذکر کړئ.

۵ـ د سفر ادبونه په لنډ ډول ذکر کړئ.

# پنځم څپرکی
# په اسلامي ټولنه کې د بې لاریو سره مبارزه

**ټولیزه موخه:**
**د بې لاریوپیژندل او مبارزه ورسره کول**

**ښوونیزې موخې**: د دې څپرکي په پای کې به زده کوونکي وکولای شي چې:
- فکري بې لاري څخه به علمانیت (کمونیزم)، استشراق او تنصیر وپیژني.
- اختلاط او مفاسدات به وپیژني.
- فحشاء او لوخوالی به وپیژني.
- دشرابو څښلو حکم وپیژني.
- د موسیقي او نڅا حکم وپیژني.

## فکري بې لارې:

کله چې اروپایې استعمار دې نتیجې ته ورسید چې دوی نه شي کولای مسلمانان د جنګ له لارې د خپل دین نه واړوي. او دوی په دې فکر کې شول چې بله لاره غوره کړي، هغه په دې ډول چې مسلمانان د خپل دین په اړه شکمن کړي او شک ورته پیدا کړي. چې مسلمانان خپل دین ته د شک او تردید په سترګه وګوري نو دوی ډول ډول خلک وروزل چې د اسلام په مبارک دین باندې نیوکې وکړي، یو له هغو څخه داسې کسان وو چې اسلامي علوم زده کړي او بیا پرې نیوکې وکړي، هماغه وو چې دوی اسلامي علوم زده کړل او د اسلام په سپیڅلي دین باندې نیوکې او اعتراضات شروع کړل، د دوی نیوکې یواځې په مسلمانانو باندې نه وې بلکې په قرآن کریم، نبوي احادیثو اسلامي تاریخ او داسې نورو باندې هم وې، غربیانو د اسلامي امت د کمزورتیا لپاره ډېر کارونه کړي چې د هغو له جملې څخه ځینو ته په لاندې ډول سره اشاره کوو:

### ۱ـ کمونیزم

د اسلامي امت د کمزورتیا بل لامل کمونستي حرکت ؤ، نوموړی حرکت په څوارلسمه هجري پېړۍ کې مینځته راغی په کلي ډول د اسلام د سپیڅلي دین سره په ټکر کې ؤ، د نوموړي حرکت موخه

دا وه چې د اسلام مبارک دین نه یوازې دا چې له شوروي اتحاد څخه ختم کړي بلکې له ټولې نړۍ څخه یې ېږغر ورټول کړي.
دغه حرکت په کال ۱۹۱۷ م کې د لینن په مشرۍ په روسیه کې په کار پیل وکړ، چې دا د کمونیزم لومړی حکومت ؤ او وروسته بیا دغه مفکوره اسلامي نړۍ ته هم وغزیده، اسلامي هیوادونو ته د دوی لومړی پلاوی مصر ته د یهودو په مشرۍ د عثماني خلافت له سقوط څخه وروسته لاړ، چې څه موده وروسته په مصر کې کمونستي بیلا بیل ګوندونه را ښکاره شول، لکه د آزداي دیموکراسۍ ګوند چې مشري یې کوریل یهودي کوله، د اسکرار ګوند، ملت پال ګوند، اود مصر کمونستي کوند، د دغو ټولو ګوندو بنسټ ایښودونکي یهود وو.
همدا ډول د کمونیزم افکار له مصر څخه وروسته عراق، سوریه، بنګلادیش، افغانستان، پاکستان، حتی تر دې چې یو شمېر نورو اسلامي هیوادونو ته نقل شول، او په هم دې هیوادونو کې په دین نه ولاړ کمونستي ګوندونه جوړ شول.
دغو کمونستي حرکتونو وکولای شول چې مسلمانان له یوې خوا له استعمار سره په جګړه اخته کړي او له بلې خوا یې په خپلو افکارو په خپلو مینځونو کې په شخړو او مصیبتونو اخته کړل، همدا ډول د کمونستي افکارو په خپریدلو سره نور ډیر مادي او فلسفي نظریات ډګر ته را ووتل چې د مسلمانانو د بربادۍ او هلاکت لامل شول، کمونېزم چې د الله جل جلاله له وجود څخه منکر دي د دوی دعوت په اباحت، آزادۍ د پخوانیو دودونو او عنعناتو په له مینځه وړلو ولاړ دي، په دې کې شک او شبه نشته چې د دغو حرکتونو په وسیله اسلامي امت نه یوازې دا چې کمزوری شو بلکې داسې حالت ته یې ورساوه چې د استعمار د لاس آله شوه، کوم خواته چې هغوی کشوي په هغې خوا روان وي.

## ۲ـ استشراق:

د استشراق کلمه د شرق له کلمې څخه اخیستل شویده اود اروپا د خلکو په نزد د شرق څخه مراد ټولې هغه سیمې دي چې د مدیترانې په لودیدیځ طرف کې موقعیت لری او یا هغه سیمې چې د اروپا وچې ته نه شاملیږي.
او په اصطلاح کې: عبارت دی له هغو څېړنو څخه چې غربیان یې د اسلامي شرق د تقلیدونو، عادتونو، آدابو، دینونو، کلتورنواو تمدن په اړه ترسره کوي.

**مستشرقین(شرق پېژندونکي)**

مستشرقین هغه غربي پوهان دي چې د صلیبیت ناسم کینه او تعصب هغوی ته چمتو کړل چې د شرقي نړۍ عادتونه او علوم زده کړي چې بیا وروسته پر اسلام نیوکې وکړي، او حقایق تحریف کړي.

د اسلامي علماوو د خاموشولو لپاره یې د اسلام او اسلامي مصادر او هر هغه څه چې ورسره اړیکه لري د اړوندو مسایلو په لیکلو پیل وکړ، او دوی له ډول ډول طبقو څخه جوړ شوي دي او دوی ډول ډول موخې درلودې، سره له دې بیا دوی ټولو توافق کړي ؤ چې عمومي موخه به یې د اسلام ختمول او مسلمانان به د خپلې عقیدې نه اړوي.

خو د ایماني ځواک، صبر تقوا، او راسخ عزم ترسره کولای شو د دغو ټولو توطیو او دسیسو په وړاندې ودرېږو او له خاورو سره یې خاورې کړو. لکه الله تعالی فرمایي:((**لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ**)) [1].

ژباړه: ای مسلمانانو! تاسې به د مال او سر دواړو په ازموینه کې واچوال شئ او تاسې به له اهل کتابو او مشرکانو څخه ډېرې ځورونکې خبرې واورئ که تاسې په دې ټولو حالاتو کې د زغم او له الله د ویرې په چلن ثابت اوسئ، نو دا دسترې حوصلې کار دي.

**۳ـ تنصیر**

کله چې کلیسا په دې کې مایوسه پاتې شوه چې د مسلمانانو د جنګ له لارې د خپل دین څخه نه شي اړوي، نو یوه پټه لاره پیداکړه او هغه دا چې په پټه به دا کار کوي چې مسلمانان د خپل دین څخه واړوي نو دوی د تنصیر لار غوره کړه، او د دغې لارې د غوره کولو لپاره یې مختلفې طریقې په لار واچولې لکه ډول ډول روغتونونه، مکتبونه او پوهنتونونه یې جوړول او له دې لارې نه یې خلک نصرانیت ته اړول.

تنصیر عبارت: له هغه بلنې یا دعوت څخه دی چې صلیبیانو د عامو خلکو تر منځ او بیا په ځانګړې توګه د مسلمانانو تر منځ، نصرانیت د هغوی د ادخال په موخه په لاره اچوي او د عوامو دوکه کولو لپاره یې نوم تبشیر ږدی چې په پښتو کې د زېري معنا ورکوي.

---

۱ (آل‌عمران: ۱۸٦).

تنصير خوځښت او بهير د صليبي جنګونو او اشتشراق د استعمار څخه وروسته ښکاره شو، او د خپل ظهور سره سم خپل تعاون او مرسته د مسلمانانو د افکارو او عقايدو تحريف او له مينځه وړلو لپاره د استشراق خوځښت سره اعلان کړل، دا خوځښت د نورو خوځښتونو سره لکه استعمار او استشراق... جوګه او يو د بل لپاره کومکي ګڼل کيږي.

## د تنصير موخې

۱ـ د اسلامي عقيدې او فکر ته خاتمه ورکول او د تثليث عقيده رواجول، مسلمانان د خپل دين په اړه شکمن کول.

۲ـ د قرآن کريم د حقايقو تحريفول او د هغه نه د مسلمانانو لرې ساتل، د حکومت د نظام څخه شرعي قوانين ايستل، او په ځای يې وضعي قوانين رواج کول.

۳ـ نصراني ټولنو ته د اسلام رسېدو مخالفت.

۴ـ په ملتونو تسلط پيدا کول او په غلامۍ کې د اسلامي هيوادونو نيول.

۵ـ د اسلامي هيوادونو د اقتصاد واک په لاس کې نيول، د نر او ښځې ګډ کارکول په اداره کې د استشراق او تنصير تر ټولو لوی موخه ده.

## اخلاقي بې لاري

## په ګډه توګه ژوند تيرول او د هغه مفاسد

دا چې اسلام يو کامل دين دی او د هر چا مسؤليت او د هر وخت او د هر زمان سره موافق او تطبيق وړ دی نو کوم شيان چې په اسلام کې په قطعي ډول سره حرام شوي دي نو د هغه لپاره چې کوم اسباب يا زرائع دي نو هغه هم په اسلامي دين کې حرام دي نو همدارنکه دکوم شی نه چې بد عواقب را پيدا کيږي او د سړی او ښځې تر منځ د فتنې او بې حيايۍ طرف ته ترغيب ورکوي او سبب د فساد او فتنې ګرځي په اسلام کې ورڅخه اجتناب او ځان ساتل لازم دي چې يو له هغو څخه ګډ ژوند تيرول يعنې: په داسې طريقه سره په يو ځای ژوند تيرول چې محرم او غير محرم پکې معلوم نوي او ستر او پرده پکې له سره وجود نه لري نو له داسې خلط او ګډ ژوند څخه اسلامي شريعت په ډېر ټينګار سره منعه والی کړي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:((**وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ**)) [1].

---

۱ (الأحزاب: ۵۳)

ژباړه: او کله چې غواړئ تاسې له دغو (مطهراتو ازواجو) څخه د کوم متاع کار څیز پس غواړئ هغه له دوی نه د باندې د پردې دغه(غوښتل د باندې د پردی) د تاسې ډیر پاک ساتونکی دی د زړونو ستاسی او د (ډیر پاک ساتونکي دی)د زړونه د دوی.

د دې آیت شریف نه مراد دا دی چې د هغه فاسدو خیالاتو څخه هم ځان وساتئ چې کوم د نارینه وو او یاښځنه وو په زړنو کې یو بل ته را پیدا کیږي، یعنې په پرده او ستر کولو کې د شک او تهمت کنجایش هم نه را پیدا کیږي او د ځان ساتنې لپاره ستر او نه ګډ والی یوه ښه زریعه او وسیله ده.

او همدارنګه د خلوت (د نامحرمو ښځو سره تنها یو ځای وخت تیرول) په اړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « **مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَخْلُوَنَّ بِامْرَأَةٍ لَيْسَ مَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ** ». [1]

ژباړه: څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري نو هغه دې ځانله د یو داسې پردئ ښځې سره نه کښیني چې د هغې سره محرم نوي ځکه د دوی دریم ملګری شیطان وي.

د اسلام مبارک دین دا خبره هم حرامه کړیده چې یو سړی د خپلې ښځې نه علاوه بل چاته یعنې: غیر محرمو ښځو ته د شهوت په نظر وګوري او یا ښځه بل پردي سړی ته د شهوت په نظر وګوري ځکه هم دا نظر او کتل دي چې انسانان له شرم بې حیائې او هلاکت سره مخامخ کوي، نو له همدې امله الله تعالی خپلو بنده ګانو ته د نظر د حفاظت او د نظر د ښکته کولو حکم کړي دي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:((**قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ(٣٠) وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ**))[2].

ژباړه: (ای پیغمبره!) نارینه مؤمنانو ته ووایه چې:(دخپل ایمان په قوت) د خپلو سترګو ځینې نظرونه(د محارمو څخه) ټیټ کړي او خپل عورتونه(د لوڅولو او غیر شرعي استعمال څخه) وساتي، دغه کار د دوی د پاره ډېر پاکیزه (او بهتر) دی، یقیناً الله په هغه کارنو باندې خبردار دی کوم چې دوی یې (ښه مهارت سره) کوي.

(٣٠) او (ای پیغمبره!) ښځو مؤمنانو ته ووایه چې: (د خپل ایمان په قوت) د خپلو سترګو ځینې نظرونه (د محارمو څخه) ټیټ کړي او خپل عورتونه دې (د لوڅولو او غیر شرعي استعمال څخه) وساتي.

---

١ (مسند أحمد - (ج٢٣ /ص ١٩).

٢ (النور: ٣٠ــــ ٣١).

## فحشا او لوڅوالی

هر هغه فعل یا قول چې د هغه قُبحه ډېره لویه او شدیده وي د فحشاء په نامه یادیږي.

اسلام یو د ستر او پردی او امن دین دی او خپلو پیروانو ته په حیااو شرم غیرت باندې ټینګار کړی او خپل عزت او آبرو باید د حیا او غیرت په ترڅ کې هر مؤمن نر او هره مؤمنه ښځه خپل اسلامي او ایماني وجیبه وګرځوي خپله کامیابي په حیا او ستر کې درک کړي چې په حیا او ستر کې ورته پیدا کیږي او الله تعالی د انسانانو د نسل او انسانی ټولنې د بقاء لپاره په نارینه او ښځینه کې د غیرت او حیا ماده اچولی ده اوپه صحی او سالمه معاشره کې او عاقلو انسانانو کې غیرت او حیا یو ډول زیور او ګاڼه ده او د انسان او حیوان تر منځ حیا او غیرت شرم ستر پرده توپیر لرونکې ماده ده چې الله تعالی په انسانانو کې موجوده کړې او په حیواناتو کې نه تر سترګو کیږي. نو هر کله چې په انسان کې دا ماده ختمه شي یعنې حیا او غیرت یې له منځه لاړ شي، نو بیا هغه انسان په ډول ډول فسادونو اخته کیږي او په ټولنه کې غیر انساني شخص په سترګه ورته کتل کیږي او په نزد د الله تعالی او رسول الله د لعنت او عذاب مستحق کیږي، ځکه حیا د ایمان د څانګو څخه یوه څانګه ده.

په دې اړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**الْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ**»[1] ژباړه: حیا شرم او غیرت د ایمان یوه څانګه ده. او همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم په بل حدیث کې فرمایلي دي «**الحياءُ من الإيمانُ في الْجَنَّةِ ، والبذَاءُ مِنَ الجفَاءِ ، والَجفَاءُ في النَّارِ**».[2]

ژباړه: شرم کول له ایمان څخه دي اود ایمان خاوندان به په جنت کې وي او بې حیایې له ګناهونو څخه ده او دګناهونو خاوندان به په اور کې وي.

دلوڅوالی په اړه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه داسې روایت شوي دی:

**عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلاَتٌ مَائِلاَتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لاَ يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلاَ يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا».** [3]

---

١ صحیح مسلم - (ج١ /ص٤٦).
٢ (سنن الترمذي - (ج٤ /ص ٣٦٥).
٣ (صحیح مسلم - (ج٦ /ص١٦٨).

ژباړه: حضرت ابوهره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله وسلم وفرمايل: چې په دوزخ کې دوه ډوله خلک داسې دي چې مانه تر اوسه نه دي ليدلي(په موجوده زمانه کې نشته او وروسته به پيدا شي) يو هغه کسان دي چې په لاسونو کې به يې دغوا د لکيو غوندې قمچينې وي او خلک به پرې وهي او ټکوي، بل داسې ښځې دي چې کالي يې اغوستي دي خو (دومره نازک به وي چې بدن به ترې ښکاری، او يا به داسې چسپ وي چې د اندامونو حسن به يې معلوميږي) داسې دي لکه لوڅ، خپله (په دې کارونو سره) نورو ته ميلان کوي او هم سړيان ځانته مايلوي. سرونه يې داسې (جوړ کړي) دي لکه د بختي اوښ کوهان، دوی نه جنت ته داخليږي او نه به د جنت بوی ورباندې ولګيږي، اګر که د جنت بوی تر ډير لری لری رسيږي.

**له حديث شريف څخه لاندې درسونه اخيستل کيږي:**

۱ـ دا حديث يوه معجزه د حضرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم ده د راتلونکي په اړه خبر ورکوي چې دوه ډوله خلک چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې نه و وروسته په مسلمانانو کې به پيدا شي.

۲ـ دا دوه ډلی داسې چې دزوخيان دي، ځکه دغه ښځې د اسلامي ټولنې دفساد لامل ګرځي، او هغه سړيان چې نور په قمچينو وهي د نورو خلکو عزت تويوي.

۳ـ ځوک چې لنډ او نازک کالی اغوندي د حضرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم په وينا بې لباسه دي، سره له دی چې دوی لباس اغوستی دی خو د اسلامي شريعت له نظره لوڅ دي.

## شراب څښل او قمار وهل

الله تعالی په دې اړه داسې فرمايلي دي: ((**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (٩٠) إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ**))[١].

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! بې شکه شراب او قماراو بوتان او د (هو او نه) غشی (د فال، دا څلور واړه ټول) پليت دي، له کار د شيطان څخه دی نو ځان وساتئ تاسې له دې څخه له پاره د دې چې نجات ومومئ تاسې (په دې ځان ساتلو سره).

---

١ (المائدة: ٩٠ـ ٩١)

(۹۱) يقيناً شيطان غواړي چې ستاسو په منځو کې د شرابو او قمار په سبب دښمني او حسد واچوي او (هم) مو د الله د يادولو څخه او د لمانځه څخه واړوي، نو ايا تاسو (د ذکرو شوو مفاسدو سره سره د شرابو او قمار بازۍ څخه) منعه کېدونکي ياست، (بلکې ترې منعه شئ او لاس ترې واخلئ).

## هر نشه راوستونکی شی خمر (شراب) دی:

نبي کريم صلى الله عليه وسلم دې خبرې ته اهميت نه دی ورکړی چې شراب د څه شي نه جوړيږي بلکې، د هغې اثر ته يې اهميت ورکړی دی هم د دې وجې نه کوم شی چې نشه پيدا کوي نو هغه خمر (شراب) دي چې د هر شي نه جوړوي او خلك يې په هر نامه يادوي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د هغو شرابو په باره کې پوښتنه وکړه چې د شهد، جوارو، او وربشو نه جوړشي د هغو څه حکم دی؟ نو حضرت نبي کريم صلى الله عليه وسلم ډير جامعو الفاظو سره د هغې جواب ورکړلو او ورته ويې وفرمايل:« **كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ** ».(۱)

ژباړه: هر نشه راوستونکی شی شراب دي، او هر ډول شراب حرام دي.

نشه راوستونکی شی حرام دی که لږ وی او که ډير وي اسلام قطعي طور سره شراب حرام کړي دي د زياتو او کمو څښلو اندازه يې نه دی کړی په دې اړه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: « **مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ** ».(۲)

ژباړه: هغه شی چې ډير يې نشه کوي نو لږ يې هم حرام دي.

## د شرابو تجارت ناروا دی

له ابن عمر رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل:« **لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ وَشَارِبَهَا وَسَاقِيَهَا وَبَائِعَهَا وَمُبْتَاعَهَا وَعَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ وَآكِلَ ثَمَنِهَا** ».(۳) ژباړه: خدای جل جلاله په شرابو، دشرابو په څښونکي، ورکونکي، خرڅونکي، اخستونکي، جوړونکي، راوړونکي او چا ته يې چې راوړي او د شرابو د پيسو په خوړونکي باندې لعنت وايي.

---

۱ (صحيح مسلم - (ج۶ /ص ۱۰۱).
۲ (سنن أبی داود - (ج۳ / ص۳۶۸).
۳ السنن الكبرى للبيهقي وفي ذيله الجوهر النقي - (ج٦ / ص۱۲).

په پورتنی آیت شریف کې د قمار ذکر هم تیر شو (میسر) قمار ته وایي که هغه په لېو، شطرنج، غمو، تیږو، چارمغزو او یا له دې پرته په بل شی وي، یعنې د خلکو مالونه او یا په نورو شیانو سره وي دا ناروا دی او الله تعالی په دې اړه فرمایلي دي: ((**وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ**...))[1]. یعنې: تاسو یو بل بل مالونه په ناروا باندې مه خورئ.

## موسیقي او نڅا

لکه څرنګه چې سندری او ټنګ ټکور د شیطان د جالونه نه یو لوی جال دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل امت د هغه آلاتو او اسبابو او اقوالو نه منع کړي چې امت پکې شیطان اود هغه ملګری واقع کیږی او د کوم له امله چې انسان د رب العالمین مغضوب بنده ګرځي.

د حضرت ابوهرة رضي الله عنه روایت دی: **عن ابی هریرة ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: استماع الملاهی معصیة والجلوس علیها فسق والتلذذ بها کفر**». [2]

یعنې: د ابوهرة رضی الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې سندری او ټنګ ټکور اوریدل ګناه او کیناستل ورته فسق او بې دینی ده او خوند اخستل ورنه کفر دی.

امام ابوحنیفه رحمت الله علیه همدا حدیث دلیل نیولی دی، د امام ابوحنیفه رحمت الله علیه د مذهب بیان شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله په (**اغاثة اللهفان: ۲۲۸ صفحه**) کې لیکلی دی:

(**مذهب ابی حنیفة فی ذالک اشد المذاهب وقوله فیه اغلظ الاقوال و صرحوا بانه معصیة یوجب الفسق وترد به الشهادة وابلغ من ذلک انهم قالوا ان السماع فسق والتلذذ به کفر**).

یعنې: د موسیقي په اړوند د ټولو نه سخت مذهب د امام ابوحنیفه رحمه الله دی او خبره یې هم تر ټولو سخته ده چې په پوره صراحت سره یې ویلي دي چې موسیقی ګناه ده او سړی پرې داسې فاسق جوړیږي چې بیا یې شهادت نه قبلیږي خو تر ټولو شدیده او سخته خبره یې دا ده چې موسیقی اوریدل فسق او خوند اخستل پرې کفردی.

البته: دلته د کفر نه مراد هر څه وی خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول د سخت زجر نه ډک دی.

او همدارنګه د امام صاحب په نزد د کفر نه مراد شاید د زجر لپاره وي.

---

۱ (البقرة: ۱۸۸) .
۲ (رواه محمد بن اسحاق . نیل الاوطار ۸، ۱۰۰).

همدارنګه د حضرت علی رضی الله عنه روایت دی: **عن علی قال : قال رسول الله – صلی الله علیه وسلم –** «**بُعِثْت بِكَسْرِ الْمَزَامِيرِ** ». [1] یعنې: د حضرت علی رضی الله تعالی عنه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې زه د شپیلئ او ډم توب د سامان د ماتولو لپاره را لیږل شوی یم. همدارنګه اسلام نځا ته هم قائل نه دی او هغو شی ته هم قائل نه دی چې غلط جذبات پیدا کوي او هغه شی ته هم قائل نه دی چې په طبیعت کې زنا ته میلان پیدا کوي. نو هر هغه شی چې د انسان په وجود کې غلط جذبات پیدا کوي ناروا دی، لکه څرنګه چې د اسلام سپڅلی دین د نکاح نه غیر هر ډول جنسي اړیکه حرامه کړی دی او هر هغه عمل یې هم حرام کړی دی چې هغه د ناروا اړیکو دروازه خلاصوي قرآن کریم د زنا د حرمت د پاره داسې معجزانه اسلوب اختیار کړی دی چې په هغه کې همدا راز پټ پروت دی لکه چې فرمایي: ((**وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا**))[2].

ژباړه: او تاسو زنا ته مه ورنژدې کیږئ، یقیناً زنا چې ده ډېره قبیحه (بده) ده، او (همدارنګه زنا) د لارې د حیثه ډېره بده ده (چې د ډېرو فتنو او فسادونو سبب جوړیږي).

یعنې: د اسلام مبارک دین د زنا په منع کولو باندې یې اکتفاء نه ده کړې بلکې دیته نیږدی کیدل منع کړي او امر یې کړی دی چې د هغو حرکاتو څخه خپل ځانونه په څنګ کړئ کوم چې تاسو زنا ته ورنیږدی کوي.

## د پنځم څپرکي لنډيز

دپنځم څپرکي د مطالبو لنډیز په لاندې ډول سره دی.

### فکري بې لارې

کله چې اروپایې استعمار دې نتیجې ته ورسید چې دوی نه شي کولای مسلمانان د جنګ له لارې د خپل دین واړوي. او دوی په دې فکر کې شول چې بله لاره غوره کړي، هغه په دې ډول چې مسلمانان د خپل دین په اړه شکمن کړي او شک ورته پیدا کړي. غربیانو د اسلامي امت د کمزورتیا لپاره ډېر حرکتونه په کار اچولي چې د هغو له جملې څخه کمونستي، استشراق او تنصیر دی. خو مسلمانان د ایماني ځواک، صبر تقوا، او راسخ عزم ترسره کولای شی د دغو ټولو توطیو او دسیسو په وړاندې ودریږي او له خاورو سره یې خاورې کړي.

1 (جامع الأحاديث - (ج31 /ص 123).
2 (الإسراء: 32).

## اخلاقي بې لارې

داسلام مبارک یو بشپړ دین دی هر حکم یې د هر وخت او زمان سره موافق او د تطبق وړ دی، نو هر هغه شي چې په اسلام کې په قطعي ډول سره حرام شوي دي نو د هغه لپاره چې وسایل او اسباب دی نو هغه هم حرام دي نو همدارنګه دکوم شی نه چې بد عواقب را پیدا کیږي او د سړیو او ښځو تر منځ د فتنې او بې حیایی طرف ته ترغیب ورکوي او سبب د فساد او فتنې ګرځي په اسلام کې ورځنې اجتناب او ځان ساتل لازم شوي چې یو له هغو څخه ګډ ژوند تیرول او یعنې: په داسې طریقه سره په یو ځای ژوند تیرول چې محرم او غیر محرم پکې معلوم نوي او ستر او پرده پکې له سره وجود نه لري نو له داسې خلط او ګډ ژوند څخه اسلامي شریعت په ډیر ټینګار سره منعه والی کړي، همدارنګه د فحشا او لوڅوالی هم یو ناروا عمل دی او د اسلام مبارک دین داسې عملونه غندي، او خپلو پیروانو ته اجازه نه ورکوي چې داسې عملونه ترسره کړي. همدارنګه شراب څښل او قمار وهل هم ناروا کار او عمل دی، او د اسلام مبارک دین دا په ډاګه کړی ده چې هر هغه شی چې نشته راولی هغه خمر (شراب) او هر شراب حرام ، نو همدارنګه نورې نېشې چې د هر شي وي حرام دي همدارنګه د حرامو شیانو تجارت هم حرام دی، د قمار په واسطه لاسته راوړی مال هم حرام دی.

موسیقي او نڅا یو ناروا عمل دی او باید مؤمن مسلمان د داسې ناروا عملونه مخه ونیسي ځکه د نورو ډیرو فتنو او فسادونه سبب کیږي.

پوښتنې:

۱ـ د کمونستي بهیر په اړه خپل معلومات ذکر کړئ.

۲ـ د استشراق په اړه خپل معلومات ذکر کړئ.

۳ـ د تنصیر په اړه خپل معلومات ذکر کړئ.

۴ـ د فکري بې لاریو د مخنیوي په اړه باید څه وکړل شي.

۵ـ د اخلاقي بې لاریو له جلمې څخه د شرابو او قمار په اړه یو آیت شریف ذکر کړئ.

۶ـ د موسیقی په اړه د امام اوبوحنیفه رحمه الله نظر ذکر کړی.

پای

نصرت الله (رحیمي)

۱۳۹۲/۱۱/۲۶

# مأخذونه


۱ـ قرآن کریم.

۲ـ بخاری، محمد إسماعیل أبو عبدالله ، کال ۱۴۰۷ هـ ق، **صحیح البخاري**، طبعه، دار ابن کثیر ، الیمامة ـ بیروت.

۳ـ مسلم، ابن الحسین بن الحجاج، **صحیح المسلم**، طبعه، دار الجیل دار الأفاق الجدیدة. بیروت، د چاپ کال نه لري.

۴ـ ترمذي، امام محمدبن عیسی أبو عیسی الترمذي السلمي، **الجامع الصحیح سنن الترمذي**، طبعه، دار إحیاء التراث العربي – بیروت.

۵ـ ابن حبان، محمد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التمیمي البستي، کال ١٤١٤ هـ ق، **صحیح ابن حبان** بترتیب ابن بلبان، طبعه، مؤسسة الرسالة - بیروت.

۶ـ ابو داود، سلیمان بن اشعت، **سنن أبي داود** طبیعه، دار الکتاب العربي ـ بیروت د چاپ کال نه لري.

۷ـ أبو عبدالله القزویني، محمد بن یزید ، **سنن ابن ماجه**، الناشر : دار الفکر - بیروت د چاپ کال نه لري.

۸ ـ الخاطیب العمري، امام ولی الدین محمدبن عبدالله رحمه الله، **مشکوة المصابیح**، طبعه، المکتبةالحقانیه پشاور.

۹ـ الطبراني، ابو بکر جابر، کال ۱۴۱۰ هـ ق ، **منهاج المسلم**. طبعه دار الشروق للنشر والتوزیع والطباعة – جده السعودیه.

۱۰ـ ابن حنبل، أحمد بن حنبل أبو عبدالله الشیباني ، **مسند الإمام أحمد بن حنبل** ، طبعه، مؤسسة قرطبة - القاهرة ، د چاپ کال نه لري.

**۱۱ـ** البیهقي، أبو بکر أحمد بن الحسین،کال۱۴۱۰هـ ق, **شعب الإیمان – البیهقي**,**طبعه**، **دار** الکتب العلمیة – بیروت لومړی چاپ.

۱۲ـ أبو محمد المصري عبد الله بن وهب بن مسلم القرشي کال، ۱۹۹٦ م **الجامع في الحدیث**الناشر دار ابن الجوزي، مکان النشر السعودیة.

۱۳ـ د افغانستان د جيدو علماء د هيئت پښتو ژباړه، **کابلی تفسير**، چاپ،خانه د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد د قرآن کريم د طباعت لپاره.
۱۴ـ عزيز، مولوي سلطان عزيز، کال ۱۳۹۱ هـ ش، **عزيز التفاسير**،ناشر: دارالکنوز العلمية پاکستان.
۱۵ـ شفيع، مولانا مفتی محمدشفيع، کال، ۱۴۳۲ هـ ق، **معارف القرآن**، ژباړونکې، مفتی مجيب الرحمن، طبعه، مکتبة الرشيديه، پاکستان.
۱۶ـ المرغيناني، شيخ الاسلام الامام برهان الدين، کال ۱۴۱۷ هـ ق، **هدايه شرح البدايه المبتدي**، طبعه، ادارة القران والعلوم اسلاميه، پاکستان .
۱۷ـ زيدان، عبدالکريم، کال ۱۳۸۶ هـ ش، **د دعوت اصول**، ژباړونکی ، عبد الحکيم امل،چاپ د ميوند خپرندويه ټولنه، کابل افغانستان.
۱۸ ـ عزيزي، شېرزاد، کال، ۱۳۸۹ هـ ش، **فقه الاسرة**، د چاپ ځای نه لري.
۱۹ –وهبة، الزحيلي کال ۱۴۰۵، **الفقه الاسلامي وادلته**، طبعه دار الفکر.
۲۰ –قرضاوی: الدکتور يوسف، **حلال او حرام په اسلام کې** ژباړونکی، روح الله قوام ، نيو کابل کتاب پلورنځی، پېښاور.
۲۱ـ ذهبی: شمس الدين محمد بن عثمان،کال، ۲۰۰۸ م، **کتاب الکبائر** ژباړونکی،مولوي نور الله وفا،طبعه، مکتبه فاروقيه پشاور.
۲۲ـ مودودي، سيد ابو الاعلی، کال، ۱۳۸۸ هـ . ش، **داسلامي نظام فکري بنسټونه**،ژباړونکی، محمد شريف رحماني، چاپ د جمعيت اصلاح د خپرونو څانګه.
۱۹ـ مصطفی، محمد طحان، کال، ۱۳۹۰ هـ ش، **د ژوند لپاره اسلامي لار ښونې**، ژباړونکی، دکتور رحمت الله زاهد چاپ، د جمعيت اصلاح د خپرونو څانګه.
۳۲ـ ابوزکريا، يحيی بن شرف النوي الدمشقی، **رياض الصالحين**، ژباړنکی، وحيد الله حقانی، چاپ وحيد کتب خانه، پاکستان، د چاپ کال نه لري.
۲۴ـ ابوهلال، محمد امين الله، کال، ۱۴۲۸هـ، ق **موسيقي د شريعت په رڼا کې**، چاپ مکتبة محمديه پشاور.
۲۵ـ ندوی، مولانا مجيب الرحمن، **اسلامي فقه**، ژباړونکی، مولانا سيد اکرم،چاپ تاج کتب خانه پېښور.
۲۶ـ مولانا، عبدالحق، کال ۱۴۳۱ هـ ، ق، **فتاوی حقانيه**، ژباړونکی، محمد فاروق، چاپ جديد کتب خانه پاکستان.

**۲۷ـ** د پوهنې وزارت درسي کتابونه **اسلامي ښوونه او روزنه** ، د چاپ کال، ۱۳۹۰.
**۲۸ـ** یحیی، محمد الیاس، کال ۱۳۹۱ هـ ،ش، **فکري جنګ**، ژباړونکی، محمد کریم ادیب، چاپ مسلم خپرندویه ټولنه جلال آباد.
**۲۹ـ** نیازی، مصطفی، کال ۱۳۹۱ هـ ،ش **د اسلامي امت د کمزورتیا لاملونه** ، چاپ مکتبة القران پېښور.